بسم الله الرحمن الرحيم

# کتاب پېژندنه

**د کتاب نوم:** د حقوق مبادي
**څانګه:** اداره او منجمنت، بانکداری، محاسبه او د تجارت اقتصاد
**تدوين کوونکی:** عبدالحی ناصري
**ژباړن:** محمد اشرف وحدت

**د څار کمېټه:**

- محمد آصف ننګ د تخنيکي او مسلکي زده کړو معين
- ديپلوم انجنير عبدالله کوزايي د تعليمي نصاب رييس
- محمد اشرف وحدت په تعليمي نصاب کې د معينيت د مقام سلاکار

**د تصحيح کمېټه:**

- خادم احمد حقيقی
- عبدالجميل ممتاز

**د ګرافيک او ډيزاين څانګې مسئول : محمد جان عليرضايی**


**ګرافيک او ډيزاين:** علی مومنی
**چاپ کال:** ۱۳۹۲ لمريز کال
**تيراژ:** ۶۰۰۰ ټوکه
**چاپ ځل:** لومړی
**وېب پاڼه:** www.dmtvet.gov.af
**برېښناليک:** info@dmtvet.gov.af
**د ISBN کوډ:** ISBN 978 [illegible] 936 [illegible] 00 [illegible] 12



د چاپ حق  د تخنيکي او مسلکي زده کړو له معينيت سره خوندي دی


Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ملي سرود

دا وطن افغانستان دی — دا عزت د هر افغان دی

کور د سولې کور د تورې — هر بچی يې قهرمان دی

دا وطن د ټولو کور دی — د بلوڅو د ازبکو

د پښتون او هزاره وو — د ترکمنو د تاجکو

ور سره عرب، ګوجر دي — پاميريان، نورستانيان

براهوي دي، قزلباش دي — هم ايماق، هم پشه يان

دا هيواد به تل ځليږي — لکه لمر پر شنه آسمان

په سينه کې د آسيا به — لکه زړه وي جاويدان

نوم د حق مو دی رهبر — وايو الله اکبر وايو الله اکبر

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د پوهنې وزارت پیغام

**ګرانو زده کوونکو، محصلانو او درنو ښوونکو!**

د یوې ټولنې وده او پرمختګ کاملاً د همغې ټولنې د پیاوړو کاري کادرونو، بشري قوې او ماهرو فکرونو په کار او زیار پورې تړلې دي. همدا بشري قوه او کاري متې دي چې د هیواد انکشافي اهدافو ته د رسېدو لارې چارې طی کوي او د یوه نېکمرغه، مرفه او ودان افغانستان راتلونکی تضمینوي.

انســان په خپل وار سره د الله تعالی له جانبه او هم د خپل انســاني فطرت له اړخه مؤظف او مکلف دی چې د ځمکې په عمران او د یوه ســوکاله ژوند د اســبابو او ایجاباتو د تکمیل لپاره خپل اغېزمن نقش، همدارنګه ملي او اسلامي رسالت ادا کړي.

لــه همدې ځایه ده چې د یوه ژوندي او فعال انســان نقــش، د خپل ژوند د چاپېریال او خپلې اړوندې ټولنې په اړه، تل مطلوب او په هېڅ حالت کې نه نفی کېږي او نه هم منقطع کېږي.

په ټول کې د پوهنې نظام او په خاصه توګه د تخنیکي او مسلکي زده کړو معینت مسوولیت او مکلفیت لري چې د اســلامي ارزښــتونو، احکامو او همداراز معقولو او مشروعو قوانینو ته په ژمنتیا سره، د افغانســتان په انکشاف کې فعاله، چابکه او موثره ونډه واخلي، ځکه دغه ســتر او ســپېڅلي هدف ته د رســېدو په خاطر د انساني ظرفیت وده، د حرفوي، مسلکي او تخنیکي کادرونو روزنه او پراختیا یو اړین مقصد دی. همدا په تخنیکي او مسلکي زده کړو مزین تنکي ځوانان کولی شي چې په خپلې حرفې او هنر سره په سیستماتیک ډول د هیواد انکشاف محقق او میسر کړي.

جوته ده چې په افغانستان کې د ژوند تګ لاره، دولتداري او ټولنیز نظام د اسلام له سپېڅلو احکامو څخه الهام اخیســتی؛ نو لازمه ده چې زموږ د ټولنې لپاره هر ډول پرمختګ او ترقي باید په علمي معیارونو داســې اســاس او بنا شي؛ چې زموږ د کارګر نســل مادي او معنوي ودې ته پکې لومړیتوب ورکړ شي. د حرفوي ظرفیت جوړونې تر څنګ د ځوانانو سالم تربیت او په سوچه اسلامي روحیې د هغوی پالنه نه یواځې پخپل ذات کې یوه اساسي وجیبه ده، بلکې دا پالنه کولی شي چې زموږ وطن پخپلو پښو ودروي، له ضعف څخه یې وژغوري او د نورو له سیاسي او اقتصادي احتیاج څخه یې آزاد کړي.

زموږ ګران زده کوونکي، محصلان، درانه اســتادان او مربیون باید په بشــپړه توګه پوه شي، چې د ودان او نېکمرغه افغانستان ارمان، یواځې او یواځې د دوی په پیاوړو متو، ویښ احساس او نه ستړي کېدونکي جد او جهد کې نغښتی او د همدغو مسلکي او تخنیکي زده کړو له امله کېدای شي په ډېرو برخو کې د افغانستان انکشافي اهداف تر لاسه شي.

د دې نصــاب له ټولو لیکوالانو، مولفینو، ژباړونکو، ســموونکو او تدقیق کوونکو څخه د امتنان تر څنګ، په دې بهیــر کــې د ټولو کورنیو او بهرنیو همکارانو له مؤثرې ونډې او مرســتو څخه د زړه له کومې مننه کوم. له درنو او پیــاوړو اســتادانو څخه رجامندانه هیله کوم چې د دې نصــاب په ګټور تدریس او فعاله تدریب سره دې د زړه په ټول خلوص، صمیمي هڅو او وجداني پیکار خپل ملي او اسلامي نقش ادا کړي.

د نېکمرغه، مرفه، پرمختللي او وياړمن افغانستان په هیله

**فاروق وردګ**

د افغانستان د اسلامي جمهوریت د پوهنې وزیر

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لړلیک


| پاڼې | سرليکونه | څپرکي |
| --- | --- | --- |
| ۱ | د حقوق په اړه عمومي معلومات | لومړی |
| ۱۳ | آفاقي حقوق Objective Law | دويم |
| ۲۱ | په حقوقي قواعدو کې منابع او مصادر | درېيم |
| ۳۹ | د حقوقو تصنيف يا تقسيمات | څلورم |
| ۵۳ | عندي حقوق يا Subjective law | پنځم |
| ۷۲ | | سرچينې او اخيستنې |

(c) ketabton.com: The Digital Library

مقدمه

مخکې له دې چې د حقوقو د مبادي مضمون په تدريس پيل وکړو بې له شکه چې هر يو زموږ او ستاسو په خپلو ورځنيو چارو او اجتماعي ژوندانه کې له يو لړ حقوقو سره سراوکار لرو، ځکه هر يو له موږ څخه پرته له دې چې متوجه واوسو، يو لړ حقوقي اعمال تر سره کوو.

د بيلګې په توګه کله چې په موټر کې سپريږو يا ټکسي نيسو او له هوايي شرکتونو څخه ټکټ ترلاسه کوو، په حقيقت کې له مقابل لوري سره داسې قرارداد تړو، چې په اساس يې د ثابتو حقوقي قواعدو له مخې د خپلو ورځنيو چارو د تنظيم لپاره د حقوقو او وجايبو لړۍ پيلوو.

دا چارې له هغو ټولنيزو واقعيتونو څخه سرچينه اخلی، چې پيژندګلوۍ ته يې اړتيا نشته او له امله يې داسې مقولې او وجيزې را پيدا شوې دي چې.

- انسان اجتماعي حيوان دی.

- ټولنه د نظم او دسپلين غوښتونکې ده.

نو د دغې مقولې په اساس سره ښتيا ده چې وايي: چيرته چې ټولنه ده حقوق هم شته.

له بله طرفه انسان طبيعتاً داسې آرزوګانې او اړتياوې لري، چې د تمدن له پراختيا او پرمختګ سره سمې زياتيږي، څرنګه چې بشر يواجتماعي مخلوق دی او له اجتماع پرته يې ژوند سخت او يا هم ناممکن دی، نو بايد له يو بل سره ګډ ژوند او معاشرت ولري او په خپلو کې روابط ټينګ کړي.

خو داچې په زياتره حالاتو کې د بنيادمانو هيلې او اړتياوې سره ورته نه دي، نو له دې امله ده، چې په بشري ټولنو کې چارې په ټکر کې واقع کيږي او په دې توګه د شخړو او اختلافاتو لامل ګرځي.

کله چې پاسنی قضيې او نکتې له يوې او بلې سره څنګ په څنګ کړو او د استدلال لورته ولاړ شو، نو دې نتيجې ته رسيږو چې:

د انسان هستي او موجوديت له يوه لوري او د ګډ ژوندانه حس له بل لوري، د ټولنې د تشکيل او رامنځ ته کيدو غوښتنه کوي، چې دغه تشکيل، د نظم او دسپلين غوښتونکی دی او د نظم رامنځ ته کول د يو لړ داسې لارښوونو او دساتيرو د جوړولو غوښتنه کوي، چې له مخې يې د ټولنې ټول غړي له يو بل سره ګډ ژوند وکړي او د ټولو بقاء پکې خوندي شي.

مګر دا کار هغه وخت کيدلی شي، چې د نورو حقوقو ته په پام سره د ټولنې د وګړو پوهه او د هغوعملي اثرات فعال شوي وي او له قواعدو او مقرراتو څخه اطاعت وکړي.

په همدې ډول په دې باندې پوه شي، چې کوم عمل مجاز او کوم عمل غير مجاز، کوم عمل د جزاء او کوم يو د مؤيدې سبب ګرځي.

له هغې پرته ټولنه په خپله ګډ وډه کيږي او اجتماعي نظم پکې له منځه ځي او پر ځای يې بې نظمي او ګډوډي پر ټولنه واکمنه کيږي. دغو خبرو ته په پام سره، چې تر اوسه مو وکړې ويلای شو، هرځای چې انسان دی حقوق هم شته، يعنې انساني ټولنه او حقوق له يو بل سره دومره کلکه اړيکه لري، چې يوه يې له بلې پرته مفهوم نشي درلودلای. ګواکي دغه دواړه اصول په حقيقت کې د يوې سکې دوه مخونه دي لکه چې يو امتياز او دنده يا حق او وجيبه د سکې دوه مخونه دي.

نو د اجتماع موجوديت او د داسې قواعدو لزوميت، چې په ټولنه کې نظم رامنځ ته کړي، د داسې

(c) ketabton.com: The Digital Library

قواعدو د رامنځ ته کولو غوښتنه کوي، چې په یوه ټولنه کې بشري سلوک رهنمایی کړي، په دې اساس ویلای شو چې په هره ټولنه کې یو لړ قواعد وجود لري، چې د حقوقي قواعدو په نامه یادیږي او موخه یې د ټولنیز ژوندانه تنظیم او بهبود دی.

له همدې ځایه د حقوقو د کلمې مفهوم ته رسیږو، چې د آفاقي حقوقو بڼه لري، دغه قواعد د دولت له لوري وضع کیږي او په ټولو افرادو باندې په یوه بڼه تطبیقیږي.

حقوق له ټولو هغو مقرراتو څخه عبارت دي، چې په معین وخت کې په ټولنه باندې واکمني کوي، تاریخ د دې ښودنه کوي، چې انسان تل په دا ډول الزاماتو کې راګیر دی، له همدې امله پوښتنه چې مخې ته راځي داده، چې هغه کوم لامل دی، چې د حقوقو د منځ ته راتګ سبب ګرځي؟

د دې پوښتنې ځواب باید د انسان په طبیعي اړتیاوو او له مادي نړۍ سره د هغه په اړیکو کې وپلټل شي. انسان اجتماعي موجود دی، چې د خپلو هم شکلو په منځ کې باید ژوند وکړي. انسان اجتماعي ژوند، د مور او پلار په طبیعي اجتماع کې پیلوي او د دغې وړې ډلې د څارنې او عواطفو په سیوري کې خپل مادي او معنوي اړتیاوې پوره کوي، خو د یو څه وخت په تیریدو سره ماشوم له نورو سره باید و اوسي او د هغوی په مرسته او همکارۍ سره خپلې غوښتنې او اړتیاوې پوره کاندي.

له مادي پلوه انسان یو ناتوانه موجود دی، چې په یوازې سر نشي کولی د طبیعت او ژوندانه له ستونزو سره مقابله وکړي، ټول باید یو له بل سره مرسته وکړي او هر یو د دغه دروند پیټي یوې برخې ته اوږه ورکړي، څو د دوی ټولو له قوت څخه یو قوي ځواک جوړ شي او په طبیعت باندې په برلاسۍ سره چاپیریال د اوسیدو لپاره آماده کړي.

له معنوي پلوه انسان مینې او محبت ته اړ دی او په ټولو حالاتو کې له نورو سره مینې او معاشرت ته ځان اړ بولي، غواړي دوست ولري او نور یې هم دوست وګڼي، همدغه اړتیا د دې لامل کیږي، څو هغه د اجتماع طرف ته وهڅوي. نو باید ومنو چې یوازې فرد نه دی، چې خارجي او واقعي وجود لري، اجتماع او ټولنه هم اصلي موجود دی، تر کومه چې له تاریخ څخه څرګندیږي، بنیادمان مدام ګډ اوسیدلي دي او په دې توګه ټولنه او وګړي سره لازم او ملزوم دي.

له بله پلوه په فطري توګه د انسانانو غوښتنې له یو بل سره زیات ورته والی لري، هریو دا غواړي چې له نورو سره په اړیکو کې لږ زیان ووینې او ډیره ګټه وکړي، هر یو د لازیات راحت او قدرت هیله لري، نو طبیعي ده، چې د ډیرو ګټو د تر لاسه کولو او ښه ژوندانه د برابرولو لپاره به شخړې او دښمنۍ رامنځ ته کیږي.

عاقل انسان د ځان پیژندنې له هماغه لومړۍ شیبې په دې پوه شوی، چې ټولنه د بې نظمیو او زوروالکیو په شتون کې دوام نشي پیدا کولی، او باید داسې قواعد وجود ولري چې د اشخاصو په اړیکو له دې کبله چې د جامعې غړی دی، حکومت وکړي چې دا ډول قواعد نن د حقوقو په نامه سره یادوو.

باید وویل شي چې د حقوقي قواعدو ترڅنګ یو لړ نور قواعد هم شتون لري، چې ټولنیز ژوند تنظیموي، چې یو شمیر یې له اخلاقو، دین او مذهب او کله هم له اجتماعي عرف او معاملاتو څخه سرچینه اخلي.

د دې لپاره چې د نورو اجتماعي ارزښتونو اوعلومو له بیلابیلو څانګو سره د حقوقي دساتیرو رابطه وڅیړو. نو دغه چاره د زیات وضاحت غوښتنه کوي، خو مخکې له دې باید وویل شي، چې د حقوقو کلمه

(c) ketabton.com: The Digital Library

له هغو جهان شموله مفاهیمو څخه ده، چې ټول اجتماعي ارزښتونه په ځان کې را نغاړي او تر یوې اندازې پورې ټول ورسره آشنا یو او په خپلو ورځنیو چارو کې ترې استفاده کوو.

پردې بنسټ ویلی شو چې د حقوقو د بنسټونو، زده کړه او په هغو باندې ځان پوهول د حقوقو د ټولو څانګو لپاره یوه مقدمه بلل کیږي او د حقوقو د بیلابیلو څانګو د زده کړې لپاره د محصلینو ذهنونه آماده کوي.

باید ووایو، چې د نورو علومو په څیر حقوق هم د ځانګړو عملي او دقیقو اصطلاحاتو درلودونکي دي، چې له همدې کبله پر دغو اصطلاحاتو د پوهیدلو لپاره د حقوقو د مبادی ؤ مطالعه ضروري ده.

دغه راز د ټولو هغو کسانو لپاره چې په ټولنه کې ژوند کوي له حقوقو سره بلدیا لازمه ده، دغه علم هغوی له هغو ټولو احتمالي زیانونو څخه خبروي، چې له نورو سره د اړیکو د پیداکولو په ترڅ کې رامنځ ته کیږي.

هغه کسان چې لوړې زده کړې لري او په ټولنه کې مهم مسؤلیتونه ور په غاړې دي، د حقوقو زده کړې ته لازیاته اړتیا لري او د حقوقو د مبادي ؤ په مرسته کولای شي، د خپل شغل اړوندې لازمې حقوقي څانګې پیدا کړي او په دغو برخوکې په خپل علمي تقویت کار وکړي او خپلې دندې له قوانینو سره نژدې کړي.

د هغو چا لپاره چې د اجتماعې علومو لکه اقتصاد او سیاسي علومو ساحې ته ور داخلیږي او په دغو برخو کې تخصص پیدا کوي، د حقوقي قواعدو زده کړه خورا زیات اهمیت لري.

زیاتره وخت د دا ډول څانګو واحدونه د متناسبو حقوقي مباحثو له امله رامنځ ته کیږي، چې په همدې خاطر د حقوقو د مبادی وو زده کړې کیدلای شي زده کوونکو ته ګټې فایدې ولري او هغوی په یوه وخت کې د اصولو له مباحثو او حقوقي مسایلو سره آشنا کړي.

په ټولنه کې ننې ژوند پخوانی حالت له لاسه ورکړی، اجتماعي اړیکو هم د کمیت او هم د کیفیت له پلوه تغیر موندلی، هغه پرمختګونه چې نن د بشریت په نصیب شوي دي، د دې باعث ګرځیدلي چې اړتیاوې یې زیاتې شي، په داسې ډول چې اوسمهال د ساده او ژوندانه معیارونه نور د قبول وړ نه دي.

ننی صنعتي ټولنې د پوهې او تخصص په بناء جوړې شوې ، او متخصصینو د هرې برخې واګې په لاس کې اخیستې دي، محاسبات د الکترونیکي ماشینونو او کمپیوټر په وسیله د افرادو له قلمرو څخه ایستل شوي دي، دغو حالاتو د حقوقو په علم هم ژور تاثیرات اچولي دي، په داسې ډول چې یو زیات شمیر حقوقي قواعدو خپل وجودي ضرورت له لاسه ورکړی دی او د نویو قواعدو د وړاندې کولو اړتیا محسوسه شوې ده، ځکه حقوق باید د ټولنو ورځنیو اړتیاوو ته ځواب ووایي.

د پخوانیو زمانو ساده حقوقي قواعد نشي کولای د نن ورځې د پیچلو او مغلقو مسایلو لکه نړیوالو سوداګریزو اړیکو لپاره کفایت وکړي، د کارګر او کارګومارونکي اړیکې نور نو د پخوانیو خصوصي حقوقو متابعت نشی کولای، د طرفینو د ارادې د حاکمیت پر اصل نور نو حساب نشي کیدلی او د یو شمیر زیاتو علومو زده کړه لازمه نه بلل کیږي.

په ټولنه کې د حقوقي قواعدو او اصولو زده کړې ته د افرادو اړتیا تر پخوا اوس زیاته محسوسیږي؛ ځکه هر څومره چې اجتماعي اړیکې پراخیږي په هماغه اندازه حقوقي قواعد، دقت او پراختیا ته اړتیا لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بنیادم  که له یوې خوا د بیلابیلو غوښتنو او تمایلاتو په درلودلو سره د مطلوب کمال په لور د کوښښ او حرکت په حال کې دی او د همدغو ځانګړو غوښتنو او تمایلاتو په وجه له نورو افرادو جدا کیږي، له بلې خوا یې له اجتماع او ټولنې سره رابطه او پیوستون دومره زیات دی، چې ته به وایې له اجتماع څخه هیڅ د جلا کیدو نه دی.

د انساني ژوندانه دغه دوه ګونی حقیقت، د اجتماعي نظام د ګټو حفاظت، اجتماعي عدالت او د نورو استقلالیت له یوه لوري، د فردي اړتیاوو پوره کول، او د غوره ژوندانه لپاره د منافعو، د جلب او په نورو باندې د سبقت دحرص له بل لوري دغه ستونزه داسې پیچلې کړې ده، چې د سازش او برابرۍ لپاره یې باید په احتیاط او دقت سره ګام واخیستل شي، چې زما په نظر دغه رسالت د حقوقو پر غاړه دی.

حقوقي قواعد او اصول د فرد او ټولنې ګټې تنظیموي او هر یوه ته په خپل حد کې د اوسیدو حکم او سپارښتنه کوي.

تاریخي څیړنې او تحقیقات ښیي، چې حقوق د دولت پر تأسیس  مقدم و، او د اجتماع له پیدایښت سره یو ځای رامنځ ته شوي دي او هرې ټولنې ته لازمه ده چې په عدالت او انصاف تکیه وکړي.

دې ته باید پام وکړو چې د حقوقو علم یوازې د قانون تفسیر نه دی، ځکه زیاتره قوانین شته، چې د حقوقي قواعدو په عنوان نه ارزي، د حقوقو عالم باید د ناسمو قوانینو د سمون او اصلاح لاره په نښه کړي، حقوق، په اجتماع کې د ژوندانه د قواعدو پر بنسټ د اوسیدلو او د اجتماع له ادارې څخه عبارت دي.

د حقوقی اصولو په پراختیا سره باید د اجتماع په ټولو برخو کې موجود تبعیضونه له منځه یوړل شي، د تبعیض له منځ وړل یوازې دا نه دي چې تفاوتونه له منځه یوسو، بلکې په مساوي شرایطو کې باید افرادو ته امتیاز قایل نه شو او نه هم یو شمیر وګړی په استثنایي ډول په محرومیت کې وساتل شي، له حقوقي موازینو سره سم باید د ټولو وګړو لپاره مناسب فرصتونه رامنځ ته شي او د نوښت او خلاقیت لپاره یې وړتیاوو او استعدادونو ته وده ورکړای شي.

ټول وګړي په ټولو ټولنو کې او د خپل ژوند په ټولو کلونو کې له حقوقو سره تړاو لري، د انسانانو ټول کړه وړه د حقوقو تر کنټرول او څارنې لاندې دي، د ټولنو نظم او د حقوقي اشخاصو موجودیت او استمرار د حقوقو په موجودیت کې دی، هر ځای چې انسانان وجود لري حقوق  هم شته، په دنیا کې داسې هیڅ ځای نشته چې هلته حقوقي قواعد نه وي، ډیری خلک سره له دې چې هره ورځ لسګونه حقوقي اعمال ترسره کوي او په هغو کې موازین مراعاتوي مګر بیا هم له حقوقو څخه معلومات نه لري، اندیښنې هغه وخت لا پسې زیاتېږي، چې وګړي د درنو مسؤلیتونو له درلودلو سره سره له حقوقي مبادي ؤ څخه بې خبره وي چې اکثر وخت د همدغه دلیل له امله ټولنې ته نه جبرانیدونکي زیانونه ور اړوي.

په دغه کتاب کې د حقوقو په اړه د تاریخ په اوږدو کې د علماؤ، پوهانو او لیکوالانو نظریات مطالعه کوو، د مکتبونو هغو افکارو او عقایدو ته لنډه کتنه کوو، چې په دې برخه کې یې څرګند کړی دی او دغه راز د مذهبي، اخلاقي، فلسفي، تاریخي او اجتماعي تفکراتو په غیږه کې حقوقي قواعد معرفي کوو.

پر حقوقو باندې تسلط کولی شي داسې افراد رامنځ ته کړي، چې په قوي تفکر او پوره انضباط سره وخت په خپل لاس کې واخلي، له بېځایو کړنو ډه ډه وکړی او موخو ته د رسیدو لپاره له لنډو لارو ځان ورسوي او له خپل توان او طاقت څخه زیاته ګټه پورته کړي.

ټولنې ته لکه څرنګه چې ده، وګوري، د نورو حقوق رعایت کړي او په خپلو حقوقو باندې نورو ته د

(c) ketabton.com: The Digital Library

تیري او تجاوز اجازه ورنه کړي. حقوقو ته د افرادو لارموندنه په ټولنه کې له عدالت سره جوخت د امنیت او استقرار باعث ګرځي، ټولنه د تعادل په حالت کې ساتي او د ټولنې ټولو وګړو ته مطلوب، آرام او سوکاله ژوند برابروي، ځکه حقوق د انسان پر فطرت او طبیعت متکي دی، د دیني او مذهبي احکامو په تعالیمو کې ریښه لري، د عدالت او انصاف له موازینو سره برابر دی او د هغو حدودو او مرزونو ساتونکي دي چې فضیلتونه، انساني کرامتونه او خپلواکۍ لا پیاوړې کوي.

د دغې مقدمې په مطالعې سره دې نتیجې ته رسیږو چې د حقوقو په اړه مالومات یو ضروري امر بلل کیږي. په ځانګړي ډول زموږ په ټولنه کې چې نن هم د قانون او حقوقي ارزښت له نه تطبیق څخه رنځ وړي او دغه حالت د یو زیات شمیر کمیو لامل ګرځیدلی دی.

دې کار موږ دې ته اړ ایستو څو د دغه اثر په تدوین لاس پورې کړو، چې پکې د تخنیکي او مسلکي زده کړو د مؤسسو د اړتیاوې  په پام کې نیول شوې دي. چې بې له شکه له نیمګړتیاوو به خالي نه وي.

پردې بنسټ له حقوق پوهانو او علماؤ څخه هیله لرم چې له نیمګړتیاوو سره د مخ کیدو په صورت کې به د خپلې مهربانۍ له مخې موږته ښنه وکړي او دغو نیمګړتیاوو او تېروتنی ته به مې پام ور واړوي څو یې په راتلونکو چاپونو کې پر اصلاح لاس پورې کړم.

په درناوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د حقوقو په اړه عمومي معلومات

**ټولیزه موخه:**
د حقوقو د اساساتو او مبادي پيژندنه او د نورو ټولنيزو قواعدو او علومو سره يې اړيکې

**د زده کړې موخې:**

— د حقوقو د لغوي او اصطلاحي معنا عملي پېژندنه او زده کړه.

— د حقوقي قواعدو څېړنه او له نورو ټولنيزو (اخلاقي، مذهبي او مجاملاتي) قواعدو سره يې اړيکه.

— له نورو علومو سره د حقوقو د علم اړيکې او د غوره عدالت او انصاف د تأمین په موخه له امکاناتو څخه یې ګټه اخيستل او د هغو په رڼا کې د حقوقو او قوانينو وضع کول.

**د حقوقو د علمي مفاهيمو تعريف، لغوي او اصطلاحي معناوې يې:**

هغه څه چې تر نورو وړاندې يې دلته توضيح غواړو، هغه د حقوقو مفهوم دی، حقوق د حق جمع ده او حق د موافق او مطابق په معنی استعمالیږي، دغه راز حق د صفت یا فعل په توګه هم کاریدلی شي، مثلاً ویل کیږي چې خبره یې حق ده (یعنې خبره یې له واقعیت او حقیقت سره برابره ده) کړه وړه یې حق دی او عقیده یې حق ده، په دې معنی چې عقیده یې حقیقت ته نژدې ده او له واقعیت سره موافقت لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په غربي تمدن کې د حق کلمه له (Direction) څخه اخیستل شوې ده، چې د واک او قدرت په معنی استعمال شوې ده، رومیانو بیا حق ته د (Jus) کلمه کارولې ده، چې موخه یې د لارښوونې قدرت دی، حقوق او د لارښوونې قدرت معمولاً له هغه سازمان څخه سرچینه اخلي، چې د ټولنې د رهبرۍ مسؤلیت په غاړه لري. له همدې امله ده چې یو شمیر پوهان حقوق د دولت له مفهوم سره مترادف بولي، ځکه موږ ویلي وو چې حقوق د یوې ټولنې د رهنمایۍ او لارښوونې له دساتیرو څخه عبارت دي.

په دی بنسټ ښکاره خبره ده چې د دغو قواعدو او دساتیرو د تطبیق او د ټولنې د لارښوونې لپاره باید داسې یو مقام وجود ولري، چې د دغو قواعدو د تنفیذ او پلیتابه واک ولري، دلته ده چې د دولت او حقوقو اړیکه له یو بل سره ښه واضح کیدلی شي.

له علمي پلوه په لومړي پړاو کې حقوق له یو شمیر هغو قواعدو څخه عبارت دي، چې په ټولنه او اجتماع کې انساني ژوند رهبري کوي، ګواکې حقوق د رفتار او سلوکو له قواعدو څخه عبارت دي، نو ویلی شو چې حقوق یو لړ هغه قواعد دی چې په بشري ټولنه کې انساني ژوند رهبري کوي.

په دې معنی سره حقوق، هغو آفاقي قواعدو ته هم شاملیږي، چې انګلیسي اصطلاح یې (law) ده، د لازیات وضاحت لپاره یو څو مثالونه وړاندې کوو:

۱- د واده په اړه په هره ټولنه کې یو لړ قواعد شته چې موخه یې هغو مسؤلیتونو ته د هلک او نجلۍ متوجه کول دي، چې د دغه عقد په اساس یې د یوه او بل په وړاندې د اجتماعي نظم په خاطر پیدا کوي، دغه دساتیر هم د واده د مراسمو د ترسره کیدو پرمهال لکه د قانوني عمر پوره کول، ایجاب او قبول او داسې نور.... او هم د خاوند له خوا د نفقې د برابرولو، رښتوني رابطې، صداقت او متقابلې وفادارۍ پر مهال په پام کې نیول کیږي، چې په دې توګه په فامیلي چارو کې نظم او اداره تر ټولنې زیات رامنځ ته کیږي.

۲- په ټولو بشري ټولنو کې د حقوقو په اړه قواعد وجود لري، چې دغه قواعد په دې باندې تصریح کوي، چې د اشخاصو ترمنځ عقد او قرارداد په کوم اساس منعقد شي، د انعقاد شرایط یې کوم دي، کوم عقد سم او کوم ناسم دی، د سم او باطل عقد آثار څه دی او یا هم کوم حقوق او مؤیدات په برکې لري.

۳- په هره ټولنه کې د جزاء د حقوقو په نامه قواعد وجود لري، ځکه په ټولنیز ژوندانه کې داسې ډیر افراد شته، چې کړنې یې اجتماعي نظم ګډوډوي او د دوی کړه وړه نورو وګړو ته ضرر رسوي، پردې بنسټ د ټولنې په هره برخه کې د جزایي قواعدو شتون لازمي دی، څو د هغو له مخې د وګړو اعمال د قانون او شریعت خلاف وبلل شي او د داسې تدابیرو وړاندوینه وکړي چې په اساس یې له قانون او شریعت څخه د مخالفو کړنو مخنیوی وشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

که چیرې متخلف شخص بیا هم دغو دساتیرو ته پاملرنه نه کوي او د منفي اعمالو مرتکب کیږي باید د مجازاتو مستوجب و پیژندل شي او هغه څوک چې د ده له کړو وړو متضرر کیږي، د خسارې د جبران مستحق وګرځول شي.

هغه څه چې تر دې دمه مو وویل کیدای شي، چې د آفاقیت له نظره یې د حقوقو مفهوم تاسو ته واضح کړی وي، چې هغه له یو لړ هغو دساتیرو او قواعدو څخه عبارت دی، چې د بشري کړو وړو د لارښوونې، اجتماعي نظم د تامین او د بشر د مادي او معنوي سوکالۍ لپاره چې په یوه ټولنه لکه افغانستان، امریکا او فرانسه او نورو کې اوسیږي، وضع کیږي او د اجتماعي جبر یا (اجتماعي ډیټرمینیزم) په ذریعه د دولت له لوري د عامه نظم د ساتنې په موخه په افرادو باندې تطبیقیږي.

د پاریس پوهنتون او د مدني حقوقو د کورس استاد، لیبور پرونیوالي، آفاقي حقوق داسې تعریف کړي دي.

«آفاقي حقوق هغه لارښود قواعد دي، چې د یوې منظمې ټولنې د وګړو ترمنځ په دستوري شکل د ژوندانه چارې او مناسبات تنظیموي او د اجتماعي جبر په وسیله پر هغوی عملي کیږي».

د حقوقو دویم مفهوم د هغو له لومړني مضمون یعنې آفاقي حقوقو څخه استنباطیږي، په دې معنی چې په دغه مرحله کې حقوق د قدرت او امتیاز معنی افاده کوي کوم چې یو شخص یې له آفاقي دساتیرو یا حقوقي قاعدې څخه ترلاسه کوي، چې د ذاتي، عندي یا انفسی حقوقو په نامه یادیږي او انګلیسي اصطلاح یې(Right) یعنی صحیح او سم دی. په بل عبارت د حقوقو کلمه په دغه معنی سره له هغه اقتدار او امتیاز څخه عبارت ده، چې یو شخص یې د آفاقي حقوقو په دستور یا حقوقي قاعدې په مرسته لاس ته راوړي او د حق حامل پیژندل کیږي.

که د آفاقي حقوقو په برخه کې پورتني مثالونه په پام کې و نیسو په ښه توګه د عندي حقوقو مفهوم ترې اخیستلی شو، لکه چې و مو ویل په هره ټولنه کې د واده او ازدواج په اړه حقوقي قواعد وجود لري د بیلګې په توګه که یو چا قانوني عمر پوره کړی وي، حق لري چې واده وکړي، چې دغه د هغه ذاتي یا عندي حق دی او د آفاقي حقوقو له دساتیرو یې سرچینه اخیستې ده.

که فرضاً د آفاقي حقوقو یوې قاعدې په دې باندې تصریح کړې وي چې هلک د اتلس کلنۍ او نجلۍ د شپاړس کلنی د عمر په پوره کولو سره واده کولی شي، نو د دغې حقوقي مقررې له مخې هر هغه هلک او نجلۍ چې په ټولنه کې ژوند کوي او دغه سن ته رسیدلي وي، د واده کولو امتیاز پیدا کوي، او ځان له یوه حقوقي حالت او وضعیت یعنی تجرد څخه بل حقوقي حالت ته، چې تأهل دی بیایي او په اساس یې د یو لړ حقوقو، امتیازاتو او وجایبو خاوندان ګرځي.

دغه راز مو وضاحت ورکړ، چې د عقد د تشکیل او انعقاد په برخه کې یا لارښود قواعد وجود

(c) ketabton.com: The Digital Library

لري، له همدې امله که یو عقد په قانوني ډول لکه څرنګه چې د آفاقي حقوقو قاعدې لارښوونه کړې منعقد شي، دغې حقوقي رابطې ته عقد وايي او له مخې يې د ترون یا عقد دواړه لوري د اقتدار او امتیاز خاوندان ګرځي، کوم چې مخکې يې د یوه او بل په مقابل کې دغه اقتدار او امتیاز نه درلود. د مثال په توګه که یو له دوو لوریو څخه خپل تعاقدي وجایب ترسره نه کړی، بل لوری ذاتي حق پیدا کوي چې په موجب سره يې مقابل لوری په زور او جبر د خپلې تعاقدي وجیبې تر سره کولو ته اړباسي.

په دې اساس په عمومي توګه ویلی شو چې که یو شخص په داسې حقوقي حالت او وضعیت کې واقع شي، چې په اړه يې له وړاندې حقوقي قاعده وجود ولري، نو د دغې قاعدې له مخې نوموړی شخص د عندي او ذاتي حق خاوند ګرځي.
د بیلګې په توګه د ترافیک (عبور او مرور) قانون چې په یوه آفاقي حقوقي قاعده کې ویل شوی، وړاندوینه کوي، چې که هر څوک، له تقصیر پرته په کوم ټکر کې متضرر شو، دغه شخص د مطالبې یا خسارې د جبران له عندي حق څخه برخمن کیږي، معنی داچې دغه حق د نوموړي شخص یو ذاتي او عندي حق دی، چې په واقعیت کې د ټکر له امله له رامنځ ته شوې خسارې څخه سرچینه اخلي.
پر دې بنسټ دې نتیجې ته رسیږو چې ذاتي حق، د آفاقي حقوقي قاعدې له موجب او دغه راز په هغه حقوقي حالت او وضعیت کې له واقع کیدو پرته، چې وړاندوینه يې شوې وي، کوم مفهوم نه لري.

اوس نو له هغو شیانو څخه چې تر اوسه مو وویل باید نتیجه واخلو او د عندي حق تعریف له آفاقي حقوقو سره په مقایسه کولو کې وپلټو، څو په دې توګه له مغالطې څخه مخنیوی وشي او د حقوقو مفهوم په آسانۍ سره لاس ته راوړو.

عندي یا ذاتي حق له هغه واک او اختیار څخه عبارت دی، چې د آفاقي حقوقو له خوا یو چاته ورکول کیږي، او آفاقي حقوق هغه اوامر دي چې د اجتماعي ژوند د تنظیم لپاره وضع شوي دي.
په لنډه توګه ویلی شو چې حقوق د اجتماعي روابطو او خپلمنځي مناسباتو دوه ډوله لارښود قواعد او دساتیر په برکې نیسي، چې یوه برخه يې د حقوقو عمومي او بله يې خصوصي قواعد دي.
د عمومي قواعدو په برخه کې هڅه کوي څو په ټولنه کې د نظم د استقرار او اجتماعي مناسباتو د تنظیم لپاره داسې دساتیر رامنځ ته کړي، چې د اجتماعي موقف او حالاتو په اړه بحث او د مقرراتو وړاندوینه وکړي، مګر په اختصاصي قواعدو کې تمرکز پر هغو حالاتو دی، چې وګړي يې په قصدي ډول(حقوقي اعمال)، په خپله اراده سره سرته رسوي او یا يې هم په غیر ارادي توګه (حقوقي حادثات) تر سره کوي او په دې توګه د عندي یا ذاتي حق خاوندان ګرځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**دویم مبحث – له اجتماعي قواعدو سره د حقوقو اړیکه**

لکه چې پوهیږو په ټولنه کې نور تنظیموونکی قواعد هم شتون لري، چې مهم یې له اخلاقو، رسم او رواج او مذهب څخه عبارت دي؛ د دغه مبحث په ترڅ کې  له دغو اجتماعي قواعدو سره د حقوقو رابطه مطالعه کوو.

**۱. د حقوقو او اخلاقو رابطه:** په پخوانیو زمانو کې د حقوقي قواعدو او اخلاقو تر منځ توپیر نه وو، بلکې دواړو د افرادو مناسبات تنظیمول او سربیره پردې اجتماعي چارې د دیني او اخلاقي مقرراتو په وسیله ترسره کیدې، د ۱۸ پیړۍ د فرانسوي عالم «روسو» په خبره «په هغه زمانه کې د حقوقي قواعدو وجود نه وو محسوس، ځکه دیني عقاید او اخلاقي پرنسیپونه په کلکه د وګړو له خوا مراعات کیدل او احترام یې کیده». دغه نظریه د هغه وخت د حقوق پوه (الپین سلیس له خوا چې د حقوقو لومړني تعریفونه یې کړي دي، په ښه توګه واضح کیږي؟ په دې معنی چې نوموړی وایي «د حقوقو عوامل له شرافتمندانه هستوګنې او نورو ته د ضرر نه رسولو او شخص ته د هغه شي له ورسپارلو څخه عبارت دي چې هغه یې مالک دی». په منځنیو پیړیو کې وضعیت په همدې توګه دوام وکړ تر دې چې په نوي عصر کې په ځانګړي ډول ۱۸مه پیړۍ کې د حقوقو او اخلاقو تر منځ توپیر رامنځ ته شو، خو باید متوجه و اوسو چې د اخلاقو او حقوقو ترمنځ توپیر ستونزمن کار دی، ځکه چې اخلاقي پرنسیپونه د حقوقي دساتیرو په تشکیل او جوړښت کې مهمه ونډه لري؟ لکه چې د ۲۰مې پیړۍ د حقوقو یو فرانسوي عالم وایي «لکه څرنګه چې وینه د انسان په بدن کې جریان لري او د انسان د پایښت لپاره یې شتون ضروري دی، دغسې اخلاقي دساتیر هم د حقوقي قواعدو په جوړښت او تشکیل کې مهم دي او همدغسې دنده ترسره کوي».

د مثال په توګه اخلاق حکم کوي، چې په وعده باندې باید وفا وشی، چې همدغه اخلاقي دستور د عقد اساس جوړوي او د ارادې د استقلال پرنسیپ یې د عقد په تړون کې منظم کړی دی. په اخلاقي قواعدو کې بل مثال دادی، چې د مور او پلار د تنګ لاسۍ په صورت کې اولاد باید له هغوی سره مرسته وکړي، یا داچې اخلاق امر کوي که یو څوک له کوم خطر سره مخ وي، باید مرسته ورسره وشي، چې همدغه اخلاقي قواعدو بیا هم حقوقو ته لاره کړې او د اجتماعي جبر په واسطه د مؤیدې په زیاتوالي سره د تطبیق او تنفیذ وړ ګرځیدلی دي.
یعنې حقوقو دا ډول اعمال د اخلاقو په توګه منلی دي او بیا یې د ټولنې په افرادو باندې د هغو د تطبیق لپاره د مؤیدې وړاندوینه کړې ده.

د اخلاقي دستور تعریف ستونزمن دی، ځکه ټول یو ډول نظر نه لري، خو بیا هم په عمومي توګه هغه داسې تعریفوو:

اخلاقي قواعد له هغو لارښودو دساتیرو څخه عبارت دي، چې اساس یې د ښه او بد توپیر جوړوي، په بل عبارت اخلاقي قواعد د ښو او بدو چارو د تشخیص تله ده؛ یعنې هغه څه چې د ښیګڼو له

(c) ketabton.com: The Digital Library

معیارونو سره برابر وي، اخلاق او هغه چې د بدیو له معیار سره برابر وي، غیر اخلاقي بلل کیږي. په لنډه توګه ویلی شو، چې حقوقي دساتیر اخلاقي ریښه او سرچینه لري، مګر ټول یې اخلاقي نشي بلل کیدای، او یو شمیر حقوقي قواعد شته چې د نوي عصر د انکشافاتو د اړتیا پر بنسټ رامنځ ته شوي دي، د مثال په توګه د ترافیک قانون چې هیڅ ډول اخلاقي عنصر پکې نه تر سترګو کیږي، بلکې موخه یې تر عبور او مرور پورې د اړونده چارو تنظیم او سمون دی، مثلاً کله چې د ترافیک قانون لارښوونه کوي، چې موټر چلوونکي باید په ښي طرف حرکت وکړي دا موضوع له اخلاقو سره هیڅ تړاو نه لري.

کله کله حقوق او اخلاق په کلي ډول له یوه او بل سره مغایرت او تفاوت لري؛ مثلاً وخت تیریدنه چې قانون ټاکلې ده او ویلي یې دی، چې مستأنف او معترض باید په یوه میاشت کې له دویمې محکمې څخه د قضیې د دویم ځل څیړنې غوښتنه وکړي، یا د غیر منقولو اموالو په برخه کې د وخت تیریدنه پنځلس کاله تعیین شوې ده، نه یوازې داچې له اخلاقو سره اړیکه نه لري، بلکې په کلي ډول له اخلاقو سره په ټکر کې ده.

په همدې توګه له حقوقي مقررې څخه د سرغړونې په صورت کې، عامه اقتدارات یا دولت دی، چې سرغړونکي ته جزاء ورکوي، په داسې حال کې چې له اخلاقي اصل څخه د سرغړونې په صورت کې د شخص وجدان او ضمیر دی، چې سرغړونکی تنبیه کوي، او خارجي شتون نه لري، بلکې د ضمیر او وجدان په آواز سره خلاصه کیږي، چې هغه پښیماني او تأسف دی.
له بله پلوه حقوق د وګړو عمل ته متوجه وي، مګر اخلاق د افرادو تمایلاتو او قصد ته هم توجه لري، او عمل وړاندې مراحل په پام کې نیسي او لارښوونه کوي، چې سړی باید څه وکړي، خو حقوق د اعمالو انګیزې ته نه ګوري او کله چې تر سره شي، له هغه سره سراوکار لري.
په لنډه توګه ویلای شو چې حقوق او اخلاق د نن ورځې د بیلابیلو دورو په تیریدو سره دوې ځانګړې څانګې دي چې له یوې او بلې سره نیژدې اړیکې لري.

**له عرف او عاداتو سره د حقوقو رابطه:**

د ټولنې له تنظیموونکو قواعدو څخه یو هم مجاملاتی قواعد دی لکه (رسوم، عنعنات عرف او عادات) چې د نورو اجتماعي قواعدو په څیر له حقوقو سره مطابقت لري او قانون جوړونکی یې باید د قوانینو د وضعې او تدوین پر مهال بایدپه پام کې و نیسي، له هغې پرته حقوقي قاعده ښایي د ټولنې له سخت او چټک مخالفت سره مخ شي، له بله پلوه د یو شمیر حقوقي قواعدو سرچینه له هغه عرف څخه اخیستل شوې ده، چې په ټولنه باندې تسلط لري.
په ځینې حالاتو کې عرف له حقوقي قاعدې سره په تضاد کې واقع کیږی؛ آن تر دې چې یوه حقوقي قاعده په ټولنه کې د تطبیق موقع له لاسه ورکوي، چې ښه مثال یې په افغانستان کې عنعنوي جرګې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د حقوقو او مذهب رابطه:**

دین او مذهب یو لړ اوامر او نواهي پر خپلو پیروانو فرض او لازمي ګرځولي دي. څرنګه چې دغه اوامر او نواهي د خداي(ج) له لوري وي نو پیروان په دې باندې پوره باوري وي، چې دغه اوامر د الله تعالی له لوري نازل شوي دي، په همدې اساس ځانونه له هغو څخه په پیروۍ او اطاعت مجبور ګڼي او د تخلف په صورت کې ځان د الهي عتاب او غضب مستوجب ګڼي، د دین هدف هم له الله تعالی سره د انسانانو یا د هغوی د خپلو او یا هم د ټولنې له وګړو سره د مناسباتو تنظیم او سمون دی.

هغه څه چې زموږ د بحث موضوع ده، هغه د ټولنې د وګړو ترمنځ د ارتباطاتو او واجباتو تنظیم او سمون دی چې همدغه ټکی دیني اوامرو او نواهیو ته له حقوقو سره ارتباط ورکوي.
په دې لحاظ حقوق او مذهب مشترک هدف لري، دغه راز د عمومیت او الزام له پلوه هم له یوه او بل سره موافقت لري او یوازې څو حالتونه دي، چې دین له حقوقي قواعدو څخه جدا کوي، یو له جزایي پلوه ځکه د حقوقي قواعدو اجزاء دنیوي دي، خو په دیني قواعدو کې پر دنیوي جزاء سربیره اخروي جزاء هم د الله تعالی له لوري پر متخلفینو تطبیقیږي، دغه راز دین له حقوقو سره د ساحې په لحاظ هم تفاوت لري، په دې معنی چې د دیني احکامو او قواعدو ساحه پراخه ده، چې په اجتماعي مسایلو سربیره تعبدي، اخلاقي او عقیدوي مسایل هم په خپله غیږه کې رانغاړي، خو حقوقي قواعد یوازې د ټولنو او وګړو ظاهري اړیکې تنظیموي. بل داچې د حقوقو سرچینه قانون ده خو د مذهبي قواعدو منشأ الهي وحی ده او فقهاؤو کوښښ کړی دی چې شرعي احکام له څلورو سرچینو ًقرآن، سنت، اجماع او قیاس څخه استنباط کړي.

**دریم مبحث – له نورو علومو سره د حقوقو رابطه**

حقوق د یوه اجتماعي علم په توګه له ټولو اجتماعي، طبیعي او نورو علومو سره په مستقیم او غیرمستقیم ډول رابطه لري، چې دادی دلته په لنډه توګه اشاره ورته کوو:

د حقوقو او اجتماعیاتو رابطه: لکه چې پوهیږو د حقوقو علم دنده لري، څو داسې قواعد وپلټي او د تطبیق لپاره یې وړاندې کړي چې د افرادو اجتماعي رابطه په ښه توګه تنظیم او رهبري کړي، په داسې حال کې چې اجتماعیات، ټولنه په مجموعي شکل له مختلفو خواوو د مطالعې او څیړنې محور ګرځوي، په دې معنی چې د حقوقو د علم په پرتله د اجتماعیاتو د علم ساحه پراخه ده او ټولې هغه پیښې او پدیدې څیړي، چې د بشري ټولنو او اجتماعیاتو د تکامل او تحول په سیر کې اغیزه ولري، اوانساني غبرګونونو ته څنګه چې د ټولنې په ذهن کې دي، کتنه کوي، مګر حقوق له هغو موضوعاتو سره علاقه لري چې د راتلونکې زمانې لپاره یا د بشري اړیکو لپاره په ټولنه کې معین شوي وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لکه چې پوهیږو حقوق هغه لارښود دساتیر دی، چې د راتلونکې لپاره د یوې ټولنې په داخل کې بشري ژوند رهنمایی کوي، خو د دې معنی دا نه ده چې له ماضي او حال سره هیڅ علاقه نه لري. د اجتماعیاتو علم قانون جوړونکو او قاضیانو ته داسې عناصر او معلومات په لاس ورکوي چې له هغو څخه د قانون په تدوین او تطبیق کې ګټه اخیستل کېږي او په دې توګه په یوه ټولنه کې د راتلونکي لپاره یو سوله ییز او له خوښیو سره مل انکشاف رامنځ ته شي.

**۲- د اقتصاد له علم سره د حقوقو د علم رابطه:** د اقتصاد علم له هغه علم څخه عبارت دی، چې د اړتیاوو او پوره کولو په اړه یې بحث کوي، او دغه راز د اموالو د تولید او توزیع څرنګوالی مطالعه کوي.

د همدغې مفکورې په اساس اقتصاد پوهان تر ډېره وخته په دې عقیده وو چې د اقتصاد علم له نورو علومو په ځانګړي ډول حقوقو سره هیڅ اړیکه نه لري، ځکه د دوی په عقیده د اقتصاد علم خپل خاص قواعد لري او د حقوقي قواعدو له مداخلې پرته د یوه طبیعي نظم په اساس تنظیمېږي، د مثال په توګه د عرضې او تقاضاء قانون چې د عرضې د زیاتوالي پرمهال بیې په خپله رالویږي او برعکس که تقاضاء زیاته شي او عرضه په هماغه پخواني حالت پاتې شي، بیې لوړیږي. دغه کار په کلي ډول طبیعي دی او د دولت له لوري د هیڅ داسې قوانینو او مقرراتو وضع کولو ته اړتیا نه لري، چې اقتصادي جریان رهبري کړي، مګر دغه غولوونکی استدلال لکه چې په عمل کې لیدل کیږي، له حقیقت څخه لیرې دی او لکه څرنګه چې د ۱۹مې او ۲۰مې پیړۍ اقتصادي ناورینونه او بحرانونه ثابته کړه، چې د دولت له مداخلې او رهبرۍ پرته اقتصادي نظم، د خلکو سوکالي او د ټولنې د وضعیت بهبود ممکن نه دی.

له بله پلوه که څه هم ظاهراً داسې معلومیږي، چې اقتصاد او حقوق په خپلو کې هیڅ رابطه نه لري، خو په حقیقت کې دا خبره ناسمه ده، بلکې اقتصادي آزادي له دوو حقوقي اصولو څخه الهام اخلي، چې دغه اصول یعنې د شخصي ملکیت موجودیت او د قراردادونو آزادي، د آزاد اقتصاد یا لیبرالیزم اساس جوړوي او د ارادې د استقلال د پرنسیپ په چوکاټ کې راڅرګندیږي.

کله چې موږ دغه دوه اصول یعنې شخصي ملکیت او د قراردادونو آزادي تر څیړنې لاندې او نیسو بیا هم ثابتیږي، چې د انفرادي ملکیت پیژندنه او د قراردادونو آزادي د دولت له مداخلې او حقوقي مقرراتو له وضع کولو پرته نه شي تنظمېدلی، ځکه دولت دی، چې د دغو دوو اصولو د په رسمیت پیژندلو لپاره د حقوقي دساتیرو په ترڅ کې اعتراف کوي او آزاد اقتصاد وده کولی شي. له پورتنیو خبرو څخه باید نتیجه واخلو، چې د اقتصاد او حقوقو تر منځ نژدې رابطه وجود لري او یو له بله پرته وده نه شي کولای، مثلاً که د یوې ټولنې د اقتصاد په جریان کې تغییر رامنځ ته شی، نو د تنظیم او سمون لپاره یې باید مخکې له مخکې هغو چارو ته پاملرنه وشي، چې په حقوقي اساساتو پورې اړه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۳- د سیاست له علم سره د حقوقو د علم رابطه:**

له هغه ځایه چې د سیاست د علم موضوع قدرت او اداره یې ده او قدرت په ټولنه کې مشروعیت ته اړتیا لري، نو قدرت باید د حقوقي قواعدو په واسطه مشروعیت پیدا کړي. له بله پلوه حقوقي قواعد د تطبیق او پلیتابه لپاره د واکمنې طبقې له قدرت څخه استفاده کوي، نو په صراحت سره ویلای شو، چې حقوق او سیاست د یوې سکې دوه اړخه دي چې له یوې او بلې پرته شتون نه شي پیدا کولی یا هم حقوق او سیاست د یوه الوتونکي دوه وزرې دي، خو په عین حال کې دوه مستقل علوم.

**۴- د تاریخ له علم سره د حقوقو د علم رابطه:**

د حقوقو د یوه مکتب (د حقوقو تاریخ) له نظره، حقوق د معینو تاریخي عواملو زیږنده دي، دغه راز د حقوقي قواعدو د وضعې پر مهال په یوه معینه برخه کې د هغې برخې تاریخ او د تکامل بهیر ته باید پاملرنه وشي، چې تاریخ دغه معلومات حقوق پوهانو ته په لاس ورکوي.

له بل لوري د نړیوالو حقوقو په مطالعو او لاس ته راوړنو کې له تاریخ او تاریخي واقعو څخه اعظمي استفاده شوې او په دې اساس یې بې ځایه نه دي ویلي، چې نړیوال حقوق د تاریخ څوکه جوړوي.

**۵- له ارواپوهنې (روانشناسی) سره د حقوقو رابطه:**

د ارواپوهنې علم (روانشناسي) د حقوق لپاره د جزاء او فامیلي حقوقو په برخو کې ارزښتمن خدمتونه ترسره کولی شي، په خاصه توګه د جنایي ارواپوهنې احصائیې او ارقام چې د جرایمو په کمښت او د مجرمینو په بیاروزنه کې د قاضیانو، څارنوالانو او مدافع وکیلانو لپاره ښه ممد ګرځیدلی شي.

**۶- له ټولنپوهنې (جامعه شناسی) سره د حقوقو رابطه:**

لکه چې معلومه ده ټولنپوهنه د یوه ځوان علم په توګه، ټولنه او د انسان چاپیریال مطالعه کوي او د هستوګنې عوامل په واقعي شکل سره د نورو ترلاسونو ور رسوي، چې د نورو علومو په څیر حقوق هم له دغو واقعیتونو څخه استفاده کوي، ځکه حقوق پوه اړ دی، چې د حقوقي قاعدې د وضعه کولو پرمهال د ټولنې واقعیتونه په علمي ډول په پام کې و نیسي، چې دا کار د ټولنپوهنې له مطالعې پرته په ښه توګه نشي ترسره کیدلی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## له طبيعي علومو سره د حقوقو د علم رابطه

**له طب سره د حقوقو رابطه:**

د حقوقو علم د غوره روغتيايي خدماتو د وړاندې کولو لپاره يو لړ حقوقي قواعد رامنځ ته کوي، چې د هغو له اظهار پرته روغتيايي پرسونل نه شي کولی، په ښه توګه خپلې دندې ترسره کړي، له بل لوري د عامې روغتيا کارکوونکي د جنايي تحقيقاتو او جرمي عواملو د موندنې لپاره چې د عدالت د تامين لپاره، حتمي او ضروري امور دي نشي رسيدلی چې د دې خبرې د ثبوت لپاره عدلي طب يوه روښانه بيلګه ده.

**د کيميا له علم سره د حقوقو رابطه:**

د کيميا علم هم د هغو کسانو لپاره، چې د جزاء د حقوقو په برخه کې کار کوي، د پام وړ او ارزښتمن معلومات وړاندې کوي، چې د وينې د ګروپ په تشخيص او داسې نورو برخو کې يې د تکنالوجۍ له همکارۍ څخه د بېلګې په توګه يادونه کولی شو.

**له تخنيک سره د حقوقو د علم رابطه:**

د حقوقو علم په تخنيکي فعاليتونو باندې د يو لړ قواعدو په وضع کول سره په دې برخه کې د تخنيکي آسانتياوو او انکشاف زمينه برابر وي، چې د مخترعينو له امتيازاتو او مکافاتو څخه د بېلګې په توګه يادونه کوو. دغه راز تخنيک حقوق پوهانو ته ارزښتمن معلومات په لاس ورکوي لکه د کريمنال تخنيک او عدلي طب آسانتياوې، چې د جزاء د حقوقو په برخه کې يې رامنځ ته کړې دي.

**له رياضياتو سره د حقوقو رابطه:**

رياضي يو لړ ارقام او اعداد، د حوادثو او واقعو د شمير او ګڼلو لپاره،حقوق پوهانو ته په لاس ورکوي، چې په دې توګه حقوق د ودې او تحول په حال کې علم دی او له علمي پرمختياوو سره په يوه پله روان دی، نو د کمپيوټر، فکس، سټلايت او نورو عصري وسايلو په انکشاف او تحول کې بې برخې نه دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د لومړي څپرکي د مطالبو لنډيز:**

حقوق د حق جمع ده چې حق د سم، موافق او مطابق، او برخې په معنى دى او دغه راز د الله عزوجل يو اسم دى.

حقوق په اصطلاح کې د شخص له هغو مادي او معنوي ارزښتونو څخه عبارت دي، چې د قانون په وسيله يې يادونه او ملاتړ کيږي، د حقوقو په اړه د دقيق پوهاوي او پيژندنې لپاره بايد حقوق، آفاقي او عندي يا ذاتي ته تقسيم کړو.

آفاقي حقوق له هغه صريح او معقول تجويز او اوامرو څخه عبارت دي، چې د ټولنيز ژوندانه د تنظيم لپاره وضع کيږي، خو عندي حقوق بيا هغه اختياري قدرت ته ويل کيږي چې يو شخص يې د نورو اشخاصو يا شيانو په وړاندې، لري او د آفاقي حقوقو په وسيله شخص ته ورکول کيږي. د نوي عصر په پيل کې په ځانګړي ډول اتلسمه ميلادي پيړۍ کې د حقوقو او اخلاقو ترمنځ توپير رامنځ ته شو، مګر له دې سره سره بياهم د حقوقو او اخلاقو ترمنځ فرق يوه ستونزمنه موضوع ده، ځکه اخلاقي پرنسيپونه د حقوقي دساتيرو په تشکيل کې مهمه ونډه لري، لکه چې د ۲۰مې پيړۍ مشهور فرانسوي حقوقپوه چې وايي، لکه څرنګه، چې وينه د انسان په بدن کې جريان لري او د هغه د پايښت او بقاء لپاره ضروري ده، دغه راز اخلاقي دساتير هم د حقوقي قواعدو په تشکيل کې خورا مهم دي، او همدغسې دنده ترسره کوي».همداسې دنده لري

**د مثال په توګه:** اخلاق حکم کوي، چې په وعده باندې بايد وفا وشی، چې همدغه اخلاقي دستور د عقد بنسټ جوړوي او د ارادې د استقلال پرنسيپ يې د عقد په تړون کې منظم کړی دی.

د ټولنې له تنظيموونکو قواعدو څخه يو هم مجاملاتی قواعد دی لکه (رسوم، عنعنات عرف او عادات) چې د نورو اجتماعي قواعدو په څير له حقوقو سره مطابقت لري او قانون جوړونکی يې د قوانينو د وضع او تدوين پر مهال بايد په پام کې و نيسي، له هغې پرته حقوقي قاعده ښايي د ټولنې له سخت مخالفت سره مخ شي، او حتی د حقوقي قاعدې د تطبيق زمينه له ستونزی سره مخ کيدلی شي.

حقوق د يوه اجتماعي علم په توګه له ټولو اجتماعي، طبيعي او نورو علومو سره په مستقيم او غيرمستقيم ډول اړيکه لري  او د هغو له معلوماتو او امکاناتو څخه د حقوقی قواعدو په وضع کولو کې ګټه اخلي، او داسې قواعد وضع نه کړي چې د عقيدې، مذهب او نورو ملي ارزښتونو سره په ټکر کې وي او په دې ډول په آسانۍ سره د عدالت او انصاف تامين او تطبيق ته لاره هواره کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د لومړي څپرکي پوښتنې**

۱- حقوق د لغت له مخې کوم مفاهیم په ځان کې رانغاړي؟

۲- حقوق په اصطلاح کې څه ته وايي؟

۳- له نورو تنظیموونکو قواعدو سره د حقوقو رابطه توضیح کړئ؟

۴- له نورو اجتماعي علومو سره د حقوقو رابطه واضح کړئ؟

۵- له مختلفو طبیعي علومو سره د حقوقو رابطه واضح کړئ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دویم څپرکی

## آفاقي حقوق Objective Law

**ټولیزه موخه:**
د آفاقي حقوقو او د عدالت ټینګولو لپاره د هغو د خصوصیاتو په اړه معلومات ترلاسه کول.

**د زده کړې موخې:**

– د آفاقي حقوقو یا حقوقي قواعدو او د هغو د ځانګړتیاوو په اړه عملي پوهاوي او درک.

– د قانون د تنفیذ او پلیتابه لپاره د حقوقي قاعدې د مؤیدوالي، او کتبي والي د اړتیا په هکله درک او پوهه.

### آفاقي حقوق

لکه چې په سریزه کې مو یادونه وکړه، آفاقي حقوق له هغو لارښودو، عمومي او مجردو قواعدو او دساتیرو څخه عبارت دي چې د ټولنې له خوا وضع کیږي او د دولت له لوري په زور او جبر سره په ټولنه کې د نظم، عدالت او سولې د تامین او ټینګښت په موخه تطبیقیږي.
له آفاقي حقوقو سره د لازیاتې آشنایۍ په موخه د هغو ځانګې مطالعه کوو:

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د حقوقي قواعدو (آفاقي حقوقو) صفات يا ځانګړتياوې**

د آفاقي حقوقو په اړه تعريفونه او توضيحات د دې څرګندونه کوي، چې حقوقي قواعد د داسې ځانګړتياوو درلودونکي دي، چې خپلو معينو اهدافو ته د اجتماعي جبر يا عامه اقتداراتو او دولتونو له لارې ځان رسوي، لدې کبله د حقوقي قواعدو صفات او ځانګړتياوې په لاندې ډول، دجلا جلا مبحثونو په ترڅ کې مطالعه کوو.

**۱. د تجريد او تعميم له نظره (مجزأ والی او عموميت)**

ويل کيږي چې حقوقي قاعده يوه مجرده يا غير مشخصه قاعده ده، دغه صفت د حقوقو د قاعد وي والي له صفت او خاصيت څخه سرچينه اخلي، يعنې کله چې قاعده ورته وايو دا په خپله د دې ښکارندويي کوي، چې ياد دستور يا لارښود لومړی مجرد او غير مشخص دی او په دويم قدم کې عام او پر ټولو د تطبيق وړ دی.

د حقوقي قاعدې د مجرديت معنی داده، چې دغه دساتير د کوم معين شخص لپاره نه دي وضع شوي، بلکې د ټولو وګړو لپاره پرته له دې چې د دوي هويت، نوم، نښان، اجتماعي موقف او يانور په پام کې و نيول شي، وضع شوي دي، معنی داچې په حقوقي قاعده کې د اشخاصو نومونه نه راوړل کيږي او دساتير يوازې حقوقي حالات او مواقف تأمينوي، په دې اساس هر کله چې هر وګړی دغه حقوقي موقف خپلوي، ياد قواعد به له استثناء او امتياز پرته ورباندې تطبيقيږي، د بېلګې په توګه حقوقي قاعده د رشد لپاره سن تعيينوي، چې البته وګړي د دغه سن له تکميل مخکې د صغير په موقف کې بلل کيږي.

دغه قاعده د دغه يا هغه شخص لپاره نه ده، بلکې د ټولو لپاره ده او د ټولنې ټول وګړي په مجرد او غير مشخص ډول په پام کې نيول شوي دي، نه داچې د حقوقي قاعدې موخه کوم معين او مشخص فرد دی.

په دې اساس ويلی شو، چې ياده مقرره پر ټولو افرادو يا اتباعو يو شان د تطبيق وړ ده او د ټولنې هر وګړی د رشد د سن تر تکميلولو مخکې صغير او په يو لړ معاملاتو کې فاقد الاهليت يا عديم الاهليت بلل کيږي.

دلته داخبره د يادولو وړ بولو، چې ځينې حقوقي قاعدې د يوې ډلې معينو افرادو د يو لړ مشخصو اعمالو د تنظيم په موخه وضع کيږي، يعنې دا ډول دساتير پر ټولو نه تطبيقيږي، بلکې د افرادو يوه خاصه ډله يا معينو افعالو باندې د تطبيق وړ دی.

مګر بيا هم دا ډول قواعد مجرد بلل کيږي، نه مشخص، ځکه ياد قواعد بيا هم هماغه مشخصه ډله افراد او اعمال په کلی او غير مشخص ډول په پام کې نيسي او ګواکي د هماغه ډلې د افرادو نوم، نښان او هويت پکې په نظر کې نه دی نيول شوی او حقوقي لارښود افراد يا اعمال له دې پلوه په نظر کې نيسي، چې له هغې مشخصې ډلې يا معينو اعمالو سره تړاو لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مثال په ډول، تر مدافع وکیلانو، کاریګرو او کار ګومارونکو پورې اړوند قواعد، یا حقوقي اعمال لکه پیر او پلور، وصیت او داسې نور، دا ټول قوانین پرته له دې چې د خرڅوونکي یا اخیستونکي او موصی له شخصیت، نوم او نښان په پام کې و نیسي، د پیر او پلور یا وصیت د عمل په برخه کې کلي مقررات وضع کوي او هر هغه څوک چې په دغو مواقفو کې ودرېږي، حقوقي قاعده پرې تطبیقیږي او د هغې په اساس یې ټول امتیازات او مکلفیتونه په مساویانه ډول تثبیتیږي، پر دې بنسټ هغه افراد چې له دغو مواقفو څخه د باندې پاتې کیږي، دغه قاعده نه پرې تطبیقیږي.

**تعمیم یا عمومیت:**

د حقوقي قاعدې د تعمیم یا عمومیت معنی داده، چې یاد شوي قواعد یو داسې عام دستور دی، چې له استثنی پرته په ټولو باندې د تطبیق وړ دی او د ټولنې ټول وګړي له هغو څخه یو شان مستفید ګرځي، له همدې ځایه ده چې زیاتره حقوقي قواعد او دساتیر د (ټول) په کلمه سره پیلیږي، مثلاً ویل کیږي، ټول افراد کولی شی، له خپلو کروندو دیوال را تاو کړي، که فرضاً د (ټول) کلمه په کوم قانون کې راغلې هم نه وي، بیا یې هم له روحیې څخه تعمیم استنباط کیدلی شي، مثلاً ویل کیږي، چې خرڅونکی اخیستونکي ته د تصرف پر انتقال سره مکلف دی، دغه دستور پخپله عام دی او د تعمیم صفت ورسره دی.

یعني هر هغه څوک چې د خرڅوونکي بڼه خپله کړي، دغه قاعده پرې تطبیقیږي، چې په دې اساس ویلای شو، حقوقي قاعده هم د افرادو او هم د ساحې له پلوه د تعمیم صفت لرونکې ده. ځینې قواعد د ژوندانه په یوه ټولنه کې په افرادو باندې د تطبیق وړ دی، نو اوس باید دغه سوال ته ځواب وویل، شي چې د ټولنې د نورو لارښودو قواعدو سره د دغو قواعدو توپیر څه دی؟

ځواب منفي دی لکه چې مخکې مو هم یادونه وکړه، کله چې له قاعدې غږیږو حتماً باید عمومي یا مجرده وي، په دې اساس ټول قواعد که هغه مذهبي وي یا مجاملاتي او یاهم حقوقي، د دغه صفت درلودونکې دي او دغه خاصیت یوازې تر حقوقي قواعدو پورې نشو منحصر کولی.

**۲- د اجباریت او لزوم له پلوه**

د حقوقي قاعدې دویم خصوصیت د اجبار او امریت صفت دی، په دې معنی چې حقوقي قاعده اختیاري نه ده او د ټولو له لوري یې باید مراعات شي، ځکه حقوقي قاعده د انساني سلوک په اړه کومه ساده توصیه نه ده، بلکې یو ډول حقوقي امر او فرمان دی، چې د دولت له لوري صادر شوی او افراد یې باید اطاعت وکړي.

د حقوقي قاعدې د دغه خاصیت سرچینه که په یوه متن یا قانون کې د هغو په پراخه معنی او مفهوم سره د دولت له امر او ارادې څخه، یا هم له عرف او عادت څخه وبولو، د دې ښکارندویي کوي، چې حقوقي قاعده یو داسې امري دستور دی، چې هر شخص په اطاعت یې مکلف دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

باید ووایو چې حقوقي قواعد د اجباریت او امریت د درجې له پلوه دوو څانګو ته تقسیمیږي.

۱- امري قواعد.

۲- اختیاری یا تفسیری او تکمیلی قواعد.

په امري قواعدو کې د شخص ونډه او اراده اغیزمن نه دي او له یادې شوې قاعدې څخه متابعت لازمي دی، لکه د قانونی سن د اړونده قواعدو یا د ازدواج د شکلي او متني شرایطو او نورو... په څیر، خو اختیاري قواعد تر یوه حده پوري افرادو ته د اختیار او خوښې حق ورکوي، چې عمومي چوکاټ ته په پام سره د اعمالو جزئیات په خپله تعیینوي او حتی یو شمیر کولی شی، چې د یادو شویو دساتیرو خلاف رفتار وکړي، مثلاً هغه قواعد چې د حقوقو د نتائجو تر اثراتو پورې اړه ولري، لکه د اجارې، خرڅلاو، عاریت او داسې نور عقود چې په قانون کې موجود دي، د بیلګې په توګه په قانون کې ویل کیږي چې خرڅوونکي د مبیعې د مخفي عیب مسؤل دی او د دا ډول عیبونو د موجودیت په صورت کې ثمن او قیمت باید راکم شي، خو که د عقد دواړو لوریو په دې سلا او موافقه کړې وي، چې پټ عیبونه هم د قیمت د تقلیل او کمښت موجب نه ګرځي، دغه قید د قانون له مخې کاملاً د اعتبار وړ دی، یا فرضاً په قانون کې ویل شوي، وي چې د منقولې مبیعې د تسلیمولو ځای هغه ځای دی، چې عقد پکې منعقد شوی دی، خو که د عقد دواړه لوري موافقه وکړي او کوم بل ځای تعیین کړي بیا یې هم دغه موافقه د اعتبار وړ ده، ځکه په دا ډول دساتیرو او حقوقي قواعدو کې د قانون موخه او هدف د افرادو له ګټو ساتنه ده چې له یادې شوې قاعدې څخه استفاده کوي.

په دې اساس په هره لاره چې د افرادو ګټې په بهتره توګه تامین شي، خو په دې شرط چې له عامه نظم سره په ټکر کې نه وي، موافقې یې قانوني دي، خو که په قانون کې صراحت وشي، چې د زوجاتو تعدد منع دی او یو څوک را پیدا شي چې د خصوصي عقد په اساس د دغه قانون مخالف کار وکړي، نو له دې کبله چې دغه موافقه یې د عامه نظم سره په ټکر کې ده او د اجتماعي اړیکو د اخلال لامل ګرځي، نو دغه موافقه او خصوصي عقد یې باطل بلل کیږي او د مجازاتو مستوجب ګرځي.

د دغو خصوصیاتو په مطالعې سره باید داسې فکر و نه کړل شي، چې حقوقي قواعد مو له نورو قواعدو سره جلا کړي دي، ځکه که څیر شو د حقوقي قاعدې په اجباریت او امریت کې بیا هم له نورو قواعدو سره د حقوقي قاعدې د تفکیک او توپیر کوم حقیقي معیار نه شي تر سترګو کیدلی.

**۱- د مؤید والی له پلوه:**

د دغه صفت معنی داده، چې حقوقي قواعد باید د عامه اقتداراتو له خوا و څارل شي او د مؤیدې یا جزاء درلودونکی باید وی، چې د مؤیدې تطبیقوونکی دولت دی. په دې اساس د هرې

(c) ketabton.com: The Digital Library

حقوقي مقررې د اجراء ضمانت د هغې د مؤيدوالي له مخې دی؛ يعنې کله چې يو حقوقي قاعده مؤيده ونه لري، يو بې روحه دستور او بې ضمانته آواز دی. د مؤيدې اجراء، کولای شو حمايوي يا وقايوي مؤيداتو او جزائي يا تنبيهي مؤيداتو ته تقيسم کړو.

د دغو مؤيداتو مرام او هدف دا دی چې له يوې خوا د قانون څخه د خلافو کړنو مخنيوی وشي او له بله پلوه له قانون څخه د عدول او سرغړونې په صورت کې په متخلف باندې مجازات تطبيق شي، مثلاً يو داسې ازدواج کيدونکی دی، چې قانون له وړاندې هغه منع کړی او مجاز يې نه دی بللی، د بيلگې په توگه له محارمو سره ازدواج يا له (۴) څخه له زياتو ښځو سره ازواج، چې دا ډول مؤيداتو ته وقايوي يا حمايوي مؤيدات ويل کيږي.

د دې ترڅنگ داسې نورې لارې هم شته، چې په کارولو سره يې له قانون سره په ټکر کې، رامنځ ته شوی حالت له منځه وړل کيږي، مثلاً د دويم ازدواج د بطلان او انحلال اعلان، د هغه قضايي حکم په اساس چې اشخاص د خپلو وجايبو او مکلفيتونو په اداء کولو سره مجبوروي. دغه مؤيده د اکراه او قانوني جبر په نامه سره ياديږي.

له بله پلوه د وقايوي مؤيداتو په څنگ کې چې له قانون څخه تر انحراف وړاندې د تطبيق وړ دی، نور مؤيدات هم شته، چې د سړي پام ور اوړي او له قانون څخه تر انحراف وروسته پر متخلف باندې تطبيقيږي، چې دا ډول مؤيدات په دوه ډوله دي:

۱. مدنی مؤيدات.
۲. جزأيی مؤيدات.

**مدني مؤيدات:**

مدني مؤيده، هغه څوک چې له قانون څخه د يو بل شخص د انحراف له امله متضرر کيږي، د خسارې د جبران مستحق گرځي، دا ډول مؤيداتو ته جبراني مؤيدات هم ويل کيږي، خو زياتره وخت له حقوقي قواعدو څخه انحراف نه يوازې د بل شخص د متضرر کيدو لامل گرځي بلکې عامه گټې هم زيانمنوي. په دغه صورت کې د مدني مؤيداتو له موجوديت سره سره په دا ډول اشخاصو باندې نور مؤيدات هم چې تنبيهي بڼه او مجازات لري، تطبيقيږي او هغه د جزائي يا انضباطي مؤيداتو په نامه ياديږي، ځکه جزاء په حقيقت کې د اجتماع په نامه پر مجرم تطبيقيږي. د بيلگې په توگه يو څوک د غلا په وسيله زيانمن کيږي، څرنگه چې قانون لا له وړاندې غلا يو نا مشروع عمل بللی او د هغې له ارتکاب څخه يې نهی کړې ده، نو که مرتکب يا غل و نيول شي، په لومړۍ مرحله کې هغه څه ترې اخيستل کيږي، چې غلا کړي يې دي او حقيقي مالک ته يې ور سپارل کيږي چې دغه يوه مدني مؤيده ده او دلته يوازې د خسارې د جبران خبره مطرح ده، په دويم قدم کې سارق تر تعقيب او جزايي مجازاتو لاندې نيول کيږي، چې جزايي مؤيده ورته وايي چې دا ډول ټول مؤيدات د محاکمو يا قضايي چارواکو له لوري په دويمه مرحله کې پلي کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د یادونې وړ ده، چې دغه خصوصیات هم په حقوقي قواعدو پورې نه دي خاص، بلکې په نورو قواعدو کې هم تر سترګو کیږي خو په دومره تفاوت سره، چې حقوقي مؤیدات خارجي ماهیت لري او د دولت یا عامه اقتداراتو د اړوند مقام له لوري ترسره کیږي؛ په داسې حال کې چې اخلاقي او نور مؤیدات باطني بڼه لري او دولت ورسره کار نه لري.

**۱- د لیکنیز والی له پلوه**

یوه حقوقی قاعد کیدلی شي په یوه دولت کې په عمومي ډول سره په لیکنیز ډول و مومو، مثلاً د ټولنې لارښود قواعد او د حقوقو اساسي پرنسیپونه، چې په اساسي قانون کې شتون لري، یا لکه په عادي قوانینو کې چې مقررات او لوایح درج دي. خو داچې په ټولو ټولنو کې باید هره حقوقي قاعده په یوه لیکنیز متن کې لیکلې بڼه ولري یا نه، دا یوه ښکاره او له شک وتلې خبره ده، ځکه په یو شمیر هیوادونو کې تر ننه پورې حقوقي قواعد په لیکنیزو متونو کې نه دي را ټولې شوې، بلکې زیاتره اجتماعي مناسبات د عرف او عاداتو له مخې تنظیمیږي، نوځکه د حقوقي قواعدو مصدر او سرچینه په کلي ډول نشي کولی دغه قاعدې له نورو حقوقي قواعدو څخه جلا کړي.

**۲- د هدف او مرام له پلوه**

یوازنی هغه صفت او ممیزه چې حقوقي قاعده له نورو قواعدو څخه جلا کولی شي، هغه د حقوقي قاعدې له مرام څخه عبارت دی، ځکه ښکاره خبره ده، چې هره قاعده که هغه هر څه وي هدف او مرام لري. یو شمیر حقوقي قواعد محافظتي هدف او مرام لري او غواړي چې شته نظم وساتي او هغو ته استقرار او مصؤنیت ور و بښي، مثلاً که حقوقي قاعده لارښوونه کوي، چې هر څوک کولی شی تر خپلې کروندې دیوال را تاو کړي، په حقیقت کې حقوقي قاعدې د شخصي ملکیت له مصؤنیت څخه چې په اصل کې په هغه ټولنه کې د یوه حقوقي اصل په توګه منل شوی دی ساتنه وکړي او له تیري څخه یې خوندي کړي او په دې توګه ټولنیز نظم رامنځ ته کړي. هرکله چې دغه خاصیتونه په نورو قواعدو کې وګورو، اصلاً له هغو سره نه مخامخ کیږو، ځکه د نورو اجتماعي قواعدو هدف که څه هم د بشري سلوک او رفتار تنظیم دی، خو نفسی او فردي بڼه لري او له اجتماعي نظم سره سراوکار نه لري. کله چې د حقوقي قواعدو هدف او مرام له نورو اجتماعي قواعدو سره پرتله کړو، دې نتیجې ته رسیږو، چې د اخلاقي قواعدو هدف او مرام د انساني شخصیت د تحکیم ( د نفس تزکیه) په واسطه کمال ته رسیدل دی او دغه راز د مذهبي یا دیني قواعدو مرام هم له اخلاقي قواعدو سره یو شان دی، یعنې دا قواعد معمولاً فردي موخه لري، چې بر عکس د حقوقي قواعدو مرام او موخه د اجتماعي نظم ساتنه او بر قراري ده.
نو لیدل کیږي چې د حقوقي قواعدو مرام چې د اجتماعي روحیې درلودونکي دی، له نورو اجتماعي قواعدو څخه د حقوقي قواعدو د تشخیص او تمیز نسبتاً یو ښه معیار دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د دویم څپرکي د مطالبو لنډیز:**

آفاقي حقوق له هغو لارښودو، عمومي او مجردو قواعدو او دساتیرو څخه عبارت دي، چې د ټولنې له خوا وضع کیږي او د دولت له لوري په زور او جبر سره په ټولنه کې د نظم، عدالت او سولې د تامین او استقرار په موخه تطبیقیږي. حقوقي قاعده باید د خپلو اهدافو د لاس ته راوړلو لپاره د لاندې صفاتو او ځانګړتیاوو درلودونکې وي، مجرده او عامه وي؛ معنی داچې حقوقي قاعده په خپل تجرید او مجزاء والی کې د کوم معین او مشخص فرد لپاره نه وي وضع شوې، بلکې د ټولو وګړو لپاره پرته له دې چې د دوي هویت، نوم، نښان، اجتماعي موقف او یانور په پام کې و نیول شي، وضع شوي وي او دساتیر یوازې حقوقي حالات او مواقف تأمینوي، په دې اساس هر کله چې کوم وګړی په دغه حقوقي موقف کې واقع کیږي، یاد شوي قواعد به له استثناء او امتیاز پرته وربانديې تطبیقیږي، او د حقوقي قاعدې د تعمیم معنی داده چې یاده شوې قاعده یو عام دستور دی چې له استثناء پرته په ټولو باندې تطبیقیږي او د ټولنې ټول افراد یو شان استفاده ترې کوي.
د اجباریت او امري والی له لحاظه د حقوقي قاعدې معنی داده چې حقوقي قاعده د انساني سلکوک په اړه کومه ساده توصیه نه ده بلکې یو ډول حقوقي امر او فرمان دی چې د دولت له لوري صادر شوی او د ټولنې ټول وګړي یې باید اطاعت او احترام وکړي.
د حقوقي قاعدې د مؤیدوالي معنی بیا داده چې حقوقي قواعد د عامه اقتداراتو لخوا څارل کیږي او د مؤیدې (جزاء) درلودونکی دي، چې د دولت لخوا تطبیقیږي، په دې اساس د هرې حقوقي مقررې د اجراء ضمانت د هغې د مؤیدوالي له مخې دی.
یوازنی هغه صفت او ممیزه چې حقوقي قاعده له نورو قواعدو څخه جلا کولی شي هغه د حقوقي قاعدې له مرام څخه عبارت دی، چې د حقوقي قواعدو هدف او مرام په مشخص ډول د ټولنیز نظم ساتل دی، مګر د نورو اجتماعي قواعدو هدف که څه هم د بشري سلوک او رفتار تنظیم دی خو نفسی او فردي بڼه لري او له اجتماعي نظم سره سراوکار نه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د دويم څپرکي پوښتنې:**

۱- د حقوقي قواعدو د تعميم او تجريد د خصوصيت معنى څه ده؟

۲- د حقوقي قواعدو د لزوميت د خاصې مفهوم څه دى؟

۳- د حقوقي قواعدو د مؤيد وال معنى څه ده؟

۴- د حقوقي قواعدو د ليکنيزوالي معنى او مفهوم څه دى؟

۵- د موخې او مرام له مخې حقوقي قواعد له نورو اجتماعي قواعدو سره څه توپير لري؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دریم څپرکی

# په حقوقي قواعدو کې منابع او مصادر

**ټولیزه موخه:**
د حقوقي قواعدو د سرچینو او مصادرو، په اسلامي هیوادونو کې د حقوقي منبع په توګه د اسلامي شریعت د ځای، د قانون او د هغه د خصوصیاتو، په قوانینو کې د مراتبو د سلسلې او تدوین د مراحلو او دغه راز په قانون او قانون جوړونه کې د عرف او عاداتو، قضایي رویې او دکتورین د ونډې او اغیز په هلکه، پوهاوی او معلومات ترلاسه کول.

**دزده کړې موخې:**

- د حقوقي قواعدو د سرچینو او مصادرو او دغه راز په اسلامي هیوادونو کې د حقوقي منبع په توګه د اسلامي شریعت د ځای په هکله عملي درک او پوهه.
- د قانون، او د هغه د خصوصیاتو او په قوانینو کې د مراتبو د سلسلې او تدوین د مرحلو په اړه عملي درک او معلومات حاصلول.
- د حقوقي منبع په توګه په قانون او قانون جوړونه کې د عرف او عاداتو، قضایي رویې او دکتورین په اړه د معلوماتو حاصلول او عملي درک.

**د حقوقي قواعدو (آفاقی حقوقو) منابع یا مصادر**

د دغه اصل له مطالعې څخه هدف د حقوقي دستور د رامنځ ته کیدو څرنګوالی دی، یعنې آیا حقوقي قواعد د یوه ارادي عمل زیږنده دی او کنه د عامه قدرت د صریح تصمیم او یا هم د عنعنوي قدرت په وسیله رامنځ ته کیږي؟
دا ډول پوښتنو ته ځواب ویل موږ دې ته اړ باسي څو هغه مصادراو منابع مطالعه کړو چې د حقوقي قواعدو په توګه د وګړو د سلوک او رفتار د لارښوونې دنده لري، دغه مسأله له پخوا

(c) ketabton.com: The Digital Library

راهیسې د حقوقپوهانو او متفکرینو د مناقشې ټکی وو، چې له همدې امله د هغوی له مختلفو نظریاتو سره مخامخ کېږو، او په بېلابېلو ځایونو او وختونو کې یې توپیر کړی دی، د مثال په توګه په پخواني روم کې عرف او عادات د حقوقو یوازنی مصدر بلل کیدا په داسې حال کې چې د روم د امپراطورۍ پر مهال دغه مصدر او منبع د امپراطور قدرت او د شاه قوانین وو.

مګر تر دې چې د فرانسې له لوی انقلاب څخه بیا تر هغه چې د هغو حقوقي اعمالو لپاره چې له عرف او قدرت څخه یې منشأ اخیسته، ۱۸۰۴ شمیره مدني کود تدوین شو، د قدرت پلویانو د حقوقي قواعدو د پارلماني قدرت لپاره مجادله وکړه، له دې امله له کومې مرجع څخه چې قانون صادریدو هماغې ته د حقوقو د یوازنۍ منبع په توګه کتل کیدل.

خو نن ورځ داسې ډېر ملتونه شته چې قانون د حقوقو د یوازنۍ منبع نه ګڼي، بلکې نور منابع هم شتون لري چې د حقوقي قواعدو په رامنځ ته کیدو کې د پوره اهمیت درلودونکي دي لکه عرف او عادات، قضایي رویه او دکتورین (د پوهانو نظریات) خو دا چې یاد شوي مصادر او منابع د حقوقي قواعدو په ایجاد، تفسیر او تکمیل کې ارزښت او اعتبار لري او کنه، بیلابیل نظریات شتون لري، یو شمیر علماء قانون ته د حقوقي قواعدو د اصلي منبع په سترګه ګوري، خو یو شمیر نور بیا عرف او عادات او رسم او رواج د حقوقو اصلي او اساسي منبع ګڼی، هغه پر قانون مقدم بولي او باور لري چې قوانین، قضایي رویه او دکتورین، د خلکو د عرف او عاداتو او د ټولنې د اړتیا لاس ته راړونه ده، په ځانګړي ډول د عامه ذهنیت چې د ټولنې په اعتقاداتو باندې ولاړ دی. خو هغه څه چې حقیقت دی او موږ یې باید د یو اصل په توګه قبول کړو هغه دادی چې د هغو منابعو تفکیک وشي کوم چې د حقوقي قواعدو په ایجاد کې ترګردو ډېر اغیز لري چې هغه عرف او عادت، عامه ذهنیت، د خلکو اعتقادات، اقتصادي احتیاجات او د ټولنیزې اړتیاوې دي چې دا ډول سرچینی او مصادر د حقوقي قواعدو اصلي او اساسي سرچینو په توګه پیژندل کیدلی شي، مګر په ورځني ژوند کې حقوقي قواعد د تطبیق لپاره لومړی په قانون باندې تکیه کوي او که قانون نه وي یا غموض او پیچلتیا ولري نو د حقوقي قواعدو د تمثیل او تفسیر لپاره عرف او عادات، قضایي رویې او دکتورین ته مراجعه کیږي.

د حقوقو د منابعو او مصادرو لپاره د پورتنیو خبرو له مطالعې څخه دې نتیجې ته رسیږو چې، د دې لپاره چې حقوقي منابع له یوې خوا د حقوقي قواعدو د ایجاد له پلوه، او له بلې خوا په ټولنه کې د تطبیق له پلوه ښه وپیژنو، نو پورتني منابع په لاندې ډول تصنیف او تقیسم بندي کوو او په څلورو فصلونو کې یې مطالعه کوو.

۱- قانون
۲- عرف او عادات
۳- قضایي رویه

(c) ketabton.com: The Digital Library

۴- دکتورین

**۱- قانون:** د قانون کلمه اساساً له یوناني (Canon) کلمې څخه اخستل شوې چې د قاعدې په معنا کارول شوې ده. خو د روم په حقوقو کې د قانون پر ځای د (Law) کلمه وکارول شوه، چې وروسته د فرانسې په حقوقي اصطلاح(Lio) کې چې د ویلو معنا لري، تفسیر شوه. یعنې لیکس او لویه له هغې حقوقي مقررې څخه عبارت ده، چې کتبي وي او ولوستلی شي. این اصطلاح معمولاً د دود او دستور په وړاندې استعمالیدله. په پخواني روم کې لکه څنګه مو چې ولوستل، عرف د یوازنۍ سرچینې په توګه پیژندل کیده، خو د دولس لوحه ییزې قاعدې پر تطبیق چې د ژیړو پر یوه ټوټه کښل شوې وه، نو له میلاده ۴۵۰ کاله وړاندې د لیکس اصطلاح یا قانون د رومیانو د حقوق په قاموس کې ننوته، لکه څنګه چې په دغه قانون کې تصریح شوي دي چې سارق باید د مسروق په ګټه تاوان وګالي. خو تر اوسه هم لا د اصل په معنا په هغه وخت کې نه استعمالیدله، تر دې چې د روم د امپراطورۍ په دوره کې دوه ډوله قانون رامنځته شو. یو د (Leges) په نوم ؤ چې د اشرافو او اعیانو د مجلس له لوري مقرارات صادریدل او بل (Plebiest) په نوم ؤ، دا د دارالعوام له هغو هوډونو څخه عبارت وو، چې د تطبیق ساحه یې یوازې پر عوامه طبقه پیژندل کیدله، حال داچې لیکس د روم په ټولو استوګنو باندې پلې کیدله. خو اوس د قانون په زیاترو ټولنو او هیوادونو کې له هغې افاقي قاعدې څخه عبارت ده؛ چې د هیواد په صلاحیت د غړي له خوا وضع کیږي او په دوامداره توګه پر ټولو باندې د تطبیق وړ ده. په بل عبارت، قانون د خلکو د ارادي له امر څخه عبارت دی.

قانون د هغه ځایګي له پلوه چې په حقوقي پوهه کې یې لري، د حقوقي قواعدو د اساسي او عمده سرچینې په توګه د عمل په ترڅ کې پیژندل کیږي او هغه چې واک او صلاحیت له کومې مرجع نه اخلي، چې د تدوین او پیدایښت په برخه کې یې ونډه هم لرلې وي، لکه ولسمشر د( توشیح او اعلان) له پلوه او پارلمان د ( تدوین او تصویب) له پلوه. نو همدا ده چې موږ خپل بحث ته د قانون په فرعي برخو کې، لومړی د قانون پر تعریف او بیا د قانون په ځانګړنو او په قوانینو کې د مراتبو پر سلسله باندې دوام ورکوو:

**a. د قانون تعریف:** قانون هغه صریح او معقول تجویز دی چې په ټولنه کې د نظم په هدف د واکمنې قوې یا دولت لخوا وضع کیږي، یعنې دغه صریح تجویز چې له عامه ذهنیت څخه راټوکیدلی وي او دولتي مقامات هغو ته یوه لیکنیزه یا تحریري بڼه ورکوي. په بل عبارت قانون هغه صریح او الزامي اوامر دی چې په مکتوبي شکل د با صلاحیته چارواکو لخوا وضع او تدوین شوی وي او موخه یې په ټولنه کې د راتلونکي ژوندانه سمون او تنظیم وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**b. د قانون خصوصيات:** قانون لاندې خصوصيات او ځانګړتياوې لري:

**الف-** قانون باید د باصلاحیته مقاماتو له لوري وضع شوی وي، دغه صفت تر ډېره شکلي اړخ لري او هدف يې دادی چې کوم مقام دغه صریح تجويز رامنځ ته کوي باید صلاحیت او واک ولري.

**ب- قانون عمومي او مجرد دی:** یعنې ټول واقع کیدونکي حالات د اشخاصو له یادون پرته په پام کې نیسي( د دغې مسئلې په اړه د لا زیاتو تفصیلاتو لپاره دې د حقوقي قواعدو د ځانګړتیاوو او خواصو بحث ته مراجعه وشي).

**ج- قانون دايمي دی:** په دې معنی چې یو قانون کله پلی او نافذ شي په دوامداره توګه تطبيقيږي او همیشه به پلی وي، مګر داچې بل قانون (لاحق قانون) د هغه د الغاء لپاره نافذ شي، چې په دې صورت کې پخوانی قانون خپل ځای نوي قانون ته پریږدي او په دې توګه له تطبيق څخه لویږي، له دې پرته قانون په شپه او ورځ، هر فصل او هر ځای کې د تطبيق وړ دی او ځانګړی وخت او موعد نه لري. مګر په ځینې حالاتو کې لکه په جګړه او بحران کې لیدل کیږي چې یو قانون له انفاذ څخه پاتې کیږي یا دا چې یو بل قانون د یوه معین وخت لپاره مثلاً د بحراني حالت د لیرې کیدو یا جګړې لپاره وضع کیږی چې البته دغه موضوعات استثنايي دي او په هیڅ وجه د قانون دایمي والي ته صدمه نه رسوي.

**د-** قانون لیکلې بڼه لري او په مؤیده باندې سمبال دستور او لارښود دی چې د دولتي چارواکو لخوا تطبيق او اجراء کیږي، د دغو دوو صفتونو تفصیل تاسو ته د حقوقي قواعدو په خواصو کې واضح شو.

یاد شوي څو ټکې د حقوقي قواعدو له نورو مصادرو او منابعو په ځانګړې توګه له عرف او عاداتو څخه د قانون د تشخیص او جلا والي لپاره خورا مهم ګڼل کیدای شي.
په پای کې د یادولو ده چې قانون د هغه په خاصه معنی سره هغه مقرره ده چې شکلي مراتب ولري، معنی داچې د با صلاحیته مراجعو لخوا صادره شوې وي، ولسمشر توشیح کړې وي او بالآخره په رسمي جریده کې خپره شوې وي.
دغه راز پورته ذکر شوي متني صفات لکه مجرديت او تعمیم، اجباریت او مؤیدوالی او په همدې توګه مداومت او لیکنیز والی هم د قانون لپاره ضروري بلل کیږي.

**c. په قوانینو کې د مراتبو سلسله:** لکه په تیرو درسونو کې مو چې ولوستل قانون د حقوقي قواعدو د هغو مصادرو او منابعو په سر کې ځای لري حقوقي قواعد رامنځ ته کوي، خو که په دقت سره وکتل شي بیا هم د قوانینو په منځ کې د هغوی د اهمیت او ارزښت له نظره د مراتبو سلسله او درجې تر سترګو کیږي، له همدې امله ده چې قوانین لاندې درجو ته ویشو. الف- اساسی قانون ب- عادی قوانین ج- مقررې د- لوایح **هـ** - طرز العملونه او متحد المال.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**الف- اساسي قانون:**

لکه چې د اساسي قانون له نومونې څخه معلومېږي اساسي قانون هغه عامه او عالي مقرره ده چې د يوې ټولنې د لارښودو قواعدو په سر کې ځای لري، د عمومي او کلي پرنسيپونو په بڼه ليکل شوې ده او موخه يې د دولت او د هغه د متشکله اعضاوو د عمومي چارو تنظيم او بالآخره د حقوقو، آزاديو او خلکو د وجايبو تثبيت دی، ځکه اساسي قانون هغه تدوين شوې ټولګه ده چې د يوه دولت د ژوندانه د تنظيم لپاره وضع شوې او نور قوانين له هغې څخه الهام او سرچينه اخلي. له همدې کبله ده چې اساسي قانون د هرم په سر کې ځای لري چې دغه لوړوالي او تفوق يې د هغې مرجع (عنعنوي لويې جرګې/پارلمان) له برکته دی کوم چې د هر ډول احترام او امتياز وړ دي او د ولس د ارادې ممثلين او استازي پکې راټولېږي.

په يو شمير ټولنو کې اساسي قوانين د مؤسسينو د مجلس په واسطه رامنځ ته کيږي خو په يو شمير نورو حالاتو کې ټولپوښتنې او رفرانډوم ته وړاندې کيږي، له دې امله د اساسي قانون هر ډول تغيير او تبديل په آسانۍ سره نشي کيدلی، په لنډه توګه ويلای شو چې اساسي قانون هغه حقوقي مقرره ده چې له يوه لوري يې د عالي قدرت او د احترام وړ مرجع څخه سرچينه اخيستې او له بل لوري دغه عالي دستور او لارښود هغو عمومي او کلي قواعدو ته شامل دی چې وروسته د نورو قوانينو په وسيله تکميل شوی او د ټولنې اقتصادي، اجتماعي او سياسي ژوند تنظيموي، په دې اساس لازمه ده چې هغه ته په زيات ارزښت او اهميت قائل شو او د اجراء لپاره يې شديد مؤيدات قبول کړو.

**ب- عادي قوانين:**

عادي قوانين په واقعيت کې هغه ارشادات او احکام دی چې له اساسي قانون څخه يې الهام اخيستی دی، په دې اساس عادي قوانين هغو قوانينو ته شامل دي چې په اساسي قانون کې د مندرجو مقرراتو او پرنسيپونو د توضيح، تشريح، تکميل او تفسير لپاره وضع او تدوين کيږي.
د مثال په توګه په اساسي قانون کې ويل شوي چې پارلماني انتخابات د انتخاباتو له قانون سره سم په عمومي، سري او مستقيم ډول ترسره کيږي. په دغه دستور کې په ښه توګه واضح کيږي چې اساسي قانون يوازې د انتخاباتو اساسي او اصلي پرنسيپونه چې له عموميت، پټوالي او مستقيم والي څخه عبارت دي وضع کړي دي په داسې حال کې چې تر انتخاباتو پورې نور اړوند مسائل مثلاً د رأيې ورکولو د حوزو تعيين، د انتخابولو او انتخابيدلو شرايط او نور... يې بل قانون ته چې د انتخاباتو قانون بلل کيږي حواله کړي دي، نو له دې کبله ده چې د انتخاباتو قانون د اساسي قانون په پرتله د عادي يا فرعي قانون حيثيت لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په همدې توګه ټول عادي قوانين د اساسي قانون د ارشاداتو او لارښوونو په اتکاء باندې، که هغو ته په مستقيم او صريح ډول مراجعه شوې وي يا نه، د دا ډول قوانينو له لارې تنظيمېږي او د عادي قوانينو په نامه سره يادېږي چې موخه يې په يوه خاصه ساحه کې د اجتماعي ژوند د لارښوونې لپاره د يوه کلي پرنسيپ تفسير او تکميل دی. په داسې حال کې چې اساسي قوانين د ټولنې په ټولو برخو کې د ګردو اساسي دساتيرو محتوا تشکيلوي.
د يادولو او په زړه پورې ټکی دادی چې آيا عادي قوانين کيدلی شي د اساسي قانون د صريح متن خلاف حرکت وکړي؟

د سوال ځواب له شک پرته چې منفي دی، يعنې عادي قوانين هيڅ وخت نشي کولی د اساسي قانون خلاف حرکت وکړي، خو هغه پوښتنه چې په ذهن کې ګرځي راګرځي هغه داده چې که چيرې داسې څه پيښ شي نو د عادي قانون سرنوشت به څه وي او هغه کوم مقامات دي چې دا ډول موضوعات څيړي او له اساسي قانون سره د عادي قوانينو د مطابقت دنده لري؟

د لومړۍ پوښتنې په اړه بيا هم لنډ ځواب دادی چې ياد شوی قانون له انفاذ څخه پاتې کيږي او باطل ګڼل کيږي خو دا چې داغه تصاميم د کومو مقاماتو له لوري صاديريږي، په دې برخه کې بيلې بيلې لارې وجود لري چې په اروپايي هيوادونو کې دا د هغه سازمان دنده ده چې د اساسي قانون د شورا په نامه سره يادېږي. د يادونې وړ ده چې عادي قوانين وضع او انفاذ د اساسي قوانينو په خلاف د خاصو تشريفاتو په ترڅ کې نه ترسره کيږي، بلکې په عمومي ډول د اساسي قانون په چوکاټ کې په عادي ډول وضع کيږي، هغه ارګان چې د عادي قوانينو د وضع کولو دنده په غاړه لري معمولاً پارلمان يا مقننه قوه ده، چې البته د پارلمان لخوا وضع کيدونکی قانون د ولسمشر له توشيح څخه نشر او د اعتبار وړ ګرځي، خو په يو شمير مواردو کې حکومت د يو شمير ځانګړو او بيړنيو پروګرامونو د پرمخ بيولو لپاره له پارلمان څخه صلاحيت اخلي څو عادي قوانين وضع کړي چې په دې حالت کې په معمولي توګه په هماغه خاصه او بيړنۍ ساحه کې د دولت رئيس تقنيني فرمانونه وضع کوي، مګر په دغو دواړو مواردو کې په هماغه وخت کې چې پارلمان ټاکلی دی پارلمان ته د تصويب لپاره واستول شي چې د پارلمان لخوا د رد يا په هماغه ټاکلي وخت کې پارلمان ته د نه استول کيدو په صورت کې خپل اعتبار له لاسه ورکوي او له اعتبار څخه ساقطيږي.

**ج- مقررې:**

لکه اساسي قانون چې نشي کولای په خپلو احکامو کې د ټول موضوعاتو، مسائلو او پروګرامونو وړاندوينه وکړي بلکې د موضوعاتو د حل لپاره يو عمومي چوکاټ تعيينوي، چې د مختلفو وړو او لويو موضوعاتو او مسايلو د حل لپاره عادي قوانين وضع کيږي، دغه راز عادي قوانين هم دي او نشي کولای د ټولو هغو موضوعاتو، مسايلو ستونزو او مشکلاتو وړاندوينه وکړي، پر دې بنسټ د عادي د قوانينو په چوکاټ کې مقررې وضع کيږي چې د دا ډول مقررو د وضع کولو صلاحيت تر مقننې قوې پورې نه بلکې د وزيرانو تر شورا پورې متعلق دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د- لوايح:**

په همدې توګه امکان لري چې يوه موضوع په مقررو کې هم نه وي پيش بيني شوې نو د دغې موضوع د حل لپاره لازمه ده چې د عادي قوانينو او مقررو په چوکاټ کې لوايح وضع او نافذ وګرځول شي، د لوايحو د وضع کولو صلاحيت هر وزارت او خپلواکه اداره لري، يعنې کله چې د يوې اداره يا وزارت د مشرتابه لخوا دغه لايحه لاسليک شي د اعتبار وړ بلل کيږي.

**ح- طرز العملونه او متحدالمالونه:**

بايد ووايو چې د عادي قوانينو، مقررو او لوايحو په چوکاټ کې هره مؤسسه صلاحيت لري څو طرزالعملونه وضع کړي او متحدالمال موضوعات صادر کړي خو په يو شمير حالاتو د دې تقاضاء کوي چې د وزارت د مقام لخوا تصويب شي، په دې ترتيب په لنډه توګه ويلای شو چې د مراتبو د سلسلې او د رجحان او منزلت له پلوه اساسي قانون تر ګردو لوړ ځای لري چې ورپسې په ترتيب سره عادي قوانين، مقررې، لوايح طرزالعملونه او متحدالمال دي.

د قانون الزامي قوه (ځواک):

لکه په مخکنيو درسونو کې مو چې ولوستل، قانون د اجتماعي، اقتصادي سياسي او ... ژوند د تنظيم او سمون لپاره يو امر او قومانده ده، چې له وګړو څخه د احترام او اطاعت غوښتنه کوي، خو له دې کبله چې د قانون د تطبيق ساحه، موخه او هدف سره متفاوت دي په دې اساس داسې تر سترګو کيږي چې ټول قوانين د اجبار او لزوم يو ډول درجه نه لري بلکې قوانين د هغو مؤيداتو، د اهميت درجې او جديت ته په پام سره تصنيف او طبقه بندي کيدلی شي، د بيلګې په توګه که د هدف او ټولنيز موقف له مخې د يوه قانون اهميت ډير مهم او جدي وګڼل شي، طبيعي ده چې د تخلف په صورت کې به يې مؤيده هم ډيره سخته وي، خوکه يو قانون د عامه نظم او په اجتماعي ژوندانه باندې د اغيز له نظره محدود وي، طبيعي ده چې مؤيده به يې هم خفيفه وي. نو په ښه توګه واضح کيږي چې قوانين د هغو د اهميت، او هغو د مؤيداتو يا الزامی قوت او ځواک د شدت اوضعف له پلوه څلورو برخو ته ويشل کيږي.

۱- د عامه نظام قوانين.
۲- د ساده چارې (امر) قوانين.
۳- د هغو چارو قوانين چې له عامه نظم سره هيڅ رابطه نه لري.
۴- اختياري يا غير لازمي قوانين.

۱- **د عامه نظام قوانين:** د دغو قوانينو موخه د عامه نظم ساتنه، د امنيت له ګډوډۍ څخه مخنيوی او د يوې ټولنې د ژوندانه سوکالي دي، د دا ډول دساتيرو لپاره پيش بيني شوې جزاء،

(c) ketabton.com: The Digital Library

مطلق بطلان دی چې د ځارنوالانو او قاضیانو په ګډون د ټولنې ټول افرادو د دغه بطلان تقاضاء کولی شي.

۲- د ساده چارې قوانین: د دغو قوانینو هدف د ځینو افرادو محافظت او د هغوی هغو معاملاتو ته تعادل وربښل دي چې له عامه نظم سره نیغه اړیکه لري او مؤیده یې هغه مطلق بطلان دی چې یوازې د علاقې وړ افرادو لخوا یې تقاضاء کیږي، مثلاً د ګروی یا رهن په معامله کې په داسې ډول د شرعي وثیقې په توګه د مدني قانون تقاضاء چې له هغې پرته د رهن معامله د اعتبار وړ نه وي.

۳- د هغې چارې قوانین چې له عامه نظم سره هیڅ رابطه نه لري: دغه قوانین د معامله د لوریو د منافعو حمایت کوي او مؤیده یې نسبي بطلان دی چې یوازې د معاملو د ښکیلو لوریو لخوا یې تقاضاء کیدلی شي، مثلاً په غیر منقولو اموالو کې له دریم ګړي یا وسیله شخص څخه پرته د عدیم الاهلیت معامله.

۴- غیر امري یا اختیاري قوانین: دا هغه قوانین دي چې مقنن غوښتي د یو شي لپاره څو داسې لارې وټاکي چې وګړي یې په غوراوي کې اختیار ولري، د مثال په توګه له ازدواج وروسته د فرانسوي قانون جوړونکي په واسطه د څو مالي رژیمونو (لکه مشترک رژیم، د ادارې منفصل رژیم او له واده وروسته مالی رژیم) وړاندیز.

**د قانون د تطبیق ساحه:**

د قانون مراعاتول یو له مهمو مسائلو او په عین حال کې له پیچلیو حقوقي مباحثو څخه دی چې دغه راز لاندې دوو سوالونو ته ځواب وایي.

اول داچې د مکان له پلوه د قانون د تطبیق ساحه کومه ده، او دوهم دا چې د زمان له پلوه د قانون د تطبیق ساحه، چې په حقیقت کې د زمان له لحاظه د قوانینو د تنازع او ټکر ښکارندویي کوي په څه ډول حل او فصل کیږي؟

په اوله موضوع کې د زیاتو خبرو او توضیحاتو اړتیا نه لیدل کیږي ځکه مسأله دومره ستونزمنه نه ده او واضحه ده چې په حقوقو کې د قانون د تطبیق له نظره عمومي پرنسیپ چې د ملي حاکمیت له اصل څخه سرچینه اخلي دادی چې: هرکله یو قانون په یوه هیواد کې د ننه پلی او مرعی الأجرا وګرځي، نو دغه قانون د هغه هیواد په ټولو افرادو او هغو پیښو (وقایعو) باندې د تطبیق وړ دی چې قانون یې یادونه کړې ده. یعنې ټول وګړي چې په هره څنډه او برخه کې اوسیږي که څه هم د هغه هیواد تابعیت ونه لري دغه قانون پرې تطبیقیږي او مجبور دي چې د هغه هیواد عمومي نظم او حقوقي قواعد مراعات کړي. له پورتني عبارت څخه په ښه توګه فهمیږي چې د قانون د تطبیق ساحه د سرحداتو او نفوس له ساحې څخه عبارت ده پرته له دې چې دغه سرحدات اصلي وي یا اشغالي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوهمه مسأله یعنې د زمان له نظره د قانون د تطبیق موضوع، تر یوه حده مشکله او پیچلې مسأله ده چې د دقیق او مزید بحث غوښتنه کوي.

د زمان له لحاظه د قوانینو د تنازع معنی دا ده چې یو قانون له کومه وخته پلی کیږي او تر کومه وخته دوام کوي، د مسئلې اشکال او د قوانینو تنازع، هغه مهال رامنځ ته کیږي چې دوه قوانین د ماهیت له پلوه په تضاد او ټکر کې واقع شي، او دا هغه وخت دی چې یو تازه حقوقي عمل او قانوني موقف د پخواني قانون په لارښوونه ثبت شوی وي او تر اجراء او دوران لاندې وي چې نوی قانون نافذ او پلی شي، په دې صورت کې یوه معضله رامنځ ته کیږي چې د قانون تطبیقوونکی له مشکل سره مخامخ کیږي او له ځانه پوښتنه کوي چې د کوم یوه قانون، پخواني قانون او که نه د نوي قانون لارښوونې په قضیه کې تطبیق کړي.

دلته د علماؤو نظریات مختلف دي، که څه هم منطقاً داسې فهمیږي چې د قانون اثرات باید له انفاذ وروسته څرګند شي، له ماضي (تیر زمان) سره علاقه و نه لري او د ټولنې ژوند د راتلونکې لپاره رهنمایي کړي، خو لکه چې په عمل کې لیدل کیږي دغه موضوع په آسانه نه ده حل شوې بلکې ګڼې ستونزې یې را ولاړې کړې دي، مګر موږ مخکې له دې چې دغه مسائل حل او فصل کړو باید ووایو چې د انفاذ د تاریخ له نظره بیا هم یو شمیر ټکي د یادولو وړ دي، البته دغه مسأله ممکن واضحه وي چې قانون له توشیح وروسته په رسمي جریده کې له نشر او اعلان سره سم مرعي الأجراء ګرځي او تر کومه یې چې بل قانون لغو نه کړي نافذ او مرعی الأجراء پاتې کیږي، خو کله کله داسې هم کیږي چې مقنن خپله د قانون د انفاذ لپاره وخت تعیینوي.

مثلاً ووایي چې دغه قانون د ۱۳۷۴ کال د ثور له ۲۵مې نیټې څخه په ټولو باندې د اجراء وړ او نافذ دي، دغه قوانین مطلق نه دي بلکې په یو شمیر هغو کې یې ځینې استثنائات تر سترګو کیږي، د مثال په توګه په بیړنیو او خطرناکه حالاتو کې حکومت کولای شي چې د قانون له وضعه کولو ورسته د تیلفون، رادیو، تلګراف او نورو اطلاعاتي وسائلو څخه په استفادې سره ټولو ولایتونو ته خبر ورکړي او خپله یې په عامه ځایونو لکه جوماتونو، پارکونو او داسې نورو ځایونو کې ځوړند او اعلان کړي چې له هغې وروسته په یوه ورځ کې د اجراء وړ ګرځي.

له بله پلوه په یو لړ مواردو کې په آني او بیړني ډول د قانون تطبیق ستونزې را ولاړولی شی، نو د دې لپاره چې د یاد شوي قانون د تطبیق لپاره لاره هواره شوې وي، مقنن یا حکومت باید د قانون د انفاذ تاریخ وروسته کړي څو په دې توګه د قانون د تطبیق پیلنامی برابرې او تهیه شي، د بیلګې په توګه ووایي چې دغه قانون یو کال وروسته له دغه تاریخ څخه د انفاذ وړ دی.

لکه په مخکنیو کرښو کې مو چې اشاره ورته وکړه، د زمان له نظره د قانون د مراعاتولو موضوع د حقوقي مباحثو یو ډیر مشکل مبحث دی، فرض کړئ چې یو عقد پر پخواني قانون کاملاً برابر منعقد شوی دی، آیا منطقي خبره به وي چې نوی قانون په هغه عقد باندې تطبیق کړای شي او له نوي قانون څخه رامنځ ته شوي حقوقي آثار پرې بناء شي، او آیا و به کولای شو چې د نوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

قانون له انفاذ سره سم هغه عقد فسخ یا تعدیل کړو او په ځای یې د نوي قانون ارشادات چې د عقد طرفین له سره ترې خبر نه دي نافذ او داجراء وړ وګرځوو کنه؟
نو که داسې وشی دغه کار به د تیرو ټولو معاملاتو، کړنو او پیښو امنیت او مصؤنیت ته زیان و نه رسوي؟
او که داسې و نه شي نو د اجراء وړ قوانینو هغه اعتبار او اعتماد به چې لري یې تر پښو لاندې نه شي او د هغو د اطاعت په برخه کې به بې اعتنائي نه وي شوې؟ د دغه سوال ځواب مثبت دي.
خو د دې په خلاف که قانون ته رجعي اثر ور نه کړو او (ماقبل ته د قانون د نه رجعت او له راتلونکي سره د قانون د لیوالتیا) له پرنسیپ څخه استفاده وکړو واضحه ده چې په ټولنه کې مو عقودو او معاملاتو دوه ډوله موقفونه رامنځ ته کړي دي چې دا کار خپله د قانون په وړاندې د نه برابرۍ او عدالت په معنی دی او په ټولنه کې به نا خوښي رامنځ ته کړي، نو د دغه معضلې د حل لپاره حقوقپوهان او قاضیان د یوې لارې د موندلو هڅه کړې ده چې دلته په لنډه توګه اشاره ورته کووه.

- د دکتورین حل لاره: علماؤو د دوو دلائلو په اساس د جمع رسالت (رسالت جمع) ماقبل ته د نوي قانون د نه رجعت د پرنسیپ په توګه یو غوره پرنسیپ بللی دی، اول داچې نوی قانون یقیناً له پخواني هغه څخه ښه عدالت تأمینولی شي ځکه که داسې نه وي نو بیا د قانون وضع کول هیڅ لازم نه دي او دوهم داچې د حقوقو په ساحه کې توحید رامنځ ته شي، ځکه دوی په دې باور دی چې قانون او حقوقي قاعده ټولنه (جمعیت) او د هغو ګټې حمایه کوي.

- د پخوانیو قاضیانو د رویې حل لاره: پخوانی علماء او قاضیان ټول په دې باوري وو چې مکتسبه (لاس ته راوړل شوی) حق د پخواني قانون، او هغه حق چې د لاس ته راوړلو ټمه یې کیږي د نوي قانون په اساس تنظیمیږي.
- د نویو علماؤو حل لاره او د نویو قاضیانو رویه: نویو علماؤو او قاضیانو هغه کلاسیکه نظریه چې پر مکتسبه حق او حق ته په امید باندې ولاړه ده، نا کافي او غیر عملي بللې ده، د دوی په عقیده د هغو حقوقي اعمالو په برخه کې چې له نوي قانون څخه وروسته رامنځ ته شوي دي کوم مشکل نشته، خو د هغو حقوقي اعمالو او حوادثو په برخه کې چې د نوي قانون له انفاذ مخکې رامنځ ته شوي دي، د عدالت او انصاف روحیې ته په پام، او د فردي حریت او آزادۍ (د استقلال) اصل ته په احترام سره، کله چې په نوي قانون کې د حق د لاس ته راوړلو شرائط تغییر ونه کړي یا د پخواني قانون په اساس ځیني اعمالو د حق د اکتساب شرائط نه وي پوره کړي نو نوي قانون نه تطبیقیږی او که داسې نه وي نه پرې تطبیقیږي. دغه راز د عامه نظام قوانین، تفسیري قوانین او القایي قوانین ماقبل ته رجعت کولی شی او هغه جزائي قضیې چې پریکړې یې نه وي قطعي شوې د هغه قانون په اساس حل او فصل کیږي چې د مجرم لپاره ګټور وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د قانون تفسیر:**

تفسیر په لغت کې د توضیح کولو او په یوه موضوع کې د ابهاماتو (ګونګتیاوو) روښانه کولو ته وایي، په دې اساس د قانون تفسیر یوه داسې اصطلاح ده چې د حقوقو په علم کې د ډیر اهمیت وړ ده او د کارونې متعدد موارد لري، چې هغه په ځینې حالاتو کې په قانون کې د هغو مجهولو ټکو، مفاهیمو او مبهمو کلماتو له روښانه کولو څخه عبارت دي کوم چې تطبیقوونکی مقام له دې اړخه له ستونزې سره مخ وي، او په دې توګه د ستونزمنو قضایاوو د حل او فصل لپاره ګټه ترې اخلي.

تطبیقوونکي مقامات په دې برخه کې بیلابیلې لارې چارې په واک کې لري چې په عمومي توګه دوو برخو ته ویشل کیږي، یوه د متني یا لفظي (exegeses) تفسیر لاره ده او بله د آزادو علمي څیړنو لاره، چې دلته یې په مختصره توګه مطالعه کوو.

د متني یا لفظي تفسیر له لارې د قانون تفسیر، د قانون متن ته په احترام او اعتبار ورکولو باندې ولاړ دی، یعنې مفسر تر ټولو وړاندې د قانون پر متن تکیه کوي، په قانون کې درج شوي، الفاظ، کلمات، جملې او مفاهیم تحلیل او تجزیه کوي او له ګرامري پلوه د الفاظو او کلماتو منطقي تړاو څیړي، او له دې لارې هڅه کوي چې د مقنن اصلي موخه تر ګوتو کړي، پورتنیو خبرو ته که ځیر شو نو دوه حالته له یوه او بل څخه جلا کولی شو، یو دا حالت دی چې د قانون متن موجود دي مګر ناقص او پیچلی دی، خو په دوهم حالت کې د قانون متن اصلاً شتون نه لري بلکې د قانون د نه موجودیت خلاء باید ډکه شي او له هغو سره سم قضیه حل او فصل شي.

مفسر د مقنن د اصلي هدف د کشف لپاره له لاندې لارو او وسائلو څخه استفاده کوي او د قانون ستونزه حل کوي:

- د مقنن مخکنیو کارونو ته مراجعه
- مشابه او ورته پیښو ته مراجعه
- د قانون په تدوین کې د مقنن عمومي طرزتفکر او ذهنیت ته مراجعه
- د قانون د نص د تضاد او تخلف په مفهوم سره استدلال
- په اولی طریقه سره د رجحان په مفهوم، او دغه راز د قوي دلیل په مفهوم سره استدلال
- په یوه مشابه او ورته حالت باندې د بل حالت قیاس او تطبیق

د آزادو علمي پلټنو او څیړنو له لارې د قانون د تفسیر، د تګلارې منظور دادی چې قانون زیاتره وخت خلاء او ګونګتیا لري، لامل یې دا دی چې مقنن هیڅکله نه دی توانیدلی څو د قانون د تطبیقي او عملی ستونزو وړاندوینه وکړي او لازم تدابیر ونیسي، ځکه ټول راتلونکي حالات او معضلات مجهول وي او دا نا شونې ده چې په قانون کې د ټولو اړخونو وړاندوینه وشي، نو دا کار خپله په قانون کې د خلاء او نقص لامل کیږي او د قانون د تفسیر غوښتنه کوي، په دې اساس

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه تفسیر چې په قانون کې رامنځته کیږي باید د نوي او متمدن عصر له اړتیاوو او احتیاجاتو سره مطابقت ولري.

د یاد شوې هدف د لاست ته راوړلو لپاره د آزادو علمي پلټنو او څیړنو له لارې د قانون تفسیر یوازنۍ هغه لاره ده چې د روڼې له اړتیا او احتیاجاتو سره سم قانون تفسیر کیږی، او داسې باید و انګیرل شي چې که مقنن نن شتون درلودلی څه به یې ویلي وای او په دې برخه کې به یې څه ډول مقرره وضع کړې وای، نو د دې لپاره چې دغه هدف ترلاسه شي یوازنۍ حل لاره د آزادو علمي پلټنو او څیړنو له لارې د قانون تفسیر ته اجازه ورکول دی.

پر دې بنسټ آزاد علمي تفسیر له هغه تفسیر څخه عبارت دی چې قاضي د قانون تر الفاظو، عباراتو، او کلماتو پورې تړلي او محدود نه وي، بلکې د آزادو علمي تتبعاتو او پلټنو په اساس موضوع تفسیر کړي.

باید زیاته شي چې د تفسیر د مراجعو له پلوه د قانون تفسیر په لاندې دري ډوله دی:

۱- تقنینی یا قانونی تفسیر چې د تفسیري قانون په واسطه د مقنن ګونګتیاوې تفسیروي.

۲- قضایی تفسیر چې د قاضیانو او محاکمو په واسطه قانون د تطبیق پر مهال تفسیر کیږي.

۳- شخصي تفسیر چې د حقوقپوهانو او علماؤو په واسطه ترسره کیږي.

**عرف او عادات:**

عرف او عادات د یوې حقوقي منبع په توګه دوه اړخه لري چې یو یې مادي او بل معنوی (روحي) دی، په دې معنی چې عرف اوعادات په واقعیت کې د زیاتره خلکو هغه طرزالعملونه دي چې په پوره باور او اعتقاد، له هغو څخه پیروي کوي، په دغه عنصر کې روحي او مادي دواړه اړخونه تر سترګو کیږي او هغه په دې معنی چې عرف له یوه لوري د ټولنې د وګړو د هغو کړو وړو، سلوک، طرزالعمل او نورو بیانوونکی دی چې د یو لړ حقوقي مسائلو په مقابل کې یې ښیي، چې دا ټول د عرف او عاداتو د مادي عنصر ښودنه کوي.

بل یې معنوي یا روحي عنصر دی چې دا د هغه څه په اړه د خلکو ایمان او باور دی چې وایي یې او عمل پرې کوي، په دې اساس هغه وخت موږ د رفتار او کردار یوه طرزالعمل ته عرف ویلی شو چې یاد شوي دوه عناصر پکې تر سترګو شي، یعنې له یوه لوري طرزالعمل باید عام او ملي وي او له بل لوري په عنعنه باندې د خلک باور او اعتقاد دی، په داسې توګه چې هغه الزامي او واجب الاحترام بولي.

یادو شویو ټکو ته په پام سره دوه ډوله عرف او تعامل د حقوقو د منبع په توګه له یوه او بل څخه جلا کولی شو، یو د زیاتره خلکو هغه طرزالعمل چې په کلکه عقیده له هغو څخه پیروي کوي او د ټولنو تر ټولو وګړو پورې اړه ولري، دغه عرف ته له خلکو او ټولنې څخه سرچینه اخیستونکی عرف او عادت وایو، د مثال په توګه د شیانو د رانیولو لپاره د بیعانې ورکول یا د

(c) ketabton.com: The Digital Library

میرمنې لخوا د خاوند د تخلص کارول او نور هغه رواجونه او عادتونه چې د یوې خاصې طبقې چې علماء بلل کیږي له رفتار او کردار څخه سرچینه اخلی او په تدریج سره عمومیت پیدا کوي او د حقوقي قواعدو برخه ګرځي، موږ دا ډول عرف اوعادات د هغه عرف په نامه یادوو چې علمي منشاء لري، او د متلونو یا نورو شیانو په څیر د حقوقو د عمومي اساساتو او پرنسیپونو په بڼه راڅرګندیږي.

د بیلګې په توګه دغه حقوقي متل چې «د ماشوم پلار هغه څوک دی چې د هغه له مور سره یې واده کړی وي»، د حقوقي پرنسیپ مثال «له قانون څخه بې خبري عذر نه ګڼل کیږي».
د عرف اوعاداتو الزامي قوت له قانون څخه راپیدا شوی دی، په دې معنی چې عرف اوعادات خپل الزامیت د قانون په واسطه ترلاسه کوي. قانون ځینې موضوعات په صریح،او ځینې نور په ضمني ډول د حل او فصل په موخه عرف اوعاداتو ته حواله کوي.

**قضايي رویه:**

قضایی رویه په پراخه او عامه معنی سره د محاکمو له لوري له ټولو هغو تصامیمو او پریکړو څخه عبارت ده، چې د هغو قضایاوو او منازعاتو د حل او فصل لپاره ترسره شوې وي، کومې چې د دعوی سبب ګرځیدلی دي، مګر په خاصه او تخنیکي معنی سره قضایي رویه هغه تګلارې دي، چې د مشابه او ورته حقوقي قضایاوو او معضلو د حل او فصل لپاره په محاکمو کې له هغو څخه پیروي کیږي او یوه واحده فیصله ورباندې صادروي.

د بیلګې په ډول، کله چې د یوه وار لپاره ثابته شوې وي چې موټر چلوونکی به په کومو حالاتو کې د خسارې د جبران مسؤل وي، په وروستیو مشابه او ورته قضایاوو کې له هماغه تثبیت شویو معیارونو څخه په محاکمو کې استفاده شوې وي او په دې توګه د ترافیکي پیښو د حل او فصل لپاره په دوامداره توګه د موټر چلوونکي د مسؤلیت د ارزونې او د حکم صدور لپاره استفاده ترې وشي، نو په دې توګه په قضایي پریکړو کې یووالی رامنځ ته کیږي، چې د تګلارو دغه ورته والي او یووالی ته دغه تګلارې له حقوقي پلوه د قضایي رویې په خاص مفهوم سره یادیږي، خو هغه سوال چې دلته مطرح کیږي هغه دادی چې قضایي رویه په څه ډول د حقوقو د یوې فرعي منبع په توګه رامنځ ته کیږي او په دې برخه کې د مختلفو محاکمو نقش او ونډه په څه ډول ده.
د قضایي رویې تشکیل د محاکمو د طرزالعملونو په دریو عناصرو ولاړ دی.

الف ـ د هرې پریکړې او حکم په صادریدوکې باید د هغو علتونو په اثبات سره اتکاء او استناد شوی وي چې قانون قبول کړي وي او د هغو په موجودیت او لزوم سره یې اعتراف کړی وي.

ب ـ د محکمې د خپلې پریکړې یا نورو محاکمو د پریکړو د پرنسیپ په اساس، د محاکمو په حکمونو یا پریکړو کې تکرار او استمرار یو ډول ضمني احترام رامنځ ته کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ج ـ د محاکمو په منځ کې د مراتبو سلسله او لوړو محاکمو ته د اعتراض او فیصلو مراجعه یو منل شوی امر دی او د ښکتنیو محاکمو له پریکړو څخه پیروي الزامي نه ده، بلکې د روحي او معنوي عنصر له مخې د ښکتنیو محاکمو له لوري دغه الزام د قبول وړ ګرځي، چې په نتیجه کې د قضایي رویې د تشکیل او رامنځ ته کیدو سبب ګرځي. قضایي رویه هغه ډول قدرت لکه قانون یې چې درلودونکی دی او په مجرد انفاذ سره لازمي وګرځي، نه لري، بلکې دغه پیروي یو ډول معنوي احترام او داسې اختیار دی، چې محاکم یوه او بل ته پرې قایل دي، په ځانګړي ډول دغه احترام د سترې محکمې (تمیز) په وړاندې تر ټولو زیات دی.

له همدې کبله ده چې قضایي رویه د الزامیت محدود قوت لري، د اجراء دغه الزام او ضمانت یې په خاصه توګه د هغو قضیو په وړاندې دی، چې هغه یې حل او فصل کړې دي، نه نورې قضایاوې که څه هم چې سره ورته وي.

**د محاکمو د تشکیلاتو په اړه لنډه تشریح:**

لکه چې پوهیږو د نړۍ په زیاترو ملتونو کې محاکم دریو درجو ته ویشل شوي دي.

ابتدائیه یا ښاري محکمه، مرافعه یا استیناف محکمه او ستره محکمه یا تمیز، په دې ترتیب سره چې په ښکته برخه کې ابتدائیه او مرافعه شتون لري او په سر کې یې ستره محکمه یا تمیز ده. په دې اساس هرکله چې قضیه ابتدائیه محکمې ته ورسیږي، خو د قضیې طرفین قناعت ورباندې ونه کړي، نا راض یا معترض شخص کولی شي تر هغې لوړې یا مرافعې محکمې ته مراجعه وکړي او د قضیې د مجدد حل او فصل غوښتنه وکړي، په دغو دوو محکمو کې قضیه له پیله تر پایه د واقعې د حدوث  او مسؤل شخص د پیژندګلوۍ له نظره څیړل کیږي، یعنې قضیه د فعلیت له نظره تکمیلیږي، خو که یو د طرفینو بیا هم د مرافعې په حکم قناعت ونه کړي په دې صورت کې سترې محکمې یا تمیز ته مراجعه کیږي.

د طرزالعمل له مخې ستره محکمه له ښکتنیو دوو محکمو سره توپیر لري، په دې معنی چې په دغه محکمه کې قضیه له پیله تر پایه د فعلیت له مخې نه څیړل کیږي، بلکې دغه محکمه یوازې دا ګوري چې آیا ښکتنیو محکمو په خپلو پریکړو کې له قانون څخه پیروي کړې او کنه؟ ګواکې دغه محکمه، قضه د قانونیت له نظره څیړي که چیرې د مرافعې محکمې فیصله له قانون سره برابره ووینې، د هغو د هغې حکم تائیدوي او قضیه په دې توګه خپل درې ګونې پړاوونه تر سره کوي او قطعي حل او فصل ته رسیږي، له دې سره سم حکم د تنفیذ په موخه اجرائیوي او امنیتي چارواکو ته د تطبیق لپاره سپارل کیږي.

خو که د ښکتنۍ محکمې حکم له قانون سره موافق و نه مومي، د هغو د نقض حکم صادروي او قضیه د دویم ځل لپاره کومې بلې (مماثلې) مرافعې محکمې ته راجع کوي، څو قضیه د فعلیت

(c) ketabton.com: The Digital Library

له اړخه وڅيړي او له قانون سره سم حکم صادر کړي، په دغه ځای کې بيا هم دوه احتماله موجود دي، لومړی دا چې مماثله مرافعه محکمه د قانون له روحيې سره سم حکم صادروي، که په دې حکم باندې د قضيې طرفين قناعت وکړي، فيصله په خپله قطعي ګرځي، خو که بیاهم پرې اعتراض موجود وي، نو د بيا څيړنې لپاره د سترې محکمې اړوند ديوان ته ارجاع کيږي، په دغه مرحله کې ستره محکمه د خپلو ټولو غړو په ګډون سره غونډه جوړوي او د مماثلې مرافعې محکمې د حکم د قانونيت يا عدم قانونيت په اړه تصميم نيسي.

**دکتورين يا د علماؤو نظريات:**

**تعريف:** دکتورين د حقوقو د علماؤو او پوهانو له ټولو هغو نظرياتو، آراؤ او افکارو څخه عبارت دي، چې د تاليفاتو، مقالو او رسالو په بڼه وړاندې کيږي، دغه نظريات او آراء د قانون د پروژو د وړانديز په توګه هم ترسره کيږي. يعنې د حقوقوعلماء او پوهان په يوه ساحه کې د اړتياوو د پوره کولو او معضلو د حل لپاره، قانوني پروژې تنظيموي او ددې لپاره يې خپروي چې ګوندې باصلاحيته مقامات د قوانينو په تدوين کې ورته متوجه شي او د هغو لپاره ګام واخلي، پردې بنسټ په ډيرو ځايونو کې قانون جوړونکی د دا ډول نظرياتو تر اغيز لاندې راځي او دنويو قوانينو په وضع کولو باندې اقدام کوي، کله داسې هم کيږي، چې هرکله مقنن (قانون جوړوونکي) تصميم نيولی وي، څو په يوه مشخصه ساحه کې د قوانينو په وضع کولو لاس پورې کړي، د حقوقو د علماؤو او پوهانو له نظرياتو او افکارو څخه استفاده کوي.

سربيره پر دې علماء او پوهان موجود قوانين مطالعه کوي او که په هغو کې کومه خلاء موجوده وي د ډکولو لپاره يې وړانديزونه کوي. له بل لوري د دې څارنه کوي، چې آيا هغه قانون او قضايي پريکړې، چې په عملي ژوندانه کې د محاکمو او قاضيانو له لوري تطبيقيږي، د قضاياوو له واقعيت سره مطابقت لري او کنه، يا دا چې د دوی دغه فيصلې قانوني استدلال او استناد لري او که له قانون څخه ناسمه استفاده شوې ده، چې دا کار پخپله د قضايي رويې د تحکيم يا تعديل لامل ګرځي.

د يادونې وړ ده چې دکتورين د حقوقو اصلي او مستقيمه منبع نه ده، يعنې قانون جوړوونکی په ځينې حالاتو کې دهغه معنوي ارزښت په اساس چې علماؤو ته پرې قائل دی پيروي کوي د هغوی د نظرياتو پيروي کوي او د قانون يا قضايي فيصلې په قالب کې يې ځايوي، او په دې توګه دکتورين ته د حقوقو د يوې منبع په توګه لاره هواره وي خو دا کار حتمي او لازمي نه دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**مهمه یادونه (آسماني قوانین)!**

دین هم د قانون له ډیرو مهمو مصادرو څخه ګڼل کیږي، په خاصه توګه په اسلامي هیوادونو کې، هغه قوانین او نظامونه چې ملتونه او ټولنې پیروي ورڅخه کوي په دوه ډوله دي.

۱- آسماني قوانین!

۲- وضعي قوانین.

۱- آسماني قوانین: دغه قوانین له ټولو هغو اوامرو، نواهیو، ارشاداتو او قواعدو څخه عبارت دي، چې د الله تعالی له لوري د خپل پیغمبر په وسیله د بشر د لارښوونې لپاره رالیږل شوي دي، او پیغمبر د هغو د پیروی په نتیجه کې خلکو ته د مکافاتو او له هغو څخه د سرغړونې په نتیجه کې د مجازاتو وعده ورکوي، د دغو قوانینو مصدر شارع (الله تعالی او د هغه رسول) دی، د دغو قوانینو تر ټولو وروستنی او د نورو قوانینو ناسخ د اسلام مبین دین او اسلامي شریعت دی.

۲- وضعي قوانین: وضعي قوانین له هغو احکامو او نظامونو څخه عبارت دي، چې د واک او قدرت خاوندانو د اجتماعي امورو د تدبیر او انتظام په غرض وضع کړي وي، د دا ډول قوانینو منشأ، اجتماعي چلند، د ټولنې د پوهانو نظریات او دهر قوم تاریخي ایجابات دي، دغه قوانین کله هم د آسماني قوانینو او شرایعو یوه برخه وي، چې د ورځو په تیریدو سره د خلکو طبایعو هغو ته میلان پیدا کړی او تر منځ یې د ژوندانه د یوه دستور بڼه خپله کړې ده.

اسلامي شریعت له ټولو هغو نظامونو او احکامو څخه عبارت دی، چې د الله (ج) لخوا مقرر شوي او حضرت محمد (ص) هغه د قرآن پاک او خپلو قولي او فعلي سنتو په وسیله خلکو ته یې وړاندې کړي دي.

دغه احکام په مجموعي ډول دریو قسمونو ته ویشل کیږي:

**الف: اعتقادي احکام:** دا هغه احکام دي، چې د الله تبارک و تعالی تر ذات پورې او دغه راز پر الله تعالی، د هغه پر پیغمبرانو، پرښتو د قیامت په ورځ او بعث بعدالموت (ترمرګ وروسته ژوند) او کتابونو باندې تر ایمان او باور درلودلو پورې تړاولري. دغه احکام د عقایدو د علم او یا **هم د کلام د علم د بحث موضوع جوړوي.**

**ب: تهذیبي احکام:** دغه احکام هغو مزایاوو او فضایل ته شامل دي چې انسان باید د هغو په پسول ځان مزین کړي، لکه: رښتیا ویل، امانت ساتنه، په وعده باندې وفا کول، شجاعت او ایثار او دغه راز له هغو اعمالو او افعالو ځان وساتي چې هغه په ټولنه او ژوندانه کې منحوس او منفور دي، لکه: دروغ ویل، خیانت، د وعدې ماتول، جبن (ډاریدل) او داسې نور...

**ج: عملي احکام:** دا هغه احکام دي، چې د بندګانو تر اعمالو پورې تړاو لري، لکه: عبادات، معاملات، جنایات، شخصیه احوال، د جنګ او سولې په حالت کې د مسلمانانو تر منځ اړیکې او

(c) ketabton.com: The Digital Library

دیته ورته نور هغه احکام، چې د جزئیاتو څېړنه او شرحه یې د یوه خاص علم یعنې فقه د بحث موضوعات دي. اسلامي هیوادونو او ملتونو د وضعي قوانینو په تدوین کې تر ډېره د اسلامي آسماني قوانینو په اساساتو سره تکیه کړې ده، لکه د افغانستان د مدني قانون احکام، چې د شخصیه احوالو لکه نکاح، طلاق، عدت، میراث او د معاملاتو په یو شمیر مواردو کې د حنفي فقهې په اساس کاملاً له اسلامي شریعت څخه اقتباس شوي دي.

**د درېم څپرکي د مطالبو لنډیز:**

- په هغو هیوادونو کې چې د رومن-ژرمنیک له حقوقي سیستم څخه استفاده کیږي، په ورځني ژوند کې د حقوقي قواعدو د تطبیق لپاره لومړی په قانون باندې تکیه کیږي، که قانون وجود و نه لري یا په قانون کې غموض او پیچلتیا وي، نو د تکمیل او تفسیر لپاره یې عرف او عاداتو، قضایي رویې دکتورین یا د پوهانو نظریاتو ته مراجعه کیږي، نو یاد شوي منابع په لاندې ډول طبقه بندي کوو،۱- قانون، ۲-عرف او عادات، ۳- قضایی رویه او ۴- دکتورین.
- قانون هغه صریح او معقول تجویز دی، چې له عامه ذهنیت څخه راټوکیدلی وي او د واکمنې قوې یا دولت لخوا هغو ته یوه لیکنیزه یا تحریري بڼه ورکړل شوي چې موخه یې د ټولنې د راتلونکي ژوند لارښوونه او تنظیم دی.
- قانون هغه دایمي، عمومي، مجرد او په مؤیده باندې مجهز کتبي دستور دی، چې د دولتي مقاماتو له لوري د اجراء او تطبیق وړ ګرځول کیږي.
- په قوانینو کې د مراتبو سلسله په لاندې ډول ده:
    - اساسي قانون.
    - عادي قوانین.
    - مقررې.
    - لوایح،
    - طرز العملونه او متحدالمال.

قانون د الزامي ځواک یا مؤیدې د خفت او شدت له نظره څلورو برخو ته ویشل شوي دي

۱- د عامه نظام قوانین

۲- د ساده چارو قوانین

۳- د هغو چارو قوانین چې له عامه نظام سره هیڅ رابطه نه لري

۴- اختیاري یا غیر امري او تفسیري قوانین

د قانون د تطبیق یا رعایتولو ساحه د مکان او زمان له اړخه مطرح ده، د مکان له پلوه د قانون

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مراعاتولو موضوع دومره نه ده پیچلې او په حقوقو کې پر هغه عمومي پرنسیپ ولاړه ده چې د ملي حاکمیت له اصل څخه سرچینه اخلي، خو د زمان له نظره د قانون مراعاتول د تنازع لامل ګرځي یعنې دوه قوانین د ماهیت له پلوه په خپل منځ کې په ټکر کې واقع کیږي او تطبیقوونکي له مشکل سره مخامخ کوي چې په قضیه کې په کوم یوه قانون باندې عمل وکړي په پخواني قانون او که نه په نوي قانون.

د قانون تفسیر د حقوقو په علم کې د ډیر اهمیت وړ دی او د هغو مجهولو ټکو، مفاهیمو او ګونګو کلماتو له روښانه کولو څخه عبارت دي کوم چې ځینې وخت په قانون کې تر سترګو کیږي او تطبیقوونکی مقام له دې اړخه له ستونزې سره مخ وي، چې د قانون تفسیر د ستونزمنو قضایاوو د حل او فصل لاره هواره وي، د قانون تفسیر د تفسیر د مراجعو له مخې په درې ډوله دی:

۱- تقنینی تفسیر ۲- قضایی تفسیر او ۳- د حقوقپوهانو په واسطه تفسیر

**د درېم څپرکي پوښتنې:**

۱- د حقوقو منابع او مصادر په څه معنی دي؟

۲- د حقوقي قواعدو منابع کوم دي؟

۳- قانون څه شی دی؟

۴- د قانون خصوصیات کوم دي، توضیح یې کړئ؟

۵- د قانون د ثبات معنی څه ده او د ټولنې د نظم لپاره څه ګټه لري؟

۶- په قوانینو کې د مراتبو سلسله په څه معنی ده او نومونه یې واخلی؟

۷- د قانون د الزامی څواک مفهوم څه دی.

۸- د قانون د تطبیق ساحه څه مفهوم رسوي؟

۹- په محاکمو کې د مراتبو سلسله څه مفهوم لري؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

# څلورم څپرکی

## د حقوقو تصنیف یا تقسیمات

**ټولیزه موخه:**
آفاقي او عندي حقوقو ته د حقوقو د ویش په هلکه، د آفاقي حقوقو د ویش او هغو د اهمیت په اړه، او دغه راز ملي او نړیوالوحقوقو ته د حقوقو د تقسیماتو او نړیوالو حقوقو د منابعو په اړه پوهاوی او د معلوماتو ترلاسه کول.

**دزده کړې موخې:**

- د حقوقو د ویش د انګیزې او لامل په اړه عملي پوهاوی او درک.
- په لومړي قدم کې عندي او آفاقي ته د حقوقو ویش.
- د آفاقي حقوقو د تقسیم او هغو د اهمیت په هلکه عملي پوهاوی.
- د ملي او نړیوالو حقوقو د ویش، او دغه راز د نړیوالو حقوقو د منابعو په اړه عملي درک او پوهه.

له دې امله چې ټول حقوقي قواعد د یو ډول اجباري قدرت او واحدې روحیې درلودونکي نه وي، بلکې هره برخه حقوقي قواعد د اجتماعي او فردي ژوند د یوې برخې د تنظیم لپاره وضع کیږي، نو لازمه ده چې هغه مشابه ګروپونو ته وویشو، مثلاً په یو شمیر حقوقي قواعد کې عامه اقتدارات (دولت) دخیل دی، په داسې حال کې چې په یو شمیر نورو کې یې دخالت نه لري، په دې اساس کولای شو حقوقي قواعد عامه او خصوصي ته تصنیف او طبقه بندي کړو، علاوه پردې د ملي حاکمیت او ارضي تمامیت اصل یوه بله موضوع ده چې په اساس یې باید حقوق تصنیف او طبقه بندي شي، په دې معنی چې یو لړ حقوقي قواعد شته چې یوازې په یوه معینه پوله او کرښه اومشخص هیواد کې، د ملي مفکورې او ارضي تمامیت په اساس د تطبیق ځای لري، مثلاً د افغانستان هندوستان او نورو... حقوق.

(c) ketabton.com: The Digital Library

له دې پلوه موږ دا ډول حقوقي قواعد د ملي یا داخلي حقوقو په نامه سره نوموو، په داسې حال کې چې یو لړ نور حقوقي قواعد چې د تطبیق ساحه یې پراخه او د هیوادو له پولو او سرحدونو تجاوز کوي او په نړیوالو جوامعو او بشري ټولنو باندې د تطبیق وړ دی هغه د نړیوالو حقوقو په نامه یادوو.

په دې اساس حقوقي قواعد په دوو برخو وی5شل کیدلی شي، یو داخلي یا ملي حقوق او بل بهرني یا نړیوال حقوق چې هره یوه یې بیا د مختلفو څانګو او برخو درلودونکې ده، چې دا دی په دوو برخو کې هغه مطالعه کوو مګر مخکې له دې چې دغه موضوع وڅیړو باید وویل شي چې حقوق د اجتماعي علومو له هغې څانګې څخه عبارت دي چې موضوع یې انسان، او په ټولنه کې د خپلو همنوعو او بالآخره ټولو وګړو او افرادو په مقابل کې د هغه سلوک، عمل او عکس العمل دی.

خو له دې کبله چې انسان په اجتماعي ژوند کې ثابت نه دی او په دوامداره توګه د تحول او تغییر په حال کې دی، نو هغه قواعد هم چې نوموړی تنظیموي دغه لاره تعقیبوي، باید وویل شي هغه تقسیمات او طبقه بندۍ چې د حقوقو د څانګو تر منځ ترسره کیږي د هغه تصنیف په شان نه دي چې په اجتماعي علومو کې مروج دی، ځکه یو لړ مسائل له تصنیف او طبقه بندۍ څخه د باندې پاتې کیږي، له دې امله د حقوقو تقسیمات یوازې نظري اړخ لري او د حقوقو د ښه او غوره فهم او درک لپاره یو لړ اصول دي.


د حقوقو تقسیمات د لاندې مقاصدو لپاره ترسره کیږي:

۱- حقوقي قواعد د واحدې روحیې درلودونکي نه وي، بلکې هره برخه حقوقي قواعد د اجتماعي او فردي ژوند د یوې برخې د تنظیم لپاره وضع کیږي.

۲- له دې امله چې ټول حقوقي قواعد د اجباریت او لزوم د درجې له پلوه له یو بل سره توپیر لري.

۳- د حقوقو د مطالعې د آسانتیا او حقوقو دغوره پوهاوي او درک لپاره.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library

**ملي يا داخلي حقوق**

د یوه مملکت په داخل کې له بیلابیلو حقوقي قواعدو سره مخامخ کیږو، چې د ورته والي له کبله یې دوو څانګو ته ویشلی شو. لکه په مخکنیو کرښو کې مو چې یادونه وکړه په یو شمیر حقوقي قواعدو کې عامه اقتدارات دخیل وي چې دغه قدرت د حقوقي قواعدو په سر کې ځای لري او وګړي په دا ډول حقوقي قواعدو سره اداره کوي، له دې امله یاد شوي قواعد د حقوقو د عامه قواعدو په نامه سره نوموو، په داسې حال کې چې د یوې ټولنې په داخل کې له یو شمیر نورو قواعدو سره مخامخ کیږو چې په کې عامه اقتدارات دخیل نه دي بلکې موخه یې د فرد حمایت او د افرادو د خپلمنځی مناسباتو تنظیم دی، چې دغه قواعد د خصوصي حقوقو په نامه یادوو. خو یو شمیر داسې لاربښود قواعد هم له حقوقي پلوه په ټولنه کې شتون لري چې په آسانۍ سره یې د عامه او خصوصي حقوقو په تصنیف کې نشو ځایولی، ځکه دغه قواعد له یوه لوري له عامه حقوقي قواعدو څخه سرچینه او الهام اخلي او له بل لوري له خصوصي هغو څخه، چې په دې اساس یاد شوي قواعد مختلط بلل شوي او په مختلطو حقوقو سره نومول کیږي. لکه چې ګوری حقوقي

قواعد له داخلي او ملي پلوه په دریو برخو ویشل شوي دي چې هرې یوې یې جلا حقوقي شعبات او څانګې تشکیل کړې دي او د فرعي مشخصاتو درلودونکې دي، چې مورږ یې په لاندې دریو عنوانونو کې مطالعه کوو:

**۱- عامه حقوق:** عامه حقوق له هغو قواعدو او مقرراتو څخه عبارت دي چې د یوې ټولنې سازمانونه او خپلمنځی مناسبات تنظیموي. یعنې د د دولتي ادارو او سازمانونو او دغه راز د ټولنې د افرادو او ادارو تر منځ مناسبات څاري او هغه تنظیموي او د هغوی له حقوقو او منافعو څخه ملاتړ او دفاع کوي. دغه حقوقي قواعد او مقررات، د هغوی د احکامو د ماهیت او له موضوع سره د تړاو له پلوه دریو برخو یعنې اساسي حقوقو، اداري حقوقو او مالي حقوقو ته ویشل کیږي چې یو په بل پسې به یې مطالعه کړو.

**الف ـ اساسي حقوق:** اساسي حقوق له یو لړ هغو قواعدو څخه عبارت دي چې له مخې یې د یوه دولت د تشکیلاتو اساسي پرنسیپونه تصویبیږي، هغه عمده او اساسي موضوعات چې د اساسي حقوقو په ساحه کې مطالعه کیږي عبارت دي له: د دولت اساسي تشکیلات، په عامه خدماتو او بالآخره تثبیت د حقوقو کې د هیوادوالو ونډه اخیستل او د عامه اقتداراتو په وړاندې آزادۍ او د خلکو وجائب.

د اساسي حقوقو قواعد معمولاً د یوه قانون په متن کې چې د دولت د اساسي قانون په نامه سره یادیږي درج کیږي، خو دا فرق نه کړي چې دغه قواعد به مکتوبي وي یا غیر مکتوبي. اساسي

(c) ketabton.com: The Digital Library

حقوق پر پورتنیو موضوعاتو سربیره د دولت د متشکله ارگانونو او د هغوی د ذات البیني روابطو په اړه بحث کوي، چې دا ډول ارگانونه یعنې د یوه دولت باصلاحیته ارگانونه د هغوی د واکونو او دندو په تفکیک سره په ۸۱مه میلادي پیړۍ کې په زیاتره جوامعو او ملتونو کې منځ ته راغلل او د دولت د درې گونو قواوو په نامه سره یې شهرت پیدا کړ، اساسي حقوق د دغو دریو قواوو د واکونو او مکلفیتونو په اړه بحث کوي او د هغو خپلمنځي مناسبات تنظیموي.

**اساسي قانون**

اساسي قانون د ټولنې او جامعې هغه عالي دستور او لارښود دی چې له مخې یې د عامه اقتداراتو یعنې درې گونو قواوو واکونه او مکلفیتونه او ټولنې د افرادو حقوق او وجائب تنظیم او تأمینیږي.

لکه چې مخکې مو یادونه وکړه د د درې گونو قواوو اصطلاح د ۱۸مې پیړې له لاس ته راوړنو ده چې د حقوقو د پوهانو لکه د مونسکو، جان لاک او نورو لخوا وړاندیز شوې، د دغه کار او تفکر په نتیجه کې د دولت مفهوم له حکومت څخه چې هغه مهال د مغالطې په توگه وړاندې کیدو جلا شو، په دې معنی چې دولت د درې واړه قواوو مجموعه ده او حکومت د دغو قواوو یو جزء دی.

درې گونې قواوې د قواوو د تفکیک د پرنسیپ پر تیورۍ او نظریې، حکومت یا اجرائیه قوې، قضائیه قوې او مقننه قوې ته شاملې دي، چې حکومت یا اجرائیه قوه د قانون د اجراء کوونکي ارگان په توگه او مقننه د قانون د جوړونکي ارگان په توگه کار کوي، خو د قضائیه قوې دنده چې د قاضیانو هیئت ته شامله ده د عدالت تامین او د قانون په متخلفینو باندې د مؤیداتو تطبیق او په دې توگه په ټولنه کې د عامه نظم ساتنه ده.

له بل لوري دغه مقام د یادو شویو دولتي دوایرو له اختلافاتو څخه د راټوکیدلو دعواوو او دغه راز د افرادو تر منځ د خصوصي خصومتونو او منازعاتو د حل او فصل دنده په غاړه لري.

**ب - اداري حقوق:**

اداري حقوق له هغو قواعدو او مقرراتو څخه عبارت دي چې د یوه هیواد د ارگانونونو تر اداري پرسونل پورې د اړوندو چارو او دغه راز د دولتي ادارو یا افرادو تر منځ د پیښیدونکو موضوعاتو په اړه بحث کوي، په بل عبارت اداري حقوق هغه قواعد دي چې اداري چارې او فعالیتونه تنظیموي.

لکه چې ټول پوهیږو، د یوه هیواد په داخل کې ټول هغه عامه خدمات چې موخه یې د خلکو د اړتیاوو پوره کول دي د دولتي ادارو لخوا ترسره کیږي، یعنې هر هغه واحد او مرکز چې د ټولنې د افرادو د مادي او معنوي اړتیاوو د پوره کولو لپاره کار کوي اداره ورته ویل کیږي، مثلاً

(c) ketabton.com: The Digital Library

له بیسوادۍ سره د مبارزې اداره، تعلیماتي اداري، امنیتي یا د عامه ګټو مؤسسې چې د سرکونو او لویو لارو د جوړولو لپاره کار کوي، دا ټول په عام مفهوم سره اداري یادیږي.
اداري حقوق د دا ډول مرکزونو لپاره د هغوی په کاری ځانګو او د عامه خدماتو په نورو برخو کې قواعد او مقررات وضع کوي او وګړي د هغو په اطاعت باندې مکلف کوي.

د اداري حقوقو ځانګړتیا په دې کې ده چې ټول قواعد یې د مؤیداتو درلودونکي دي، ځکه هغه کسان چې د هغو په تطبیق او اجراء باندې مؤظف دي له خپل ځانه بله لوړه اداره لري، معنی دا چې د هر اداري واحد او ځانګې په سر کې یو نفر وزیر او رئیس وجود لري چې د ښکته او ټیټ رتبه افرادو له اداري کړنو څخه څارنه کوي.

د اداري حقوقو د موجودیت اړتیا په دې توګه ثابتوو چې پوښتنه کوو او وایو چې، آیا انفرادي اشخاص به په دې قادر وي چې په ټول هیواد کې تعلیمي نظام کنترول او اداره کړي، او آیا افراد به په یوازې توګه وکولای شي چې د بهرنیانو د تعرض او تیري په صورت کې د هیواد د پولو څخه ساتنه په غاړه واخلي او یا نور عامه خدمات وړاندې کړي.
ځواب یقیناً منفي دی ځکه په عمل کې ثابته شوې ده چې دا ډول عامه خدمات یوازې دولت دی چې له کوم مفاد پرته یې په ښه توګه ترسره کوي.

**ج- مالي حقوق:** مالي حقوق په دوو برخو مشتمل دي، چې لومړی برخه یې عامه مالیات او دولتي بودجه تر بحث لاندې نیسي او له همدې امله دغه برخه د عامه مالیې په نامه یادیږي، دوهمه برخه یې د ټکسونو او حقوقي تعرفو د مالي حقوقو په اړه خبرې کوي چې دغې برخه د (حقوقو د اخستو په توګه مالي حقوق) وایي.
له دې کبله چې مالي حقوق د یوې ټولنې په ژوند کې څه اهمیت لري یوه ښکاره موضوع ده چې د ثبوت لپاره دلائلو ته اړتیا نه لري، ځکه دولت له مالي منابعو پرته هغه هم داسې مالي منابع چې له یو شمیر اشخاصو څخه د یوه اندازه مالیاتو د تحویل له لارې ترلاسه کیږي، نشي کولای چې خپل فعالیتونه ترسره کړي او د عامه خدماتو لګښتونه تادیه کړي. د مالیاتو او لګښتونو موضوع د مالي حقوقو د مباحثو یوه ډیره عمده او د بحث وړ موضوع ده

**۲- خصوصي یا مدني حقوق:**

خصوصي حقوق له هغو قواعدو او مقرراتو څخه عبارت دي چې د افرادو خپلمنځي مناسبات تنظیموي، پرته له دې چې دغه فرد د کورنی غړی وبولو یا یې له هغې جلا وګڼو، نني خصوصي حقوق د مدني حقوقو مفهوم افاده کوي یعنې که مدني حقوق وایو یا خصوصي حقوق دواړه یو مفهوم او یو ډول حقوقي قواعد وړاندې کوي.
په بل عبارت، مدني یا خصوصي حقوق د هغو لارښودو قواعدو او مقرراتو محتوی او منځپانګه ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې د افرادو خصوصي او خپلمنځي مناسبات، پرته له دې چې د هغوی شغل په پام کې و نيسي له بيلابيلو لوريو تنظيموي.

مدني يا خصوصي حقوق، بيلابيلو څانګو ته لکه د وجايبوحقوقو، د فاميل حقوقو، د ميراث حقوقو او عيني حقوقو ته ويشل کيږي چې هره يوه يې په ورځني ژوند کې د افرادو تر منځ د روابطو تنظيم ته متوجه ده.

۱- **د وجايبو حقوق:** دا هغه حقوق دي چې د افرادو وجائب د يوه او بل په وړاندې تعيين او تنظيموي.

۲- **د فاميل حقوق:** دغه حقوق له هغو قواعدو څخه عبارت دي چې د افرادو رابطه له موجودې يا تشکيل کيدونکې کورنۍ سره تنظيموي، د دغو حقوقو د بحث وړ موضوعات عبارت دی له، کوژدې، واده او د هغو آثار، د زوجيت انحلال او د هغو آثار لکه (طلاق، خلع يا طلاق بالمال، جلاوالی، او قضايي متارکه) نفقه او د هغې آثار، ظهار او داسې نور...

۳- **د ميراث حقوق:** دا هغه قواعد دي چې د مړي يا متوفی د اموالو او شتمنيو برخليک تثبيتوي.

۴- **عينی حقوق:** له هغو قواعدو څخه عبارت دي چې د افرادو مناسبات له اشياؤو او اموالو سره تنظيموي، د دغو حقوقو د بحث موضوعات، مالونه او د هغو انواع، ملکيت او د هغو انواع، د ارفاق حقوق لکه ( د شفعې حق، د مجرا حق، د مسيل حق، د عبور حق او داسې نور) د حيات حقوق او داسې نور دي.

**۳- مختلط حقوق:**

له مختلطو حقوقو څخه هدف دا دي چې دا ډول حقوقي قواعد په کلي توګه نه تر عامه حقوقو او نه هم تر خصوصي حقوقي پورې تړاو لري، بلکې د دواړو څانګو په مابين کې مختلط دی، د مختلطو حقوقو د څانګو په اړه حقوقپوهان په دې اند دي چې دغه څانګې په عمومي ډول دوو برخو ته ويشلی شو، يو حرفوي او بل جزائي يا انظباطي ته.

**الف-** له حرفوي حقوقو څخه هدف د حقوقو هغه څانګه ده چې په يوه ډله معينو او مشخصو اشخاصو باندې د هغوی شغل او کسب ته په کتنې سره د تطبيق وړ دي، مثلاً د تجارت حقوق، د کار او کارګر حقوق، زراعتي حقوق او نور... دغو څانګو ته له دې امله مختلط وايي چې ياد شوي قواعد او مقررات له يوه لوري د خصوصي حقوقو د قواعدو تر اغيز لاندې دي او د اشخاصو خپلمنځي مناسباتو ته تنظيم او تحکيم ور بښي، له بل لوري د دغو حقوقو يو لړ نور قواعد او مقررات په هغو اشخاصو باندې د تطبيق وړ دي چې هغوی د هغو اوصافو درلودونکی کوم چې هغه د عامه حقوقو له ځانګړتياوو څخه شميرل کيږي، د مثال په توګه د تجارت په حقوقو کې هغه څه چې تر تجارتي نوم، تجارتي عنوان، تجارتي جواز، تجارتي کتابونو، تجارتي هستوګنځي او نورو پورې مربوط دي ټول د عامه حقوقو د دساتيرو تابع دي، يعنې دا ډول قواعد

(c) ketabton.com: The Digital Library

لازمي دي او متابعت يې واجبي دی، ځکه د عامه اقتداراتو لخوا وضع شوي او کسبکاران د هغوی متابعت ته وربولي، په داسې حال کې چې که هغو عقودو ته وګورو چې د سوداګرو یا یوه سوداګر او یوه انفرادي شخص تر منځ منعقد کیږي نو له خاصو حقوقي قواعدو څخه سرچينه اخلي.
دا ډول قواعد د حقوقو په لاندې څانګو کې راتللی شي:

۱- **د تجارت حقوق:** دغه حقوق له هغو قواعد څخه عبارت دي چې په تجار او سوداګریزو معاملاتو باندې د تطبیق وړ وي، د دغو حقوقو عمده موضوعات له سوداګر، سوداګریزو معاملو شرکتونو (محدودالمسؤلیت شرکتونه، لمتد، تضامني او سهامي شرکتونه)، تجارتي افلاس او داسې نورو څخه عبارت دي. دغو حقوقو ته حرفوي حقوق هم ویلای شو ځکه په یوه معینه ډله افرادو باندې د هغوی شغل او کسب ته په کتنې سره یعنې سوداګرو او سوداګریزو معاملاتو باندې د تطبیق وړ دي.

۲- **بحري حقوق:** دغه حقوق د حقوقو له ډیرو پخوانیو څانګو څخه دي چې په سوداګرو او هغو سوداګریزو معاملاتو باندې چې د بحرونو له لارې تر سره کیږي تطبیقیږي، یعنې دا ډول قواعد یوازې او یوازې په هغو اشخاصو باندې د تطبیق وړ دي چې د بحرونو له لارې تجارت کوي او له دې لارې د اموالو په لیږد رالیږد بوخت وي، د مثال په توګه دغه قواعد د هغو سامانونو او کالیو په اړه احکام لري چې په بیړیو کې وړل کیږي، په دې معنی که چیرې بیړۍ ډوبه شي نو خساره به یې په څه ډول جبرانیږي، د بیړۍ چلوونکي، وسائلو او سپرلیو مسؤلیت څه دي او داسې نور...

۳- **فضايي یا د هوايي چلند حقوق:** دغه حقوق د حقوقو یوه نوې او ځوانه برخه ده، دغه حقوق له هغو قواعدو څخه عبارت دي چې په فضايي تجارت، او هغو اشخاصو او مؤسساتو چې په دې کاروبار لګیا دي یا په هوايي مسافرتونو او یا هم د الوتکو په وسیله د نقل او انتقال لپاره استفاده کوي د تطبیق وړ دي.

۴- زراعتي حقوق: زراعتي حقوق له هغې برخې حقوقو څخه عبارت دي چې د زراعت په کسب او بزګرو باندې د تطبیق وړ دي، باید وویل شي چې یو شمیر حقوقپوهان بحري، فضايي او زراعتي حقوق د حقوقو عمده او خورا مهمې څانګې بولي.

۵- **صناعتي یا د کار او کارګر حقوق:** دغه حقوق د هغو قواعدو او مقرراتو محتوا او منځپانګه ده چې په صنعتي او تولیدي مؤسسو کې د کارګر او کارګومارونکي مناسبات تنظیموي، د کار حقوق په حقیقت کې هغو مهمو او اساسي موضوعاتو څخه دي چې نن ورځ ټول ملتونه او حکومتونه دلچسپي ورسره لري. د کار د حقوقو محتوی د کاري ساعت د حداقل مزد تثبیت، د تقاعد حقوق او دیته ورته نور موضوعات جوړوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ب - مجازاتي يا انضباطي حقوق:**

مجازاتي يا انضباطیحقوق له هغو قواعدو او مقرراتو څخه عبارت دي چې وګړي له قانون څخه له تخلف او سرغړونې خبروي او له قانون څخه د سرغړونې او عدول په صورت کې د سرغړونکو د تنبیه لپاره د مجازاتو وړاندوينه کوي، د بیلګې په توګه، قضايي حقوق يا د محاکماتو اصول او د جزاء حقوق د انضباطي حقوقو له مهمو څانګو څخه دي، د جزاء حقوق دنده لري څو ټولنه د جسمي (حبس) یا نقدي (جريمه) مؤيداتو په وسیله سره د اخلال ګرو اشخاصو له تعرض او تجاوز څخه وساتي او په دې توګه عامه نظم او ټولنيز سعادت تأمين کړي.

له دې کبله ده چې په هره ټولنه کې د نورو حقوقي قواعدو په څنګ کې جزائي قواعد وجود لري چې زیاتره يې د عامه حقوقو برخه بولي، خو له دې امله چې له قانون څخه په خلاف اعمالو کې د انفرادي منافعو زیانمنیدل هم مطرح دي مثلاً د سرقت او غلا جرم بې له شکه چې دولت او عامه نظم په دې کې متضرر دي خو فردي منافعو ته هم پکې ضرر رسیږي، ګواکي دلته يوازي دولت او مجرم د بحث موضوعات نه دي بلکې خصوصي افراد هم په دغه انحرافاتو کې دخیل دي او د دې حق لري چې د ور اوښتي زيان له امله له مجرم څخه د جبران غوښتنه وکړي، چې البته د دغه د مطالبې د دغه حق ورکړه په خپله د عندي حقوقو موجودیت واضح کوي، بناءً د خصوصي حقوقو تر اغیز لاندې راغلل نو له دې کبله مختلط حقوق ورته ويلای شو.

د مجازاتي حقوقو څانګې په لاندې ډول دي:

۱- قضايي حقوق يا د محاکماتو اصول:

۲- د جزأ حقوق

**۱- قضايي حقوق يا د محاکماتو اصول:** د محاکاتو اصول له هغو قواعدو او دساتیرو څخه عبارت دي چې د دعوی د اقامې، د دعوی د جریان او د هغې د پرمخ بيولو، صلاحيتونو، قضايي تشکیلاتو او بالآخره د حکم د اصدار او تنفيذ وړاندوينه پکې شوې وي، لکه چې له تعريف څخه معلوميږي دغه قواعد په دعواوو کې کارول کیږي او له کوم توپير پرته انفرادي اشخاصو او قضايي چارواکو ته په واک کې ورکول کیږي څو په یوه شکل ټولې دعواوې تعقيب او پريکړې ته وسپاري.

-2 د جزأ حقوق: د جزاء حقوق له هغو قواعدو څخه عبارت دی چې د مختلفو اشخاصو لپاره د مجازاتو وړاندوينه کوي او په متخلفينو باندې د دغو مجازاتو د تطبيق لارې په ټولنه کې له ګډوډ شوي نظم بيرته اعاده کوي.

**خارجي يا نړيوال حقوق:**

نړيوال حقوق د حقوقو له هغې څانګې څخه عبارت دي چې د تطبيق ساحه يې د یوه هیواد تر چوکاټ او پولو پورې نه وي محدوده، بلکې د هر هیواد له پولو او سرحدونو څخه خارجيږي،

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغه حقوق له یوه پلوه د دولتونو خپلمنځي مناسبات تنظیموي او د هغو لارښوونه کوي، له بله پلوه د نړیوالو ټولنو د خصوصي افرداو ترمنځ هم د نړیوالو حقوقو په ساحه کې مداخله کوي، بناءً د نړیوالو حقوقو موضوع خورا پراخه ده او په نړیوالو اړیکو او چارو کې که هغه د دولت له اړخه وي یا د اتباعو په یوه شان د تطبیق وړ دي. خو له هغه ځایه چې د هیوادونو مراودات او مناسبات د عمومیت او خصوص له نظره یو ډول نه دي نو نړیوال حقوق هم په خپل وار سره دری ګونو څانګو ته ویشل کیږي.

**نړیوال عمومي حقوق:**

دغه حقوق له هغو قواعدو، مقرراتو، نورمونو او تعاملاتو څخه عبارت دي چې د دولتونو خپلمنځي مناسبات تنظیموي او له بل لوري د دولتونو او نړیوالو سازمانونو او دغه راز نړیوالو سازمانونو تر منځ د مناسباتو له تنظیم او لارښوونې سره لیوالتیا لري.

د نړیوالو حقوقو شخصیتونه څلور دی:

۱- دولتونه.
۲- نړیوال سازمانونه.
۳- نړیوال بین حکومتي سازمانونه.
۴- نړیوال غیر حکومتي سازمانونه، آزادي بښونکي ملي سازمانونه او کله هم خصوصي افراد.

هیره دې نه ي چې د یادو شویو شخصیتونو تر ګردو عمده یې دولتونه دي، په نړیوالو حقوقو کې دا نه ده مهمه چې هیواد لوی دی او که کوچنی، ټول له مساوي حقوقو برخمن دی، د نړیوالو عمومي حقوقو منابع عبارت دي له قراردادونو، معاهداتو، کنوانسیونونو، نړیوالې قضایې رویې، نړیوال عرف او دکتورین څخه.

د نړیوالو عمومي حقوقو هدف او موخه د هغو په اووه ګونیو اصولو کې نغښتې ده چې دغه اصول عبارت دي له:

۱- د دولتونو د تساوی اصل
۲- د ملتونو لخوا په خپله د خپل برخلیک ټاکل
۳- د یوه او بل په چارو کې مداخله نه کول
۴- د ملګرو ملتونو منشور او نورو نړیوالو اسنادو ته احترام
۵- نړیواله همکاري
۶- د ځواک نه استعمال
۷- مداخله نه کول

(c) ketabton.com: The Digital Library

د نړیوالو حقوقو په برخه کې تر ټوله لویه ستونزه د مؤیداتو له نظره ده، او یو شمیر پوهان په دې اند دي چې د نړیوالو عمومي حقوقو په ساحه کې د مؤیداتو نه موجودیت یو لوي مشکل او پرابلم دی، په داسې حال کې چې که د نړیوالو اړیکو اصولو او معتبرو نړیوالو اسنادو ته وګورو دې نتیجې ته رسیږو چې د نړیوالو عمومي حقوقو مؤیدات تر ملي حقوقو ډیر سخت دي، د مثال په توګه د ملګرو ملتونو تعزیرات او د ملګرو ملتونو د امنیت شورا لخوا نظامي اقدامات.

**نړیوال خصوصي حقوق:**

دغه حقوق هغه مقررات او قواعد په خپل ځان کې رانغاړي چې د مختلفو هیوادونو د خصوصي افرادو په خپلمنځي مناسباتو، مختلفو معاملاتو او نورو خصوصي ارتباطاتو کې د تطبیق وړ وي، ځکه واضح خبره ده چې په نړیوال ژوند کې په هغو مناسباتو کې چې دولتونه یې له یو بل سره پالي، اتباع هم په دغو مناسباتو کې ورګډیږي، د مثال په توګه په انګلستان کې له یوه امریکایي سره د یوه فرانسوي تبعه ازدواج. نو پوښتنه دلته داده چې په دا ډول مراوداتو او مناسباتو کې چې د مختلفو هیوادونو د اتباعو تر منځ ترسره کیږی، نو د اختلاف د منځ ته راتګ په صورت کې به د کوم یوه هیواد تر قانون لاندې راځي؟

له دې ځایه ده چې د نړیوالو خصوصي مناسباتو د تنظیم لپاره مقرراتو او قواعدو ته اړتیا پیدا کیږي او تدوین یې لازم ګڼل کیږي، او په دې توګه دولتونه د دا ډول مسائلو او موضوعاتو د حل او فصل لپاره د خپلو داخلي حقوقو په چوکاټ کې د تدابیرو او مقرراتو وړاندوینه کوي، چې دغه تدابیر د نړیوالو خصوصي حقوقو په دریو اصولو باندې تکیه کوي.

۱- تابیعت
۲- د بهرنیانو شرایط
۳- د قوانینو تنازع

**تابعیت:** له یوه دولت سره د فرد له یوې حقوقي او اساسي رابطې څخه عبارت دی، په دې معنی چې یو شخص په کوم اساس او تر کومو شرائطو لاندې د یوه هیواد تابعیت ترلاسه کوي او یا هغه له لاسه ورکوي.

**د بهرنیانو شرائط:** له هغو حقوقو څخه عبارت دي چې د نړیوالو خصوصي حقوقو په چوکاټ کې په یوه ملک کې د یوه اجنبي لپاره چې په هغه هیواد کې هستوګنه اختیاروي ورکول کیږي، مثلاً ویل کیږي چې یو خارجي تبعه چې د متوقف فیها ( هغه هیواد چې پکې اوسیږي) تابعیت و نه لري بیا هم کولای شي واده وکړي، یا غیرمنقول ملکیت نشي اخیستلای او یا هم د سامانونو د پیر او پلور قرارداد نشي لاسلیک کولی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د قوانینو تنازع:**

دغه موضوع د نړیوالو خصوصي حقوقو یوه مهمه موضوع ده، ځکه دلته د تابعیت، ملي حاکمیت، رقبي (غاړې) او قلمرو موضوعات له یوه لوري، د بهرنیانو تر شرائطو، او د هغوی تر هغو مناسباتو پورې اړوند موضوعات چې هغه بل هیواد کې یې انجاموي له بل لوري د بحث وړ دي. له دې امله د بیلابیلو هیوادونو قوانین د بحث وړ ګرځي او د دوو هیوادونو د اتباعو ترمنځ منازعه او شخړه را پیدا کیږي، چې د زیات تفکر او تعمق غوښتنه کوي څو په دې توګه دا ثابته شي چې په هغه یا دغه حقوقي عمل یا تجارتي منازعه کې د کوم هیواد قانون د تطبیق وړ ګرځي، دا پخپله د دې ښودنه کوي چې دلته د قوانینو تنازع ده ځکه ودې شي چې په هغه یا دغه موضوع کې د یوه هیواد قانون یو ډول او د بل هیواد په قانون کې په بل ډول وي.

نو په دې اساس دا ستونزمنه ده چې موضوع حل او فصل شي، له دې کبله ده چې حقوق په نړیواله ساحه کې د دا ډول معضلاتو د حل لپاره د عمومي قواعدو او مقرراتو وړاندوینه کړې او د قوانینو د تنازع په صورت کې دغو اساساتو ته د موضوع د حل په هدف مراجعه کیږي.

**د بین المللي جزاء حقوق:**

حقوقو په نړیواله ساحه کې یوه بل واقعیت ته هم پام کړی چې هغه له جرم څخه عبارت دی. له بده مرغه په بین المللي جامعه کې هم داسې اشخاص شته چې د جرم مرتکب کیږي او بیا له هغه هیواد څخه چې جرم یې پکې ترسره کړی دی د تیښتې هڅه کوي او یوه بل هیواد ته پناه وړي او د هغه هیواد د صلاحیت له حوزې ووځي چې د نومړي عمل پکې جرم بلل کیږي او د مجازات غوښتنه ورته کوي او په دې توګه د جزاء له تطبیق څخه خلاص شي. ځکه په هغه بل هیواد کې په مجرم باندې د جزاء تطبیق ناشونی دی او د هغه مملکت د حاکمیت اصل ته یوه صدمه ده، بناءً نړیوالو جوامعو د دې لپاره چې د دا ډول حرکاتو مخنیوی یې کړی وي او له قانون څخه سرغړونکي اشخاص تعقیب او د خپلو اعمالو په سزا ورسوي، موافقه کړې چې د دغې معضلې د حل او مجرمینو د نیولو لپاره مقررات وضع او تطبیق کړي، همدا لامل ؤ چې د نړیوالو حقوقو په چوکاټ کې یوه بله څانګه رامنځ ته شي او د بین المللی جزاء په حقوقو سره ونومول شي، ځکه لکه څرنګه چې په ملي یا داخلي ساحه کې د اجتماعي ژوند د تنظیم په هدف داسې قواعد او مقررات لازم بلل کیږي چې هدف او موخه یې د جرم مخنیوی او د جزاء تطبیق دی په همدې ډول په نړیواله ساحه کې هم دا ډول مقرراتو او قواعدو ته اړتیا وه.

د بین المللي جزاء د حقوقو څانګې عبارت دي لومړی له هغو نړیوالو جزائي حقوقو څخه چې هدف یې د دوو یا څو محدودو هیوادونو له جرایمو څخه مخنیوی وي او دوهم له هغو نړیوالو جزائي حقوقو څخه چې موخه یې د لاندې شپږو نړیوالو جرایمو سره مبارزه وي.

۱- تروریزم
۲- د مخدرو موادو قاچاق
۳- جنوساید (ټول وژنه)

(c) ketabton.com: The Digital Library

۴- د بشریت په وړاندې جرایم
۵- جنګي جرایم
۶- د انسان پیر او پلور (د انسانانو قاچاق)

**د څلورم څپرکی د مطالبو لنډیز:**

حقوقي تقسیمات د لاندې مقاصدو لپاره دي

۱. حقوقي قواعد د واحدې روحیې درلودونکي نه وي، بلکې هره برخه حقوقي قواعد د اجتماعي او فردي ژوند د یوې برخې د تنظیم لپاره وضع کیږي.

۲. له دې امله چې ټول حقوقي قواعد د اجباریت او لزوم د درجې له پلوه له یو بل سره تفاوت لري.

۳. د حقوقو د مطالعې د آسانتیا او حقوقو دغوره فهم او درک لپاره.

- ملي یا داخلي حقوق هغه دي چې، د یوه هیواد په داخل کې په رقبه ( غاړه) باندې د تطبیق وړ وي، دغه حقوق.

۱- عامه حقوقو
۲- خصوصی حقوقو او
۳- مختلطو حقوقو ته تقسیمیږي.

- عامه حقوق د عامه مصالحو او منافعو مدافع دي چې ۱- اساسی حقوقو ۲- اداری حقوقو او ۳- مالی حقوقو ته تقسیمیږي.

- خصوصي حقوق د افرادو د ګټو او منافعو ساتونکي او مدافع دي چې د وګړو خپلمنځي روابط تنظیموي او دغو څانګو ته تقسیمیږي:۱- د وجائبو حقوق ۲- د فامیل حقوق ۳- د میراث حقوق او ۴- عیني حقوق.

- د مختلطو حقوقو څانګې په کلي ډول نه تر عامه حقوقو او نه هم تر خصوصي حقوقو پورې تړاو لري، بلکې د عامه او خصوصي حقوقو یو ډول اختلاط دی، دغه حقوق په دوو برخو ویشل کیږي۱- حرفوی حقوق ۲- انضباطی حقوق.

- حرفوي حقوق په یوه ډله مشخصو او معینو اشخاصو باندې د هغوی شغل او حرفې ته په پام سره تطبیقیږي او دغه څانګو ته ویشل شوی دي ۱- د تجارت حقوق ۲- د کار او کارګر یا صنعتي حقوق ۳- زراعتی حقوق ۴- بحری حقوق او ۵- فضایی حقوق.

- مجازاتي یا انضباطي حقوق له هغو قواعدو او مقرراتو څخه عبارت دي چې وګړي له قانون څخه له تخلف او تخطي خبروي او له قانون څخه د سرغړونې او عدول په صورت کې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

متخلفینو د تنبه لپاره د مجازاتو وړاندوینه کوي او ۱- قضایی حقوقو یا د محاکماتو اصولو او ۲- د جزأ حقوقو ته تقسیمیږي.

- خارجي یا نړیوال حقوق د حقوقو له هغې څانګې څخه عبارت دي چې د تطبیق ساحه يې د یوه هیواد تر چوکاټ او پولو پورې نه وي محدوده، بلکې د هر هیواد له پولو او سرحدونو څخه خارجیږي او په بین المللي جوامعو باندې د تطبیق وړ دي، چې د دولتونو، نړیوالو سازمانونو او ټولنو د خصوصي افرادو خپلمنځي مناسبات تنظیموي او دغو څانګو ته تقسیمیږي:

۱- نړیوال عمومي حقوق ۲- نړیوال خصوصي حقوق او ۳- د جزاء نړیوال حقوق.

## د څلورم څپرکي پوښتنې

۱- آفاقي حقوق تصنیف کړئ؟

۲- اداري او اساسي حقوق له یو بل سره څه توپیر لري؟

۳- د فامیل حقوق د څه په اړه بحث کوي؟

۴- د نړیوالو عمومي حقوقو د شخصیتونو نومونه واخلئ؟

۵- نړیوال جرایم کوم دي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پنځم څپرکی

## عندي حقوق یا Subjective law

**ټولیزه موخه:**
د عندي حقوقو او د هغو د مبناء په اړوند معلومات ترلاسه کول او د حقوقي اعمالو، حقوقي حوادثو او دغه راز د عندي حقوقو د حاملینو پېژندنه

**دزده کړې موخې:**

- د عندي حقوقو او هغو د مبناء په اړوند عملي فهم او درک.
- د عندي حقوقو د حاملینو پېژندنه او په ټولنه کې د افرادو د حقوقو په اړه پوهه او درک.

لکه چې د حقوقو د مبادي ؤ په لومړني درس کې مو په مقدمه کې یادونه کړې ده، عندي حقوق له هغه واک او اختیار څخه عبارت دی چې هر شخص ته د آفاقي حقوقو لخوا ورکړل شوی څو د اشخاصو او اشیاؤ په مقابل کې ترې استفاده وکړي او د خپلو مادي او معنوي اړتیاؤو د پوره کولو لپاره کار ترې واخلي، د انسان لپاره چې په ټولنه کې ژوند کوي له دغه حق څخه استفاده مهمه ده او هغه د دولت تر حمایت او څارنې لاندې راولي. د مثال په توګه احمد د محمود په مقابل کې د دین د حق درلودونکی دی یعنې احمد محمود ته لس زره افغانۍ د قرض په ډول ورکوي په دې صورت کې احمد د دائن او محمود د مدیون صفت خپلوي، نو که چیرې مدیون د دین له اداء څخه انکار کوي دائن کولی شي له باصلاحیته مقاماتو څخه د زور کارونې غوښتنه وکړي تر څو مدیون د دین په اداء سره مجبور کړي، ځکه د احمد دغه غوښتنه په آفاقي حقوقو کې د صلاحیت او اقتدار د حق په توګه پېژندل شوي او دغه حق یې چې په حقیقت کې د عندي حق بیانونکی دی تضمین کړی دی. په بل تعبیر سره، عندي حقوق امتیازات نه تثبیتوي، بلکې

(c) ketabton.com: The Digital Library

د اشخاصو موقف د یوه او بل په وړاندې تثبیتوي او هم د هغوی مواقف د اجتماع په وړاندې تضمینوي، له دې کبله ویل کیږي چې یو شخص کله په اجتماع کې ژوند کوي نو په هماغه اندازه چې له آفاقي حقوقو څخه صلاحیت، اختیار او قدرت ترلاسه کوي په هماغه اندازه د ټولنې نور افراد هم صلاحیت، اختیار او قدرت خپلوي چې باید احترام یې وشي.

په دې توګه هغه افراد چې کوم حقوقي موقف خپلوي نو لازم ورسره حقوق او وجائب پیدا کوي، یعنې که له یوه لوری صلاحیت، اقتدار او واک تر لاسه کوي له بل لوري باید د نورو افرادو او په ټوله کې د ټولنې په وړاندې د وجائبو او مکلفیتونو منلو ته غاړه کیږدي او هغه قبول کړي. او په دې توګه ټولنیز نظم رامنخ ته شي. په دې اساس موږ له دوه ډوله مواقفو سره مخامخ کیږو، یو عمومي مواقف دي چې د آفاقي حقوقو په واسطه تثبیت شوي دي، مثلاً د دائن موقف یا دیته ورته نور... بل خصوصي مواقف دي، دغه مواقف له هغو قواعدو څخه عبارت دي چې د اشخاصو دندې او واکونه کله چې دغه حقوقي موقف خپل کړي تثبیتوي.

یعنې دا توضیح کوي چې دغه ډله اشخاص څه ډول رفتار وکړي او له دغو مواقفو څخه استفاده وکړي، د مثال په توګه د دائن والي، زوجیت یا مالکیت او داسې نور مواقف. نو د دغه تعبیر په اساس، عندي حقوق صلاحیت او اختیار نه دی بلکې یو داسې ځانګړی موقف دی چې یو شخص یې د آفاقي حقوقو له قواعدو څخه په استفادې سره، چې د عمومي مواقفو تعیینوونکې وي تر لاسه کوي.

هیره دې نه وي چې اشخاص په دوه ډوله دغه عمومي مواقف ترلاسه کوي او په موجب سره یې له دغه ځانګړي موقف څخه استفاده کولی شي، اول د یوې حقوقي حادثې په اساس یعنې یوه داسې حادثه چې د هغه له ارادې وتلې وي او دی وغواړي یا ونه غواړي له دغه حالت سره مخ کیږي، د مثال په توګه مړینه او دیته ورته نور حقوقي اعمال شته چې ګواکي نوموړي شخص دا اراده نه ده کړې تر څو په هغه موقف کې واقع شي. دوهم د حقوقي عمل په اساس یعنې یو داسې عمل چې د نوموړي شخص اراده پکې دخیله وي، د مثال په توګه د قرضې د یوه عقد په انعقاد کې چې دلته شخص عمداً او ارادتاً د دائن یا مدیون موقف خپلوي.

له یادو شویو توضیحاتو څخه د عندي حقوقو د نومونې لامل په ښه توګه استنباط کیدلی شي، په دې معنی چې عند په عربي ژبه کې د«نزد» په معنی دی، په دې اساس عندي حق له هغه حق څخه عبارت دی چې د اشخاصو په نزد وي، البته واضحه ده چې هرحق، هر اقتدار او صلاحیت محدود دی او د وجیبې له قبول سره مل دی. له دې امله کله چې یو شخص دغه حقوقي مواقف خپلوي نو اختیارات او مکلفیتونه دواړه په غاړه اخلي او په دې اساس شخص د هغه حقوقي وضعیت ته په پام سره د آفاقي حقوقو له لوري تثبیت شوی دی. هغه اشخاص چې په ټولنه کې د عندي حق د فاعلینو په بڼه راڅرګندیږي د عندي حقوقو د حاملینو په نامه سره پیژندل کیږي، یعنې هغه اشخاص او افراد چې دغه صلاحیت او اقتدار کاروي او وجائب په غاړه ورسره اخلي د

(c) ketabton.com: The Digital Library

عندي حقوقو له حاملينو څخه عبارت دي، چې حاملين کيدلی شي حقيقي اشخاص يعنی افراد وي او يا حکمي اشخاص وي لکه شرکتونه، ښاروالۍ او داسې نور... څکه آفاقي حقوق لکه په مخکنيو درسونو کې مو چې ولوستل حامل نه لري، بلکې اوامر دي چې د ټولنې په افردادو او د دولت په با صلاحيته ارګانونو باندې تطبيقيږي.

په دې اساس د حق حامل چې د عندي حق بيانوکی دی د بحث وړ ګرځي، دغه حاملين يو شمير په يو فعال موقف کې دريدلي دي يعنې عندي حق استعمالوي، يا دا چې دغه حق قبلوي او احترام ورته لري چې په دې صورت کې غير فعال حامل ورته ويلای شي، دا هم د يادولو ده چې ووايو هيڅ عندي حق مطلق نه دی، بلکې د نورو حاملينو حقوقو ته په پام او احترام سره محدوديږي، له همدې امله ده چې له حق څخه د ناوړه استفادې مفکوره مطرح کيږي او له عندي حق څخه تجاوز چې د نورو عندي حقوقو ته زيان ورسوي جرم بلل کيږي او مرتکب يې د مجازاتو مستوجب بلل کيږي، البته دغه قيد او محدوديت چې د آفاقي حقوقو په واسطه وضع شوی دی د ټولنې عامه نظم او عمومي منفعت تأمينوي او په دې ترتيب سره د عندي حق په استفاده کې مطلقه آزادي نفی کوي، د مثال په توګه د فرانسې د مدني کود له موادو څخه يوه ماده وايي:

ملکيت له اشياؤو څخه په مطلق ډول، د تمتع او تصرف له حق څخه عبارت دی، خو په دې شرط چې استعمال يې له قوانينو او مقرراتو سره مغاير نه وي. دا خپله د دې ښودنه کوي چې عندي حق مطلق نه دی.

له بله پلوه، په ټولنه کې عدالت او انصاف او فردي اخلاق خپله عندي حق محدودوي، د مثال په توګه له عندي حق څخه د ناوړه استفادې په مفکوره کې تر ګردو زيات د ښه نيت مفاهيم، فردي اخلاق او د عدل او انصاف مفکوره دخيله ده، يعنې کله چې يو شخص په دې هدف کوهي کيني چې د ګاونډي کوهي يې وچ کړي، په دغه ځای کې يې د عدل او نصاف او ښه ګاونډيتوب او دغه راز فردي اخلاقو خلاف عمل کړی دی، چې دا خپله له عندي حق څخه د ناوړه ګټې ښکارندويي کوي، په دې توګه عندي حق له يوې خوا د اخلاقي ارزښتونو، عدالت او انصاف په اساس محدوديږي له بله پلوه د آفاقي حقوقو د قواعدو په اساس چې عامه نظم او اجتماعي مفاد ته پاملرنه لري. خو په هر صورت عندي حق د آفاقي حقوقو تابع دی چې يوه اجتماعي ضرورت ته په کتنې سره کله يې تائيدوي، کله يې محدودوي او کله يې هم بيخي له منځه وړي، مثلاً د اموالو استملاک، که فرضاً عامه اقتدارات يعنې دولت احساس کړي چې په يوه غير منقول ملکيت باندې د ولاړ عندي حق استعمال د عامو افرادو په زيان دی، نو په داسې ډول بايد د هغو استعمال په غاړه واخيستل شي چې عامه او اجتماعي منفعت يې غوښتنه کوي، څو په دې ډول عامه خير تأمين شي، مثلاً له يوه مالک څخه د يوه ښوونځي د اعمار ، يا سرک، او اورګاډي د پټلۍ د تيريدو په هدف د يوې ځمکې نيول.

په همدې توګه استموال (ګټه اخيستنه) هم يوه له هغو لارو څخه ده چې د يوې حقوقی

(c) ketabton.com: The Digital Library

قاعدې په واسطه، هغه عندي حق چې په منقولو اموالو باندې ولاړ وي محدودوي، او په يو شمير استثنائي او خطرناکو حالاتو کې يې استعمال دولت ته انتقالوي ځو د عامه ګټو، ملي حاکميت او ملي دودونو په ساتنه کې کار ترې واخلي، د مثال په توګه د يوه ملی مسؤليت لپاره له شخصي عراده جاتو څخه د دولت استفاده.

اوس نو له هغو څخه چې تر اوسه مو ولوستل بايد نتيجه ترلاسه کړو او تر دغې برخې پورې اړوند مسائل تثبيت او وڅيړو.

**د عندي حقوقو حاملين**

لکه چې پوهيږو عندي حقوق له هغو قواعدو څخه عبارت دي چې د افرادو، صلاحيت، قدرت، د عمل د اجراء امکانات او ټول اقتدارت او امتيازات تعيينوي، په بل عبارت عندي يا ذاتي حقوق له هغه صلاحيت او امتياز څخه عبارت دي چې يو شخص يې د نورو اشخاصو يا اشياؤو په وړاندې لري.

آفاقي حقوق د دولت تر حمايت لاندې وي او هغه افراد ورڅخه برخمن کيږي چې په ټولنه کې ژوند کوي، آلماني مشهور حقوقپوه آيرنګ عندي حقوق داسې تعريف کړي دي عندي «حقوق هغه مفاد او ګټه ده چې حقوق يې حمايه شوي وي» د دې تعريف معنی داده چې تر څو پورې د آفاقي حقوقو لخوا د افرادو د منفعت، اقتدار او صلاحيت د هغو د استعمال، استفادې يا اجراء او انتقال په برخه کې تصريح نه وي شوې او هغه نه وي حمايه شوي، عندي حقوق کوم مفهوم نه لري، د مثال په توګه آفاقي حقوقو اشخاصو ته صلاحيت ورکوي چې د نورو افرادو په مقابل کې د دائن په توګه موقف ونيسي، دلته يوه رابطه رامنځ ته کيږي چې دغه دوه اشخاص له يو بل سره تړي، په دې اساس که د آفاقي حقوقو قاعدې دائن پيژندلی وي نو د هغې په موجب سره افراد کولی شی د يوه او بل په وړاندې د دائن او مديون په توګه موقف ونيسي.

عندي حقوق تر هغو اشخاصو پورې اړه لري چې د حق حامل پيژندل کيږي، مخکې مو يادونه وکړه چې حقوق دوه ډوله حاملين لري چې يو ډول يې د حقوقو فعال حاملين بلل کيږي او دا هغه کسان دي چې په مستقيم ډول د حق خاوندان پيژندل کيږي او بله ډله يې غير فعال حاملين دي، دا هغه کسان دي چې د يوه عندي حق د اجراء لپاره د نورو په مقابل کې واقع کيږي، د مثال په توګه که د دين موضوع په پام کې و نيسو دائن د حق فعال حامل او د حق صاحب پيژندل کيږي په داسې حال کې چې مديون غير فعال حامل او د وجيبې په ترسره کولو او انجام سره ملکف بلل کيږي.

په ساده عبارت سره ويلی چې د عندي حقوقو حاملين حقوقي اشخاص دی، په دومره توپير سره چې د اشخاصو کلمه په دغه ځای که هماغه مفهوم نه لري کوم چې په ورځني ژوندانه کې استعماليږي، بلکې د اشخاصو اصطلاح له حقوقي اړخه د فعال او غير فعال مفاهيم ليږدوي، يعنې

(c) ketabton.com: The Digital Library

لکه چې له حقوقي پلوه موږ دشخص کلمه استعالوو نو موخه مو هماغه موجود دی چې د بل شخص یا شي په وړاندې د فعال او غیر فعال حاصل کړای شي، په بل عبارت فعال حامل او غیر فعال حامل حقوقي اشخاص، هغه حقوقي حالات دي چې کولی شي افراد یا یوه ډله له افرادو څخه وي، یا هم داچې حقوقي اشخاص هغه افراد یا یوه ډله د افرادو ده چې کولای شي د فعال یا غیر فعال حامل په توګه حقوقي وضعیتونه او حالات خپل کړي. نو د هغو په موجب سره د یوه حق فاعل یا قبلوونکی او یا هم اجراء کوونکي د یوې وجیبې پیژندل کیږي چې په دې توګه د حقوقو له نظره موږ د عندي حقوقو له دوو ډلو اشخاصو یا حاملینو سره مخامخ کیږو، یو له فزیکی یا حقیقي اشخاصو یعنې افرادو سره او بل له حکمي یا معنوي اشخاصو سره.

**حقیقي یا فزیکي اشخاص (افراد):**

په حقوقوکې د عمومي پرنسیپ له مخې هر بشري یا فزیکي موجود د حقوقي شخصیت درلودونکی دی، معنی داچې هر انسان د عندي حق حامل پیژندل کیدلی شی او کولای شی لږ تر لږه له ځینې عندي حقوقو څخه برخمن شي، په داسې حال کې چې غیر انساني موجودات د دغه صفت او ځانګړتیا فاقد بلل کیږي، البته لکه نن چې ګورو په تیره زمانه کې وضعیت په دې ډول نه وو بلکې د یو شمیر حالاتو په رامنځ ته تګ کې فزیکي اشخاصو حقوقي اهلیت له لاسه ورکاوا او د عندي حق د حامل په توګه نه پیژندل کیدل، مثلاً غلامان یا هغه کسان چې په درنو جرمونو محکومیدل، دا ډول اشخاص د حقوقو فاقد پیژندل کیدل او ګواکي له اجتماع څخه تجرید کیدل، چې دغه عمل ته د مدني مړینې په سترګه کتل کیدل خو نن یوازې حیوانات د حقوقي شخصیت فاقد پیژندل کیږي.

**د حقیقي حقوقي شخصیت پیل او پای:**

حقوقي شخصیت د انسانانو په تولد سره پیل کیږي، البته په دغه پرنسیپ کې استثناء موجوده ده او هغه دا چې موږ هغه وخت یوه موجود ته له تولد مخکې په حقوقي شخصیت قائل کیږو چې د تولد په وخت کې ژوندی دنیا ته راشي او د راتلونکي لپاره د ژوندي پاتې کیدو وړتیا ولري، خو له دې کبله چې د اطفالو یو لړ منافع تر تولد وړاندې خوندي شي، لازمه ده چې هغوی ته تر تولد وړاندې په حقوقي شخصیت قائل شو، مثلاً کله چې د کورنۍ پلار مړ کیږي او ما شوم لا د مور په ګیډه کې وي، په دغه حالت کې ترکه د ټولو وارثینو ترمنځ ویشل کیږي، نو په دې صورت کې باید هغه ماشوم چې تر اوسه نه دی تولد شوی حمایه شي او په حقوقي شخصیت ورته قائل شو او له ترکې څخه یې برخه ورته وساتل شي، کله چې تولد شو او د ژوندي پاتې کیدو وړتیا یې درلوده له دغو مکتسبه حقوقو څخه برخمن کیږي او له دې پرته به یې برخه او سهم په نورو وارثانو باندې تقسیمیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د حقیقی حقوقي شخصیت د هغه شخص په مړینې سره پای ته رسیږي، یعنې لکه چې یو فزیکي شخص وفات شي حقوقي شخصیت یې هم له منځه ځي، خو په ځینې حالاتو کې یې له مرګ وروسته هم حقوقي شخصیت دوام کوي او داسې ګڼل کیږي چې ګواکي ژوندی دی، مثلاً د دین یا طلب د دعوی په جریان کې چې کله مدعی یا مدعی علیه وفات شي، دغه دعوی یې د وارثانو لخوا پرمخ بیول کیږي او داسې ګڼل کیږي چې دا ګواکي د دوی د مورث د حقوقي شخص اقتدار دی.

**د حقیقی اشخاصو د هویت تشخیص:** د دې لپاره چې حقیقي حقوقي شخص تثبیت کړای شوی وي او په قانوني توګه قضاء او خلکو پیژندلی وی دري عناصر لازم دي:

۱- **نوم:** له هغې نومونې یا تسمیې څخه عبارت دی چې په اجتماعي او حقوقي ژوند کې د یوه شخص د پیژندګلوۍ په موخه ورکول کیږي.

نوم دوه مهم عناصر لري، یو فامیلي او نسبي عنصر دی چې د یوې کورنۍ او د هغو د غړو ترمنځ شریک وي، او د نسب په سلسله د پلار یا نیکه څخه اخیستل کیږي یا داچې د ازدواج په اساس له خاوند څخه اخیستل کیږي، دغه نوم مدرک دی، او دوهم عنصر هغه لنډ نوم دی چې د کورنۍ د غړو تر منځ د یو چا شخصیت تثبیتوي.

۲- **استوګنځي (سکونت):** د دې لپاره چې د یو چا شخصیت تثبیت شي یوازې نوم بسنه نه کوي، نوځکه استوګنځی د هویت په تثبیت کې مهمه ونډه لري، په دې اساس استوګنځي هغه ځای دی چې له حقوقي پلوه یو شخص له یوه مکان سره تړي، د دې د کره کولو ګټې چې یو شخص په رښتیا هم په هغه ځای کې اوسیږي ډیرې زیاتې دي، مثلاً د استوګنځي د تثبیت له مخې د دعوي محل او د محکمې صلاحیت چې قانوناً د قضیې د څیړلو اجازه لري تعیینیږي، او دغه حقوقي پرنسیپ دا رښتیا کوي چې د مدعي علیه د سکونت محل د دعوی محل دی، یعنی مدعي مجبور دی چې د مدعي علیه د سکونت په محل یا استوګنځي ته مراجعه وکړي او له هغې محکمې څخه چې په نوموړې حوزه کې ده د دعوی د څیړلو او حل او فصل غوښتنه وکړي، په همدې توګه د عدیم الاهلیت اشخاصو لپاره هم د سکونت محل د ډیر اهمیت وړ دی، د مثال په توګه د صغیر طفل استوګنځی هغه ځای دی چې والدین یې پکې اوسیږي یا د ښځې د سکونت محل د هغې د خاوند د اوسیدو سیمه ده.

۳- **تابعیت یاملیت:** تابعیت له هغې حقوقی رابطې څخه عبارت دي چې د یوه معین دولت او فزیکي شخص ترمنځ وي، هغه قوانین چې د تابعیت موضوع تثبیتوي تر نړیوالو حقوقو پورې اړه لري چې موږ یې په اړه له بحث کولو څخه ډه ډه کوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**حکمي یا معنوي اشخاص:**

په حقوقي ژوندانه کې یوازې فزیکی افراد او اشخاص د عندي حق د حامل په توګه د بحث موضوع نه دي، ځکه د هغو په څنګ کې بشري ټولنې، سازمانونه او مؤسسات هم شته یا باید وي، دغه مؤسسات او ټولنې له حقوقي پلوه هماغه وضعیت او حالت خپلوي چې فزیکي اشخاص او افراد یې پیدا کولی شي، ځکه دغه مؤسسات د فزیکي اشخاصو په څېر د حقوقو د فعال او غیر فعال حامل په بڼه رامنځ ته کیدلی شي او د اموالو او شتمنیو په څېر د نورو هغو مسائلو درلودونکي دي چې د عندي حقوقو یوه برخه احتواء کوي، یعنې هغوی کولی شي حقوق او امتیازات ولري او په مقابل کې یې مکلفیتونه او وجائب په غاړه واخلي، د مثال په توګه هغوی کولی شی د فزیکي اشخاصو په څېر ملکیت واخلي او ویې پلوري، او که په دې برخه کې کومه نزاع یا شخړه رامنځ ته شي د مدعي یا مدعي علیه په توګه محکمې ته مراجعه وکړي یا داچې د افرادو په وړاندې د دائن یا مدیون موقف خپل کاندي. له دې کبله ده چې ټولنیزې اړتیاوې لارښوونه کوي چې دا ډول ټولنې او سازمانونه باید حقوقي شخصیت خپل کړي، بناءً ګټوره داده چې هغو ته په حقوقي شخصیت قائل شو او قانوناً د یوه فزیکي شخص په توګه وبلل شي او د حکمي یا معنوي شخصیت نوم ورکړل شي، په دومره توپیر سره چې دا ډول اشخاص په مجرد تولید او منځ ته راتګ سره د حقوقي شخصیت درلودونکي نه دي بلکې د یو لړ هغو مراتبو له ترسره کولو وروسته حقوقي شخصیت حاصلوي چې په قانون کې تعیین شوي دي. حکمي اشخاص په عملي ژوند کې بیلابیل اشکال او انواع لري چې په سر کې د عامه او خصوصي حقوقو، حکمي یا معنوي اشخاصو ته ویشل کیږي.

**د عامه حقوقو حکمي اشخاص:**

په مجموع کې د عامه حقوقو، حکمي اشخاص کیدلی شي دولت، ښاروالۍ، د عامه خدماتو تأسیسات لکه سره میاشت او ملي فابریکې چې غیر انتفاعي موخه لري وي، یا بانکونه، تجارتي شرکتونه، صنعتي تصدۍ یا د یوه سهامي شرکت حوزه وي یا داچې دولتي تصدي وي، دغه ټول مؤسسات او سازمانونه د حکمي اشخاصو په توګه د عامه حقوقو په چوکاټ کې د اقتصادي، بودجوي فرهنګي، صحي او نورو په څېر د قانون په رڼا کې فعالیت کوي.

**د خصوصي حقوقو حکمي اشخاص:**

۱- **شرکتونه:** شرکتونه د یوه خاص منظور یعنې ګټو د لاس ته راوړلو لپاره د افرادو له تجمع او راټولیدنو څخه عبارت دي، په بل عبارت شرکتونه د یو شمیر افرادو له هغو اجتماع څخه عبارت دي چې خپلې شتمنۍ سره یوځای کوي څو په دې توګه د هغو له یو ځای والي څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library

منفعت او ګټه تر لاسه او په خپلومنځو کې يې په مساوي توګه وويشي، شرکتونه بیلابیل ډولونه درلودلی شي لکه د تجارتي یا صنعتي چارو د پرمخ بیولو شرکتونه یا لکه د مدني چارو د پرمخ بیولو لپاره زراعتي تصدۍ، د مالدارۍ کوپراتیفونه او داسې نور....

۲- **ټولنې:** دا هغه بشري مجامع دي چې موخه يې منفعت جلبول نه دي بلکې د نورو اهدافو لپاره لکه خلکو ته خدمت، هنر ته خدمت، سپورت ته خدمت او داسې نور وي.

**تشکل او طرز العمل:**

د یوه حکمي شخصیت ایجاد او منځ ته راتګ کیدای شي تر ټولو وړاندې له یوه عقد څخه سرچینه واخلي، ځکه دا ډول اشخاص د حقیقي اشخاصو په څیر له تولد سره سم له حقوقي شخصیت څخه نه برخمن کیږي، بلکې د هغو د موجودیت لپاره یو داسې توافق چې د اساسنامې په متن کې ځای کړای شوی وي لازمي دی چې له قانوني پړاوونو له ترسره کولو وروسته نشر کیږي. حکمي اشخاص د هغو د قانوني ممثلینو په واسطه عمل کوي او دغه قانوني ممثلین حکمي شخصیتونه استعمالوي، د حکمي اشخاصو قانوني ممثلین فزیکي افراد یا حقیقي اشخاص دي څو هغوی و توانیږي چې حکمي شخصیت د یوه شخص په توګه وګرځوي او حقوق يې استعمال کړي، دغه ممثلین د رئیس، آمر او مدیر په نامه سره یادیږي.

**د حکمي شخصیت پای:**

د حقیقي اشخاصو په پرتله د حکمي اشخاصو د انحلال او اختتام علتونه خورا زیات دي، ځکه د حقوقي شخصیت د اختتام لپاره یوازنی علت د هغه مرګ دی په داسې حال کې چې دلته ډیر زیات عوامل منځ ته راتلی شي لکه د شرکت د موضوع پای ته رسیدل، د هغه وخت ختمیدل چې د یوه شرکت یا ټولنې لپاره په اساسنامه کې پیشبیني شوي دي، د شرکت د اکثره غړو په غوښتنه د شرکت اداري یا قضایي انحلال، د دائنینو په غوښتنه سره د شرکت انحلال او داسې نور...

هغه علتونه چې پاس ذکر شول د حکمي شخصیت د منځه تللو باعث کیږي، خو د عملی دلائلو او د مؤسسې او ښکیلو اشخاصو د ګټو د ساتلو لپاره لازمه ده چې حکمي شخصیت له انحلال وروسته هم یو څه وخت دوام وکړي، چې دغه موده د معاملاتو د تصفیې د اجراء موده ده او نوي فعالیتونه نشي ترسره کولی، دا کار ډیرې ګټې لري ځکه که د انحلال په مجرد دستور سره دا ډول سازمانونه یا حکمي اشخاص له منځه ولاړ شي نو په دې صورت کې نه د دائنینو حقوق اعاده کیدلی شي او نه له مدیونینو څخه د قرض غوښتنه کیدلی شي، په همدې توګه ګرځنده او ثابتې شتمنۍ او هغه اموال چې په لاس کې يې لري له کوم برخلیک پرته پاتې کیږي او دا نه شي معلومیدلی چې دغه شتمنۍ تر چا پورې تړاو لري، نو له دې کبله ده چې له انحلال وروسته د یو څه وخت لپاره د حکمي شخصیت ادامه لازمي ده څو په دې توګه حسابات تصفیه شي او که

(c) ketabton.com: The Digital Library

ضرورت وي قضايي مقاماتو ته لکه چې تر انحلال مخکې يې کولی شول د عندي حق د حامل په توګه مراجعه وکړي.

**د حکمي اشخاصو د هويت تثبيت:**

د حقيقي اشخاصو په څير د حکمي شخصيت د هويت د تثبيت لپاره هم لاندې درې عناصر د ارزښت وړ دي:

۱- **نوم:** په دې معنی چې هر حکمي شخص بايد د حقيقي او فزيکي اشخاصو په څير نوم ولري، تجارتي شرکتونه د تجارت نوعيت ته په پام سره يا د مالک د نوم په اساس نومول کيږي، البته د دغه نوم په څنګ کې تجارتي عنوان هم معمول دی چې دغه د نوم په خلاف يوه خيالي او تصويري نومونه ده.

۲- **د حکمي اشخاصو اقامت ځای:** د حکمي شخصيت اقامت ځای معمولاً د حکمي شخصيت په مرامنامه يا اساسنامه کې ثبت وي او هغه د مؤسسې يا شرکت د مقر او هستوګنځي په ځای استعمالوي، دغه هستوګنځی کيدلی شي چې د حکمي شخصيت د صاحب او مالک د هستوګنځي بڼه ولري يا دا چې کوم بل ځای وي، خو په هر صورت د حکمي شخصيت اقامت ځای بايد واقعاً هغه ځای وي چې حکمي شخصيت پکې فعاليت کوي او حقوقاً تر هغه ځای پورې تړلی بلل کيږي.

۳- **تابعيت:** هغه ځای چې يوه حکمي شخصيت ته ورکول کيږي، د همغه له مخې د حکمي شخصيت تابعيت تثبيتيدلی شي، د مثال په توګه که د يوه شرکت مقر په کابل کې وي تابعيت يې افغان دی يا که په پاريس کې وي تابعيت يې فرانسوي دی، خو کله چې د يوه شرکت اصلي مقر په کابل کې وي خو زياتره فعاليتونه يې د بهرنيانو لخوا کنترول او اداره کيږي په دې صورت کې د حکمي شخصيت تابعيت د هغه د مقر له مخې نه تثبيتيږي بلکې د شرکت تابعيت د شريکانو د زياتره اسهامو او ونډو او د هغو فعاليتونو په اساس تثبيتيږي چې د بهرنيانو لخوا کنترول او اداره کيږي.

**د عندي حقوقو تصنيف (ويش):**

عندي حقوق په عمومي توګه په دريو لويو برخو ويشل کيږي چې دا دی هر يوه يې مطالعه کوو.

۱- **سياسي حقوق:** سياسي حقوق هغه امتياز او صلاحيت دی چې شرکت لرونکی شخص يې په عمومي قواوو او دولتي ارګانونو کې لري، لکه د ملي شورا، ولايتي شوراګانو، ولسواليو د شوراګانو، جمهوري رياست او داسې نورو لپاره د انتخابولو يا انتخابيدلو حق، د تابعيت منل او داسې نور...

۲- **عمومي حقوق:** عمومی حق يا حقوق د انسان تر شخصيت او جسمي او روحي سلامتيا پورې

(c) ketabton.com: The Digital Library

تړاو لري، یا داچې د دولت او اتباعو په رابطه باندې ناظر دی، لکه د ژوندانه حق، د بیان د آزادۍ حق او داسې نور... لکه د افغانستان د اساسي قانون دوهم فصل چې د اتباعو د حقوقو او وجائبو تر عنوان لاندې عمومي حقوقو ته پاملرنه کړې ده. په دې اساس عمومي حقوق د دولتونو د تجاوز او د هغو د قدرت د سرکشۍ د مهار کولو په مقابل کې د انسان د صیانت او ساتنې وسیله ده. له دې سره سره بیا هم عمومي حقوق په خصوصي روابطو کې د استناد وړ دي، مثلاً هر څوک باید د نورو ژوند، آزادۍ، شرافت او شخصیت ته احترام وکړي او کنه نو مسؤل دی چې د ضرر په وخت کې د هغوی خساره جبران کړي.

۳- **خصوصي حقوق:** خصوصي حق هغه امتیاز دی چې یو شخص یې د نورو په مقابل کې لري لکه د مالکیت حق، د انتفاع حق، د شفعې حق، د رهن حق او داسې نور...

د خصوصي حق د ایجاد سبب کیدلی شي حقوقي عمل وی یا هم حقوقی حادثه، خو په هر حال د هر خصوصي حق سره سمه وجیبه هم مقرره شوې ده، خصوصي حقوق په خپل وار سره د مالي ذمت حقوقو (مالي حقوق) او د مالي ذمت ماوراء حقوقو ( غیر مالي حقوق) ته تقسیمیږي چې دادی په لنډه توګه مطالعه کیږي.

**د مالي ذمت ماوراء حقوق ( غیر مالي حقوق):**

دا هغه حقوق دي چې مالي او اقتصادی خصوصیت نه لري، په پیسو باندې د ارزولو او تبدیل وړ د انتقال او سپارلو وړتیا نه لري او د زمان تر مرور او تیریدو لاندې نه راځي چې د شخصیت حق د دغو کاملترینو حقوقو له جملې څخه دی.

د شخصیت حق له هغه حق څخه عبارت دی چې هدف یې په انساني محور باندې د انسان د شخصیت د ودې او انکشاف حمایت دی، لکه د مسکن حق، د کار او فعالیت حق، د عقیدې د آزادۍ حق، د بیان د آزادۍ حق او داسې نور...

دغه حقوق په حقیقت کې تر انساني شخصیت پورې تړلي دي او د هغه له وجود څخه د جلاوالي او انقسام وړ نه دي، دغه حقوق د انسان د شخصیت تائیدوونکي دي او هغه ته موقع ورکوي چې خپل شخصیت ته انکشاف ورکړي او په ټولنه کې خپل فردي رشد او انساني کرامت تأمین کړي. د شخصیت حق هم د انسان تر مادي او هم تر معنوي اړخ پورې تړاو لری، هغه حقوق چې د انسان تر مصئونیت پورې مربوط دي او انسان د اغیارو د تیریو او خپله د شخص په مقابل کې په قانوني مؤیداتو سره حمایه کوي د انساني شخصیت مادي اړخ تشکیلوي او هغه څه چې د انساني شخصیت تر معنوي اړخ پورې مربوط دي د انسان معنوي اړخ تشکیلوي لکه د نوم انتخاب، خصوصي اسرارو ته احترام او دغه راز د کورنۍ رازونو ته احترام کول، په دې معنی چې هیڅوک حق نه لري څو د یوچا د خصوصي ژوند او د هغو د رازونو په اړه پلټنه وکړي، په همدې توګه مدافع وکیلان، د قاضیانو د وثائقو مامورین او ډاکټران مجبور او مکلف دي چې د مراجعینو

(c) ketabton.com: The Digital Library

اسرار وساتي، په همدې ترتیب د انسانانو شرف او افتخار هم د احترام وړ دی، هغو ته هر ډول توهین او اهانت جرم بلل کیږي او مرتکب يې د مجازات مستوجب دی. انسانان دغه راز مادي اړتیاوې هم لري چې فرد ته د شخصیت د حق یعنې د مالي ذمت د ماوراء حق په څنګ کې د مالي ذمت حق هم یوه داسې اړتیا ده چې انکار نشي ترې کیدلی.

**د مالي ذمت حقوق (مالی حقوق):**

د مالي ذمت حقوق د حقوقو او وجائبو مجموعه ده، یا داچې دغه حقوق د شتمنۍ او دیونو مجموعه ده، **دغه حقوق** د مالي ذمت د ماوراء حقوقو په خلاف د مالي او اقتصادي ارزښت درلودونکي دي او په پیسو باندې د تقدیر او ارزولو وړتیا لري.

**د مالي ذمت د حقوقو ډولونه:** د مالي ذمت حقوق په عمومي توګه په دریو برخو ویشل شوي دي:

۱- عینی حقوق

۲- شخصی یا د دائنیت حقوق

۳- ذهنی یا معنوی حقوق

۱- **عینی حقوق:** د عیني حقوقو اطلاق په هغو حقوقو باندې کیږي چې یو شخص يې پر اشیاؤو باندې لري او هغه له هغه اقتدار څخه عبارت دی چې فرد يې په اشیاؤو باندې پیدا کوي، عیني حقوق په خپل وار سره اصلي او تبعي یا محلقه حقوقو ته تقسیمیږي.

a. **اصلی عینی حقوق:** له هغه حق څخه عبارت دي چې یوه شخص ته متوجه وي او حامل يې په فوري او سملاسي توګه په اشیاؤو باندې خپل اقتدار اجراء کړي، د اصلي عیني حقوقو ښه مثال د ملکیت حق دی، بناءً د ملکیت حق، په یوه شي کې په مطلق ډول له انتفاع او تصرف څخه عبارت دی په دې شرط چې دغه مالکانه انتفاع او تصرف له قانوني اساساتو سره په ټکر کې نه وي، د ملکیت د حق تعریف ته په کتو سره لاندې دری عناصر د بحث وړ ګرځي

i. **د استعمال حق:** د دغه حق په موجب سره مالک کولی شی یو څیز (شئ) د شخصي اړتیاوو لپاره په مستقیم یا غیر مستقیم ډول وکاروي.

ii. **د انتفاع حق:** یعنې د عائداتو لاس ته راوړول او له یوه شي څخه ګټه اخیستل، په داسې ترتیب سره چې یو څوک یو شئ چاته په کرایه ورکوي او په دې توګه يې مالک په غیر مستقیم (بالوسیله) ډول استعمالوي او له هغو څخه ګټه اخلي.

iii. **د تصرف حق:** د تصرف د حق معنی داده چې که دغه تصرف په خپله د شخص لخوا د شي تخریب او ضایع کول وي او یا بل چاته د هغه شئ د سپارلو او ګټې اخیستو لپاره د ضایع او انتفاع نوم ورکوي، چې په دې ترتیب سره د مالکیت به حق کې مورږ د تمتع او ارتفاق له حقوقو سره مخامخ کیږو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د تمتع حق:** د یوه شي له استعمال، انتفاع او ګټې اخیستنې څخه عبارت دی، چې ګواکي دوهم شخص (متمتع) په غیر مستقم او بالوسیله توګه یوازې د مال یا شي د استعمال او انتفاع حق لري.

**د ارتفاق حق:** له هغه حق څخه عبارت دی چې یو شخص د بل چا په ملکیت کې حقوق پیدا کوي، مثلاً د عبور حق د شرب حق د مسیل حق او داسې نور...

**تبعي یا ملحقه عیني حقوق:** لکه چې له نامه څخه یې معلومیږي دغه حق په فوري او مستقیم ډول سره په شي باندې وجود نه لري او له خپله ځانه مستقل حق نه لري بلکې دغه حق تر بل حق پورې ملحق او تړلی دی، لکه د دین حق چې په بالوسیله توګه د دین په تادیې سره تأمین کیږي چې په قرضونو کې رامنځ ته کیدونکی مسؤلیت هم له همدې امله دی، دا ډول حق ته عیني تأمینات هم ویل کیږي، د تبعي عیني حقوقو د لا ښه وضاحت په هدف دا دی په دې برخه کې یو مثال راوړو، فرضاً یو څوک قرض اخلي هغه څوک چې قرض ورکوي یعنې دائی له مدیون یا قرض اخیستونکي څخه د ضمانت او تأميناتو غوښتنه کوي، که مدیون غیر منقول مال ولري نو حاضریږي چې دائن ته د هغه د اطمنان په خاطر خپل جایداد د ضمانت یا رهن (ګروی) په توګه ورکړي، په دې مسئله کې تر ضمانت لاندې شي ته مرهونه ویل کیږي، قرض ورکوونکي ته دائن او قرض اخیستونکي ته مدیون ویل کیږي.

**شخصی حقوق یا دائنیت:**

د دغو حقوقو اطلاق په ټولو هغو حقوقو باندې کیږي چې یو شخص یې په بل باندې لري، یا په بل عبارت شخصي یا د دائنیت حق له هغه حق څخه عبارت دی چې په موجب سره یې دائن و کولای شی له مدیون څخه د قرض د اداء یا الزام تقاضاء وکړي، د شخصي حقوقو ځانګړنه او هغه څه چې دغه حق له عیني حق څخه جلا کوي داده چې په عیني حقوقو کې دوه عناصر شتون لري یو حام د حق او بله موضوع د حق، خو په شخصي حقوقو کې درى عناصر مطرح دي:

١- دائن

٢- مدیون

٣- اداء

دلته دائن د تقاضاء د قدرت درلودونکی دی او مدیون د دائن په وړاندې یو مجبور شخص دی چې دواړه د یوې حقوقي رابطې یعنې دین په اساس له یو بل سره تړل شوي دي، اداء عام مفهوم لري چې هغه له اعطاء یا ور سپارلو د یوه شي څخه عبارت دی، یا داچې اداء په یوه عمل باندې اقدام یا له یوه عمل څخه امتناع ته اداء ویل کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ذهني یا معنوي حقوق:**

دا هغه حقوق دي چې نه مادي، نه مالي او نه هم شخصي ماهیت لري، بلکې د ذهني وړتیاوو زیږنده دي، مثلاً یو سندرغاړی په نظر کې و نیسئ چې یوه سندره کمپوز کوي، دغه شخص بالاثر یو ډول ذهني حق لري، ځکه کومه سندره چې ده ویلې یا کمپوز کړې ده د هغه د ذهن زیږنده ده، نو سندرغاړی کولای شي د سندرې په بدل یوه اندازه پیسې لاس ته راوړي.

**د عندي حقوقو منابع او مصادر:**

د عندي حقوقو د مصادرو په اړه بحث د دې غوښتنه کوي څو داسې عناصر او اجزاء و موندل شي چې آفاقي حقوق هغه د عندي حقوقو د منځ ته راتګ د منبع په توګه پیژندلي وي، له دې اړخه موږ له دوو عناصرو سره مخامخ کیږو چې یو یې حقوقي اعمال او بل حقوقي حوادث دي.

۱- **حقوقي اعمال:** حقوقي اعمال هغه ارادي اعمال دي چې د حقوقي نتایجو د تولید او منځ ته راتګ لپاره ترسره کیږي، دغه نتایج عبارت دي د حق یا وجیبې له اکتساب، انتفاع او ضیاع څخه، حقوقي اعمال کیدلی شي یو یا څو اړخونه ولري.

**اوله نوعه:** دا هغه حقوقي اعمال دي چې د یوه شخص لخوا پکې د ارادې اظهار شوی وي او د نوموړي دغه یو جانبه اراده په تنهایۍ سره د حقوقي نتایجو باعث ګرځیدلې وي او د بل شخص موجودیت د هغه د ارادې او موافقې د بیان او اظهار لپاره ضروري نه وي، دا ډول حقوقي اعمالو ته یو جانبه حقوقي اعمال ویل کیږي، د مثال په توګه وصیت نامه چې هدف یې له موصي څخه موصي له ته د حق انتقال دی.

**دوهمه نوعه:** دا هغه حقوقي اعمال دي چې د حقوقي نتائجو د رامنځ ته کولو لپاره پکې په یوازې توګه د یوه شخص د ارادې اظهار کافي نه وي بلکې د یوه بل شخص موجودیت او د هغه اراده او موافقه هم لازمي او حتمي، یعنې دغه ډول حقوقي اعمال د یوې ارادې نه بلکې د دوو یا زیاتو ارادو د توافق او تطابق په نتیجه کې منځ ته راځي چې دغه ډول حقوقي اعمال د دوه جانبه حقوقي اعمالو په نامه سره یادیږی، د دین ابراء، د دین د ابراء معنی داده چې یو شخص تصمیم نیسي او اراده کوي څو د هغې قرضې له غوښتنې تیرشي چې په یوه بل شخص یې لري چې په دغه ځای کې د مدیون د ارادې توافق هم حتمي او ضروري ګڼل کیږي.

د ارادې تبارز او اظهار د حقوقي اعمالو په انعقاد او تشکل کې له یوه لوري او د حقوقي نتائجو په تولید کې له بل لوري خورا مهمه او ارزښتناکه ونډه لري، له دې امله د دې اړتیا دې چې اراده په لنډه توګه مطالعه کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**په حقوقي اعمالو کې د ارادې ونډه:**

لکه چې پورته ولیدل شول حقوقي اراده د حقوقي اعمالو په رامنځ ته کولو کې ښکاره ونډه لري او له دې امله چې حقوقي اراده بلل شوې ده او په حقوقي عمل کې مؤثره واقع شي لازمه ده چې لاندې شروط احتواء او په ځان کې را ونغاړي.

الف- اراده باید واقعاً وجود ولري.

ب- هغه اراده چې په ذهن کې یې خطور کړی دی باید عملاً برملا کړای شی.

ج- اراده باید مؤثره انګیزه او سبب ولري.

د- اراده باید له هر هغه عیب څخه عاري او پاکه وي چې د ترسره کوونکي شخص د حقوقو او وجائبو په منځ کې نا انډولي رامنځ ته کړي لکه جبر او اکراه، خطا یا اشتباه، حیله یا تلبیس او غبن

و- اراده باید د داسې شخص له لوري ابراز او اظهار شي چې د تبارز او اظهار لپاره یې د قانوني صلاحیت اختیار ولري.

هـ- اراده باید ځانګړو شکلیاتو ته په کتنې سره د هر ډول معینو او مشخصو حقوقي اعمالو لپاره ابراز شي، لکه د شاهدانو په وړاندې د زوجینو ایجاب او قبول.

**بطلان:** هغه مدني مؤیده ده چې په ناقصو حقوقي اعمالو باندې تطبیقیږي، لکه د مجنون یا صغیر د ارادې ابراز چې د اهلیت د نشتوالي له امله له بطلان سره مخ ده، دغه بطلان لکه چې پوهیږو کیدلی شي مطلق یا نسبي وي.

**حقوقی حادثات:**

حقوقي حوادث له هغو واقعاتو څخه عبارت دي چې د اشخاصو اراده پکې ونډه نه لري خو له دې سره سره بیا هم د هغوی په وړاندې له حقوقي آثارو او نتائجو سره مخامخ کیږي. مثلاً د شخص د یوې حقوقي حادثې په اساس، د حقوقو انتقال او اکتساب، یا پرته له دې چې د دا ډول آثارو او نتائجو په رامنځ ته کولو کې د عندي حق حامل ونډه ولري د هغو له لاسه ورکول.

له پورتني تعریف څخه په ښه توګه واضح کیږي چې یوازنی هغه عنصر چې حقوقي حادثه له حقوقي عمل څخه بیلوي هغه اراده ده، چې دلته د حق د قبلوونکي اراده یا وجیبه نقش نه لري بلکې معمولاً د مقنن اراده ده چې په یوه حقوقي حادثه باندې نتائج او آثار مرتب کوي او په ښکیلو اشخاصو باندې یې تطبیقوي، خو په حقوقي عمل کې د حقوقي آثارو او نتائجو په رامنځ ته کولو کې خپله د شخص اراده مؤثره ونډه لري، د مثال په توګه په یوه عقد کې چې د یوه حقوقي عمل بڼه لري واهب غوښتي او هیله یې کړې چې تر خپل ځان پورې د اړوند یوه شي ملکیت بل

(c) ketabton.com: The Digital Library

چا ته انتقال کړي، په داسې حال کې چې په حقوقي حادثه مثلاً مرګ کې د وفات شوي شخص اراده هیڅ ونډه نه شي لرلی او هغه نتائج چې د دغې حادثې له امله رامنځ ته کیږي، چې وارثینو ته د متوفی د ملکیت له انتقال څخه عبارت دي د هغه د ارادې زیږنده نه دي بلکې تر میراث پورې په اړونده دساتیرو کې د مقنن اراده ده چې وارثینو ته یې د مړینې په پایله کې د دغې حقوقي نتیجې یعنې ملکیت د انتقال وړاندوینه کړې ده.

**د عندي حقوقو حدود:**

لکه چې ومو لوستل عندي حقوق د حدودو درلودونکي دي، موږ نشو کولای چې دغه حدود له پامه وغورځوو او یو عندي حق مطلق او نا محدود کړو، ځکه که عندي حق د یوه صلاحیت او اختیار په توګه ومنو طبیعي ده چې هیڅ اختیار او صلاحیت مطلق او لا محدود نه دی بلکې په حدودو باندې باید ورته قائل شو، له هغې پرته به له حق څخه د ناوړه ګټې او نامطلوبو تصرفاتو ګڼې ستونزې رامنځ ته کړي، له دې امله ده چې عندي حق محدود شوی دی او دغه حدود له دوو اړخونو څخه د درک او فهم وړ دي، یو محدود او مرعي حدود دي چې خارجي وجود لري مثلاً په کرونده باندې د ملکیت حق چې په رسمي قباله کې درج دی چې هغه د کروندې له څلورګونو حدودو څخه عبارت دی او دغه څلورګوني حدود طبعاً د لیدلو، احساس او زموږ د ظاهر درک وړ دي او په هغو کې د تثبیت او تشخیص له پلوه هیڅ ډول ستونزه نه تر سترګو کیږي.

یا د مثال په توګه که د یوه سړی یو څوک زر افغانۍ قرضداره وي د دغه حق خارجي حددو په دې کې دي چې دا یو عندي حق دی، همدغه زر افغانۍ د یوه عندي حق په توګه له مدیون څخه مطالبه کولی شي، په داسې حال کې چې د دغو خارجي او ظاهري حدودو په څنګ کې موږ د عندي حقوقو له نورو حدودو سره مخامخ کیږو چې خارجي وجود نه لري او په آسانۍ سره د فهم وړ نه دي ځکه کوم اثر په ځای نه پریږدي چې وکولای شو هغه احساس کړو، له دې امله ده چې دا ډول حدودو ته غیر مرئي یا باطني حدود ویل کیږي، ځکه دا ثابته شوې ده چې د آفاقي حقوقو له پلوه نن په نړۍ کې هیڅ عندي حق مطلق نه دی، که هغه د استعمال له مخې وي یاد انتقال او ضیاع له مخې، بلکې د عندي حقوقو د استعمال، انتقال او نورو امتیازاتو په شرائطو باندې محدود او مقید دی، د مثال په توګه که په یوه ټوټه مځکه باندې د اوبو چینه وي چې د مجاور ملکیت د څاګانو اوبو له همدې چینې څخه وي په دې حالت کې د چینې د ځمکې مالک حق نه لري چې له چینې څخه تر اړتیا زیاتې اوبه مصرف کړي او د چینې په پاکو اوبو سره خپلې کروندې خړوبې کړي او دا کار د مجاورو ځمکو د پاکو اوبو د څاګانو د وچیدو سبب شي.

دلته که څه هم مالک، د مالکیت د هغه حق په اساس چې په کرونده کې یې لري کولای شي هر ډول مالکانه تصرف وکړي مګر دا چې له دغه عندي حق څخه دا ډول استفاده نورو ته زیان

(c) ketabton.com: The Digital Library

رسوي، نو د نوموړي عمل له حقوقي اړخه جواز نه لري او دا ډول استفاده له عندي حق څخه د ناوړه ګټې د نظريې له مخې محکومه شوې ده چې دا په حقيقت کې د عندي حق د استعمال په برخه کې د يو ډول محدوديت ښکارندويي کوي.

په همدې توګه د عندي حق د انتقال لپاره هم قيود او حقوق وضعه شوي دي، د مثال په توګه يو مورث (هغه څوک چې مال يې ميراث شوی دی) که څه هم چې د ټول جايداد او شتمنۍ مالک دی مګر قانون بياهم دغه انتقال په دې سره محدود کړی دی چې د خپلې دارايۍ له ثلث څخه په زيات مال کې وصيت نه شوي کولی، يعنې نشي کولای چې د وصيت په اساس له دغه ټاکلي حد څخه زيات شی نورو اشخاصو ته انتقال کړي.

د هغو عندي حقوقو د استعمال په برخه کې هم چې د ټولنې څخه د حمايت له مفکورې راټوکيدلي دي، حدود موجود دي ځکه د ريپر په عقيده عندي حق هغه امتياز دی چې له نيک نيت سره اخښلي او ګډ وي، هرکله چې له دغه امتياز څخه په سوء نيت استفاده وشي دا له حقوقو او اجتماعي عدالت سره مغاير کار دی او قضاء د هغه حمايت نه کوي، بلکې په عمل کې عندي حق څخه بايد داسې استفاده وشي چې ګواکي د کورنۍ يو نيک پلار د خپل خصوصي ژوند په برخه کې عمل کوي.

**د عندي حقوقو انتقال:**

حقوقي پرنسيپ ته په پام سره هر عندي حق د انتقال وړ دی، خو په عمل کې ليدل کيږي چې دا حق بياهم محدود شوی او استثناء پکې تر سترګو کيږي، د مثال په توګه د مالي ذمت ماوراء حق لکه د شخصيت حق، نه اخيستل کيدلی شي او نه خرڅيدلی او نه هم له يوه شخص څخه بل شخص ته انتقاليږي، مثلاً يو شخص نه شي کولی د هغه مديونيت په مقابل کې چې لري يې، خپل شخصيت يا د کورنۍ نوم له دائن سره د هغه د دين په مقابل کې تبادله کړي.

د حقوقو په اصطلاح کې هغه شخص چې بل ته حق انتقالوي د سلف په نامه سره او هغه شخص چې حق ورته انتقاليږي د خلف په نامه سره ياديږي.

- خلف کيدلی شي د خپل سلف علی الشمول خلف وي يعنې د خپل وارث مورث يوازنی وارث وي.
- خلف کيدلی شي د خپل سلف علی الصدق خلف وي يعنې متوفی څو وارثان ولري چې هر يوه ته يې خلف ويل کيدلی شي.
- خلف کيدلی شي د خپل سلف علی التخصيص خلف وی، په دې معنی چې خلف داسې يو شخص وي چې له خپل سلف څخه يو يا څو شيان ترلاسه کړي، د مثال په توګه د يوه کور اخيستونکي د خرڅوونکي د خلف علی التخصيص په توګه پيژندل کيږي او د خرڅوونکي له ټولې شتمنۍ څخه دې هغه کور چې دواړو لوريو يې په بيعه باندې موافقه کړې ده حاصل کړي.

البته هغه څوک چې د حق صاحب و نه پيژندل شي په هيڅ ډول يو عندي حق چاته نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

شي انتقالولی او دا ډول انتقال له حقوقي پلوه مجاز نه دی، یعنې که یو څوک د بل چا مال او ملکیت له قانوني صلاحیت او اختیار درلودلو پرته خرڅ کړي دغه خرڅلاو باطل دی او خرڅونکي چې کومې پیسې د مبیعې د ثمن په توګه ترلاسه کړې دي بیرته یې مشتري ته په استرداد باندې مکلف دی

د انتقال مخلتفې لارې چارې: په عمومي ډول د عندي حق انتقال له دوو لارو شونی دی، یو د ژوندیو تر منځ او بل د مرګ په سبب د حق انتقال.

**د ثبوت نظریه:**

ثبوت د حقوقي مسائلو له جملې څخه یوه خورا ارزښتمنه مسئله ده، لکه چې په حقوقو کې ضرب المثل دی «څوک چې خپل حق نشي ثابتولای ګواکي چې هیڅ حق نه لري». نو د دې لپاره چې انسان واقعاً وکولای شي له خپل حق څخه دفاع وکړي او هغه په نورو باندې تحمیل او په عملي ژوند کې هغه ته د احترام زمینه برابره کړي، باید د هغه د ثبوت لپاره وسائل او مدارک په لاس کې ولري او په دې توګه وکولای شي د قضاء په وړاندې د هغو ارزښت تثبیت کړي.

ثبوت، د عدالت په وړاندې د یوې واقعې د صحت په اړه د قاضي له معتقد کولو او د ځان له مستحق ګرځولو لپاره  څخه عبارت دی، د مثال په توګه که یو شخص ادعا وکړي چې په احمد یا محمود باندې مې لس زره افغانی باندې دي، ځکه یوه اندازه غنم مې پرې خرڅ کړي وو، نو که دغه مدعي غواړي چې له خپل مدیون څخه د قرض د جبری اداء او تحصیل مطالبه وکړي، قاضي باید په دې باوري کړي چې واقعاً یې غنم ورباندې خرڅ کړي دي او دغه شخص په احمد یا محمود باندې د دائنیت یو ډول حق لري، ګواکي دغه حقوقي عمل یا حادثه د هغه د عندي حق او ګټو د تأمین لپاره د راټوکیدلو موجب ګرځیدلی دی.

په دې توګه، ثبوت چې د یوه عندي حق د اجراء ضمانت تأمینوي، د ادعا د تائید او صحت په هکله د قاضي له باوري کولو څخه عبارت دی، او که یو څوک ثبوت وړاندې نشي کړلی په دې صورت کې به یې عندي حق ضایع کیږي، په دې اساس ثبوت له حقوقی او اصطلاحي پلوه د هغو وسائلو او دلائلو له کارولو څخه عبارت دی چې د دعوی لوري د قضاء بارګاه ته د هغو په وړاندې کولو سره ځانونه د حق خاوندان ورپیژني او هغه مسائل چې دوی یې د لاس ته راوړلو په هڅه کې دي هغو ته د حقیقت او واقعیت په بڼې ورکولو سره قاضي دیته اړ باسي چې دغه مسائل تائید او د دوي خبره سمه وګڼي او په دې توګه محکمه د هغه په ګټه او پلوۍ سره له مقابل لوري د وجیبې د جبري اداء او تنفیذ غوښتنه وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د پنځم فصل د مطالبو لنډيز:**

- عندي حقوق له هغه اختيار او قدرت څخه عبارت دي چې هر شخص ته د آفاقی حقوقو لخوا ورکړل شوي دي څو له هغو څخه د اشخاصو یا اشیاؤو په مقال کې استفاده وکړي او د خپلو مادي او معنوي اړتیاوو د پوره کولو لپاره یې کاروي.
- په بل تعبير سره، عندي حقوق امتيازات نه تثبيتوي، بلکې د اشخاصو موقف د يوه او بل په وړاندې تثبيتوي او هم د هغوی مواقف د اجتماع په وړاندې تضمينوي، له دې کبله کله چې اشخاص حقوقی مواقف خپلوي د حق او وجيبې دواړو درلودنکي دي، يعنې انسان تر هغه حده له خپل حق څخه استفاده کولی شي چې د ټولنې او نورو افرادو حقوقو ته صدمه و نه رسوي.
- د عندي حقوقو حاملين له حقوقي اشخاصو څخه عبارت دي، په دومره توپير سره چې د اشخاصو کلمه په دغه ځای کې هماغه مفهوم نه لري کوم چې په ورځني ژوندانه کې استعماليږي، بلکې د اشخاصو اصطلاح له حقوقي پلوه د فعال او غير فعال مفاهيم ليږدوي، مثلاً د دين په موضوع کې دائن فعال حامل او حق خاوند دی او مديون غير فعال حامل او د وجيبې په ترسره کولو سره مکلف دی.
- د حقوقو له نظره موږ د عندي حقوقو له دوو ډلو اشخاصو يا حاملينو سره مخامخ کيږو، يو فزيکی يا حقيقي اشخاص يعنې افراد، او بل حکمي يا معنوي اشخاص دي چې د فزيکی اشخاصو يا افرادو له اجتماع څخه متشکل وي او د قانون د حکم له مخې د حقوقی شخصيت درلودونکي وي.

- د عندي حقوقو د ويش له مخې دغه حقوق په دريو لويو برخو ويشل کيږي:
  - سياسي حقوق، هغه امتياز او صلاحيت دی چې شرکت لرونکی شخص يې په عمومي قواوو او دولتي ارګانونو کې لري، لکه د انتخابولو يا انتخابيدلو حق، د تابعيت منل او داسې نور...
  - عمومي حقوق، د انسان تر شخصيت او جسمي او روحي سلامتيا پورې تړاو لري، يا داچې د دولت او اتباعو په رابطه باندې ناظر دی، لکه د ژوندانه حق، د بيان د آزادۍ حق او داسې نور...
  - خصوصي حقوق، هغه امتيازات دي چې يو شخص يې د نورو په مقابل کې لري لکه د مالکيت حق، د انتفاع حق، د شفعې حق، د رهن حق او داسې نور...
  - د عندي حقوقو منابع او مصادر له هغو ارادي اعمالو څخه عبارت دی چې د حقوقي نتائجو د توليد لپاره کارول کيږي، دغه نتائج د حق يا وجيبې اکتساب، انتفاع اوضياع ده، حقوقي حوادث له هغو واقعاتو څخه عبارت دي چې په هغو کې د شخص اراده ونډه نه لري خو له دې سره سره بيا هم حوققي نتائج رامنځ ته کوي لکه مړينه، ترافيکي حادثه او داسې نور...

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د پنځم فصل پوښتنې**

۱- عندي حقوق څه مفهوم رسوي؟

۲- د عندي حقوقو حاملين څوک دي؟

۳- عندي حقوق په څه ډول ویشل کیږي؟

۴- د عندي حقوقو د حدودو مفهوم څه دی؟

۵- د عندي حقوقو منابع او مصادر کوم دي؟

۶- عندي حق له کومو لارو چارو انتقاليدلی شي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

سرچيني او اخځليکونه:


۱- دکتور کاتوزیان ، ناصر، حقوق مدنی، اعمال حقوقی

۲- دکتور کاتوزیان، ناصر، مقدمه علم حقوق

۳- ستانکزی، پوهندوی نصر الله، مبادی حقوق، پوهنتون کابل

۴- مدنی، سید جلال الدین، حقوق بین المللی خصوصی

۵- مقدر، هوشنگ، حقوق بین المللی عمومی

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د ښوونيز نصاب د پراختيا د رياست پيغام

د پوهنې وزارت د تخنيکي او مسلکي زده کړو معينيت د ښوونيز نصاب د انکشاف رياست د ټولنې د عيني او ښکاره ضرورت په درک کولو سره چې د محصلينو او شاگردانو د درسي کتابونو په برخه کې يې تخنيکي او مسلکي رشتې درلودې او لري يې، په لومړي سر کې يې تصميم ونيو، چې په ښــوونيزو پلانونو او درسي مفرداتو باندې بيا کتنه وکړي او ورپســې بيا د شاگردانو او محصلينو د درسي کتابونو د تاليف لپاره مبادرت او کوښــښ وکړي. د خدای(ج) په فضل او مرحمت سره او د ادارې او حســابدارۍ څانگې د ښــوونکو په ميړانې او همت سره د ادارې او حســابدارۍ درسي کتابونه تاليف شول تر څو په وړيا ډول د شاگردانو او محصلينو په واک او اختيار کې ورکړل شي.

د علم او معرفت له ټولو لوســتونکو، علاقمندانو، د ادارې او حسابدارۍ د مکاتبو له ښوونکو، گرانو شــاگردانو او د تخنيکي او مســلکي زده کړو د چارو له متخصصينو او همدا شــان له ټولو څېړونکو او شنونکو څخه صميمانه هيله کيږي، چې د دې کتابونو په مطالعې سره چې په لومړي ځل د ښــوونکو او د ادارې او حســابدارۍ څانگې د مســلکي غړو له لوري تاليف او تدوين شوي دي. د مســلکي، تخنيکــي او علمي مطالبــو او مفاهيمو د څرنگوالي په هکلــه خصوصاً د هغوی املايي او انشــايي اشــتباهاتو په اړه مونږ ته لارښوونه وکړي، ترڅو په راتلونکي کې وکړای شو، په همدې او نورو برخو کې گرانو شــاگردانو ته له دې څخه ښه، غوره، گټور او ارزښتناکه موضوعات وړاندې کړو.

همدا شــان له گرانو شــاگردانو او محصلينو څخه هيله کوو ترڅو د دې کتابونو د مطالعې او اســتفادې پر مهال د هيواد اقتصادي ســتونزې، فقر او وروســته پاتې والی په نظر کې ونيسي او د کتابونو په ساتنه کې کوښښ او زيار وباسي، ترڅو د ډېرو شاگردانو او محصلينو د گټې وړ وگرځي.

**پته:** د پوهنې وزارت- د مسلکي او تخنيکي زده کړو معينيت

د تعليمي نصاب د پراختيا رياست

د درسي کتابونو د چمتو کولو عمومي مديريت

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**